# تاریخ افغانستان

منشي احمد جان

THE LIBRARY OF CONGRESS
1800

P-Pus-14

Malleson, George Bruce.

(1)

# تاریخِ افغانستان

# TARIKH-I-AFGHANISTAN

WITH A FOREWORD

BY

MAJOR C. A. BOYLE, D. S. O.
SECRETARY,
*Board of Examiners, Simla.*

## OFFICIAL TEXT-BOOK

FOR THE

EXAMINATION OF MILITARY OFFICERS

IN

**INTERPRETERSHIP PUSHTU**

TRANSLATED FROM ENGLISH

BY

AHMAD JAN, PASSED MUNSHI (*with credit*)
MUNSHI OF PESHAWAR
AUTHOR OF "HOW TO SPEAK PUSHTU," AND GLOSSARIES OF
"GANJ-I-PUKHTO" AND "SULTAN-I-MAHMUD GHAZNAWI,"
"DA KISSA KHANE GAP," "HAGHA DAGHA,"
ETC., ETC.

FIRST EDITION

PUBLISHED BY
BEHARI LALL
BOOKSELLER AND STATIONER, PESHAWAR.
1930

(*All Rights Reserved*)

DS 356
.M 316
copy 2
Orien
Push

PRINTED BY
GURAN DITTA KAPUR
AT THE KAPUR ART PRINTING WORKS
LAHORE.

7 - APR 1
Copy 1963

ne 64-3006

DEDICATED

WITH PERMISSION

TO

COLONEL C. L. PEART, C. I. E.,

*Late Secretary, Board of Examiners.*

## FOREWORD

Munshi Ahmad Jan's translation of Colonel Malleson's History of Afghanistan is one of the text books for the Interpretership Examination in Pushtoo.

The chief object of language study is to acquire knowledge of the people whose language we are studying and of the countries in which it is spoken. This book will greatly assist the student to achieve that end; for on the one hand he will be reading a comprehensive history of the home of Pushtoo, Afghanistan; and on the other hand he will be learning the language.

I congratulate Munshi Ahmad Jan on his scholarly translation of the book in a style that is simple, lucid and idiomatic.

SIMLA: C. BOYLE, MAJOR
*Dated 1-8-1930.* *Secretary of the Board of Examiners.*

# CONTENTS.


| CHAPTER | | PAGE |
|---|---|---|
| I | DESCRIPTIVE ... ... ... | 1 |
| II | THE GHAZNIVIDE PERIOD ... ... | 29 |
| III | THE HOUSE OF GHOR ... ... ... | 78 |
| IV | TRANSITION TO THE MOGHOL ... ... | 89 |
| V | HUMAYUN AND KAMRAN ... ... ... | 103 |
| VI | FROM MOGHOL TO AFGHAN ... ... | 165 |
| VII | THE GHILZAI RULE ... ... ... | 210 |
| VIII | THE DURANI RULE ... ... ... | 248 |
| IX | THE BARUKZAI PERIOD ... ... ... | 323 |
| X | THE BRITISH INVASION ... ... ... | 346 |
| XI | AFGHANISTAN FROM 1842 TO 1860 ... ... | 385 |
| XII | RUSSIAN AND ENGLISH POLICY IN CENTRAL ASIA ... | 401 |

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د افغانستان تاریخ

## اول باب (۱)

### د زمکي حال

مستر ولیم ایډورډ چه په ۱۸۴۱ع کال کښې د هندوستان د حکومت "فارن اسسټنټ سکرټري" وه. هغهٔ یو "ریمیشنز آف اې بنګال سولین" نوم کتاب جوړ کړي دي. چه په هغهٔ کښې د امیر دوست محمد خان کابل ته د تلو حال لیکلي دي. وائي چه دي دغه کال د کابل لام خلاصیدو نه پس د بادشاهۍ دپاره کابل ته بیا تهٔ نو د رخصتیدو په وخت ئي ګورنر جنرل ته په فارسۍ کښې دا ایډریس ورکړ:-

"هغه وخت راسي چه زهٔ هندوستان ته راغلئ یم. ستاسو علاقي ګورم. ستاسو قلاګاني، ستاسو میخزینونه، ستاسو جهازونه ټول د صفت لایق دي. زهٔ تر کلکتي پوري ګرزیدلئ یم او ستاسو دولت، ستاسو محلونه، ستاسو منډایانو او ستاسو ټنکسالونو زهٔ حیران کړي یم. خو د دي ټولو نه چه کومه

ډېره عجیبه خبره ده هغه دا ده چه د انګریزانو غونډ هوښیار او
مور قوم هم لا کابل ته د ختو ژړه کېږي. سره د دې چه
هلته بې د کانړو او د غرونو نه نور هیڅ نشته".

ولیم ایډورډ لیکي چه "ما په دې پانړو کښ د هغو وجهو
څرګند ولو خواري کړې ده چه په هغو سره دا ملک د یو ملک
کېدو نه غیر په یوه بله خبره هم ضروري او فایده مند ښکاره
شوي وه. او لا ئې پرون خو خواه مخواه ښکاري. دا فایده
دومره لویه ده چه د ډېرو هوښیارانو او د عقل د خاوندانو دا
خیال دې چه که فیرنګیانو ته د سرحد نه پورې غاړه علاقه په
لاس ورشي نو هله د دوئ بادشاهي په هندوستان کښ پاتي
کېدې شي".

کوم ملک چه په پښتنو باندې آباد دې او د کابل بادشاهي ورته
ویلې شي. د هغه د نوږخانه ډډې نه تر نوږپرېواته غاړې پورې
"هندوکش" نوم غر او د هغه د نوږپرېواته پلو سر ښور شوي
دې. دا سرې د "بابا" نوم غر نه روان شوي دې او اتیا میل
اوږد او اتلس زر فټه اوچت دې. نوږپرېواته پلو ته چه ښایسته
ښه مېنځ لاړ شي نو دې بیا درې سره شي. مېنځنې غر ته
سپین غر او د سهیل اړخ هغه ته تور غر وائي. او د درې واړو
یو نوم د "پیرو پامس سلسله" دې. له دې ځاي نه سهیل پلو ته
کوم ځاي چه د قطب ښاخ هرې رود سیند سره لګي که چرې یوه
کرښه د سیستان د هند رچه په سیستاني ژبه کښ ورته هامون

وائي) دَ پاسَ تېره کړي او دَ دي هامون دَ يو سهيل خوا ټکي
پورې ورسوي نو دغه دَ دي ملک دَ نوَر پرېواته پوله وګڼړه - دَ
سهيل پوله يې دَ سيستان دَ دغه ټکي نه واخله نو په هلمند
او لوره نوم کندو دَ شال نوم علاقې نه تېرېږي او دَ غازي خان
ډيرو هغه ټکي ته رسېږي چه دَ غازي خان نور پرېواته او قطب
ډډو په منځ کښې دَي - له دي ټکي نه دَ وزيرو علاقې پورې بيا تر
سليمان غر (قيسه غر) پورې - بيا دَ هغه ځاي نه دَ پېښور
دَ ضلعې دَ قطب اړخ پورې او بيا دَ هغه ځاي نه دَ اباسيند
دَ غاړي غرونو او هندوکش غر پورې دَ دي ملک دَ نوَر
ختاته پوله دَه - هندوکش او دَ پيرو پامس لړ افغانستان
ته دَ قطب ډډي حد جوړوي - خو له لړ نه قطب اړخ ته هم
يوه علاقه دَه چه هغه هم امير ته ماليه ورکوي - دا علاقه دَ
پيرو پامس دَ قطب ښرانکي نوَر پرېواته يلو غاښو نه دَ دشت
ترکمان په حدودو دَ "جيحون" نوم سيند "راجه صالح" ګودر پورې
پرته دَه - دَ دي ځاي نه دَ پامير دَ غرونو لړ پورې چه دَ دي
علاقې دَ نوَر ختاته حد دَي جيحون سيند راتاو شوي دَي - دَ دي
علاقې دَ نوَر ختاته ټوټي ته بدخشان او دَ نوَر پرېواته ټوټي
ته ترکستان وائي -

دَ افغانستان سم حال دا دَي چه په کښې دَ بابا نوم
غر نه کېرچاپېر ډيري کندي کوندري دِي او دَ هغو هر
طرف ته ښکته پرته سمتو غرونو حدونه ترلي دي -

په دي غرونو کښې ټولو نه لوی "هندوکش" دَی چه د دي شوکو ته لا تراوسه بنيآدم څوي نهٔ دَی وررسیدلَی. شل یو ویشت زرَ فټَ اوچت دَی. دَ دي غر او دَ دي دَ نورخانهٔ ډډي حال بیان شوَي دَي. دَ دهٔ یوه اوچته ټوټه چه دَ کابل دَ قطب اړخ ته شروع شوي دَه. او افغانستان ته دَ قندهار او جرشک په لار تیره شوي دَه نو دَ پاغمان دَ غرونو قطار سره یوځاي شوي دَه. دَ سلیمان غر لړ دَ سپین غر نه چه دَ کابل سیند دَ هندوکش نه جُدا کوِي تیغ سهیل ته دَ پیرنکیانو دَ سرحد سره سم ځِي. دي غر ته دَ سرحد "زبردست کوهستان" وائِي چه دَ دي قطب ډډي ډکري نه دوه وارهٔ وارهٔ غرونه جوړ شوِي دِي. او بیا چه څومره سهیل ته دا غرځِي همسره دَ دوئِ شمیر زیاتیږي. ځَکه چه تر ځېنَ حدَ کوم ځاي چه "سوري" نوم سیند دَي پریکړي دَي دولس ځایه شوَي دَي.

دَ افغانستان لوي سیندونه دا دِي. دَ کابل سیند. دَ هلمند سیند. هري رود سیند. لوکر سیند. مرغاب سیند. او ارغنداب سیند.

دَ کابل سیند دَ بابا غر دَ سهیل او نورخانهٔ اړخ کښې دَ "اُنائِي" دري نه راوزِي. او په جلال آباد او خیبر دره بانډِ ځِي ځِي اټک څخه نزدي اباسیند ته پریوزِي. دَي دري سوه میلَ منزل کوِي. دَ کس طرف نه دَ هندوکش دَ سهیل اړخ او دَ ښئِي ډډي نه دَ سفید کوه غر زیمونه وررسره

یوځاي کیږي. د دي سیند په ډله کښي دا سیندونه دي:-

نوکه د سهیل ډډي نه راځي - باړه د افریدیو د غرونو نه راوزي. د سوات سیند او د قطب ډډي نه پنجشیر، الینګار، کونړ او لنډی.

هلمند سیند هم د بابا غر سهیل نورخاتهٔ څنګ نه راوزي او سهیل نورپریواتهٔ ډډي ته بهیږي دپاس ښل میل د ګرشک سهیل اړخ پوري ځي. بیا ناګمان نورپریواتهٔ ته مخه کړي او هغه خوا اوٗیا میل لار ووهي نو د قطب او نورپریواتهٔ ګټ ته وګرځي او ښایسته لږي پوري لار شي نو د سیستان په هامون کښي پریوزي. د دهٔ طول اوږدوالی اوو سوو میلو نه زیات دی. ګرشک ته چه ورسي نو د دهٔ پلن والی کم نه کم سل ګز او ژوروالی یې دري نیم ګز شي. د دي ځاي نه د سیستان تر ډنډ پوري (چه په سیستانۍ ژبه کښي ورته هامون وایي) په کښي انګوټونه چلیدلی شي. او بهٔ یې ډیري په اوبهٔ ښور لګي.

د هریرود سیند چینه د نور غر په سهیل اړخ کښي ده. د دي نه لږه ښکته کښي د بابا غر نه جدا کیږي. او نورپریواته مخ ته بهیږي د هرات سهیل ډډي ته رسي. د دي ځاي نه لږ وړاندي قطب ډډي ته راوګرځي. او چه هغه ټکي ته ورسي کوم ځاي چه د پیروپامس د لړ د قطب ډډي لګئ خلاصیږي نو افغانستان پریږدي یا د قطب او نورپریواتهٔ ګټ ته وجاروځي. او دوه ځایه شي نو د توجند په بوښته

کښې بهیږي. هرات او دَ هرات کیرچاپیر علاقه دَ دې سیند په وَلو باندې اوبه کیږي.

دَ لوګر سیند په باب څو مونږ ویلي دي چه هغه دَ کابل دَ سیند ډله کښې دَي. دَ دهٔ سره دَ یوځاي کیدو نه وړاندې په نوځنې نظر سره خاص هلته چه کوم ځاي دَي دَ غزني او دَ کابل سرکونه دَ شیخ آباد او دَ حیدرخیل په مینځ کښې پریکوي ډیر ضروري ځاي ګڼلي شي.

مرغاب سیند دَ بابا غرونو له لړ نه وُزي او نوزپریوانهٔ ودي نه ځي. او دَ "مرو" قطب او نورپریوانهٔ ګټ ته رسي.

له دوئي نه علاوه په ډیرو مشهورو سیندونو کښې یو څو ارغنداب دَي چه دَ هلمند سیند ډله دَي او دَ کوهستان دَ هغه لړ نه وُزي کوم چه دَ سهیل او نورپریوانهٔ ګټ ته دَ هغه سړک سره برابر ځي چه دَ غزني او دَ قندهار تر مینځ دَي. ارغنداب دَ غرونو دَ هغه لړ په برابر بهیږي حیث دَ قندهار قطب ودي ته دَي او دَ دې ښهر نه څو میله کُوز هلمند سره یوځاي کیږي.

بل تارنک نوم سیند دَي چه دَ غزني نه تر قندهاره پوري دَ هلمند په کنده کښې بهیږي او دَ ارغنداب او دَ هلمند دَ یوځاي کیدو نه وړاندې ارغنداب سره یوځاي کیږي.

ارغاسان سیند دَ نورځانهٔ ودي نه او دَوري سیند دَ سهیل ودي نه راځي، او دې سیند سره یوځاي کیږي.

لوَره سِیند هم چه دَ مستنک دَ کندي زیونه ورته رابهیږي او چه یو سَرئ دَ شال دَ کندي نه او بل قلات سره نزدي وتي دَي دَ دي سیند معاون دَي.

ښایسته ډیر منځ هغه څوا قطب ډډي ته کوکش. فاراه. او هاروت نوم سِیندونه دِي. چه دَ تور عز دَ سهیل ارخ نه راوُزي او دَ سیستان تر هامون پوري بهیږي او دَ هرات او دَ قندهار تر منځ لارو باندِ ډیرو ځایونو کښ ورغلي دِي. (دَ نورو سِیندونو حال لکه زوهت، ګومل او کُرمه به هلته بیان شِي چه کوم ځاي دَ هغه دَرو خبره راشِي چه دي سیندونو سره ئِ تعلق دَي)

خالص افغانستان دوه برخي دَي. دَ نورخانهٔ او نورپریوانهٔ.

دَ نورخانهٔ ټوټه کښ کابل، غزني او هغه کندي شاملي دِي چه دَ هغو په منځ کښ جلال آباد پروت دَي. دَ نورپریوانهٔ ټوټه کښ ئِ قندهار او هرات دَي. په دي ټوټو کښ هغه قامونه شامل دِي چه دَ نورخانهٔ په سرحدَئِ کښ پرانهٔ دِي. څکه چه دوئِ کښ ډیر قامونه آزاد دِي. دَ هغو بیان به جُدا راشِي.

هندوستان نه افغانستان ته چه کوم لویي لویي دَري او لاري تلي دِي هغه خیبر، کرُم، ګومل، سنګي سروَر او بولان نوم دِي. له پنجاب نه چه څوک خیبر ته ځي نو دَ قدم کلي څخه دَ خیبر دري ته ننوزي. دا کلَي له جمرود نه دري میل

نور پر پواتهٔ ته دَي. دَ قدم او دَ پيښور تر منځ هم دَ دي نوم يو ميدان دَي چه هغه له دي ځاي نه تر جمرود ۲۰۰ فټ اوچت دَي.

له پيښور نه جمرود نهٔ ميلَ دَي. دا يو وړوکَي غونډ دَ کچه قلا دننه کلَي دَي. ورڅخه دَ يوي قلا کنډرونه ولاړ دِي چه سکهانو په ۱۸۳۶ء کښ جوړه کړي وَه. دا ځاي په هندوستان حمله کونکو دپاره هيڅري دَ جنګ پړاوُ نهٔ شي کيدَي. ځکه چه دَ اوبو دپاره هر وخت دَ کابل سيند ته مُوتاز (محتاج) دَي. او دَ غرهٔ خلق دا اوبهٔ سترګه رَپ کښ بندولَي شي. قدم له جمرود نه دري ميلَ نور پر پواتهٔ ته دَي. دا دَ دري رښتنَي پاتک دَي. هلته رسيدل څهٔ آسان کار نهٔ دَي ځکه چه جمرود نه روان شي نو لار دواړه طرف ته غرونو ګيره کړي دَه چه دَ هغو نزديکت رو رو زياتيږي. دَ قدم په دره کښ ننوتو نه پس دَ کندي خولهٔ تنګيږي. دَ دروازي نيم ميل دننه دَ لاري پلن والَي ۵۰ ۴ فټ نه زيات بيا نهٔ دِي. او لا نور هم کميږي. دواړو غاړو ته غونډَي اکثر نيغي او کليپي دِي. او په بعضو ځايونو کښ خو بس له يوي ډ دي تلهٔ کيدَي شي. علي مسجد څخه دَ دواړو غاړو غرونو بانډ تلل ګران دِي. دَ دوئ اوچت والَي دَ ميدان له مَخ ۱۳۰۰ فټ دَي.

له جمرود نه علي مسجد اتهٔ ميلَ دَي. دَ دَري خولهٔ چرته خو دري ۳۰ سوه فټه دَه او چرته خو دومره تنګه دَه چه څلويښت ۴۰

فتہ نه هم زيانة نۀ ښکارِي. دَ عليَ مسجد دَ قلا سره لاړه ډيره تنکه دَه. عزونه ډير کلپ او شارِ دِي. دَ دويُ دَ اړخونو نه اوچت اوچت کمتان راوتي دِي. دَ دويُ په منځ کښې چه بنده کورِي نو دا يقين نۀ شِيَ کولَي چه په دي به څوک ختَي شِي. جماعت چه دَ هغۀ په نوم بانډِ دا قلا مشهوره دَه ښکته په يوه کنډه کښې پروت دَي. پخپله قلا دَ سرک په سهيل نوَرپرېوانۀ کټ کښې پرته دَه. يو کمزورَي ديوال دا هم دَ دي غرۀ دَ يوي ورِي عزنډِ قلا سره کنډِي. دَ دي دوارو په سهيل او نوَرپرېوانۀ ډډو بانډِ دي عزونو نه هم چه په کومو دا پرتي دِي اوچت عزونه ولاړ دِي. له چري فرض کړو چه عليَ مسجد نه په څنک څوک تيرېدَي نۀ شِي نو بيا هم په دي ځاي يو تکره دښمن څوک نۀ شـِي ايسارَولَي. زۀ به اوس دا ثابته کړم چه بي له دي نه بـله لار هـــم شته.

دَ عليَ مسجد نه وړانډِ دَ دي درِي هم هغه حال دَي. نيم ميل پورِي دَ هغي په پلن والي کښې هيڅ فرق نۀ دَي راغلَي. دي نه پس پلن والَي يَي زياتيږِي او په عونډو هم څني څني ځاي تلۀ آسان نۀ دِي. دَ عليَ مسجد نه نهۀ ميلَ وړانډِ دَ لنډي کنډي سره دَ دَرِي پلن والَي يونيم ميل شِي. له دي نه وړانډِ دا پلن والَي کميږِي کميږِي صرف لس فتہ يا دي نه هم کم پاتِي شِي. له دي نۀ نيم ميل وړانډِ دَ لنډِي خاني دره دَه. دَ دي پلن والَي ۱۴۰ فتہ دَي. عزونه او بيا هغه

غرونه چه نورپرېواتهٔ کښې دي هغه شان ډېر کلک دي. دي
ځای نه د ډکې دَرې پورې ۳۰۰ نه ۲۰۰ فټه پورې لار پلنه
دَه او غرونه هم هغسې نېغ تلي دي. لار د سِیند په تل
تېره شوې دَه او بې د لنډي‌خانې د دَرې نه هر ځای ختل
کوزېدل آسان دي.

د خیبر دَرې نه اګر که ګرانه جَره دَه خو سرې په ډډه د
تاترې په لار تلې شي. چه د جمرود نه نهه میلهَ قطب ته په
غرونو کښې ننوتې دَه او د خیبر قطب ته ځي په ډکه کښې د
جلال‌آباد لارې سره یوځای کېږي. بې له دې ته د آبخانې. قرابا
او شاهباګادې په لارو کښې هم علي‌مسجد نهٔ راځي.

د خیبر په نورپرېواتهٔ کښې د کرمې د سیند لار ځي. دا لار
د تل نه شروع کېږي. چه له کوهاټ نه ۲۶ میلهَ سهیل
نورپرېواتهٔ ته او له پېښور نه ۳۷ میلهَ سهیل ته پروت دَی.
له بنوں نه دا ځای ۲۴ میلهَ غن قطب ته دَی. له تل نه
کابل ۱۲۸ او غزنۍ ۱۹۲ میلهَ دَی. د کرمې له قلا نه چه کومه
لار تلې دَه تر ۵۰ میلهَ پورې په یوه آباده علاقه کښې تلې دَه.
خو بنده په کښې ناجوړه کېږي. دا قلا مضبوطه دَه خو اوسنو
توپخانو ته نهٔ شي ټینګېدَی. دا ځای لږ مشهور دَی ځکه چه
د غوریه خاندان په زمانه کښې دا د صوبې د ګدَۍ ځای وهٔ.
او د جنګ په وخت کښې اوس هم هغه شان ضروري ځای
دَی. د کرمې د قلا نه تر حیدرخیلو پورې کوم ځای چه دا لار

دَ کابل او دَ غزني لار پريکوي دَ ١٢٠ ميلونو مزل دَي. دي ځاي نه غزني شل ميلَ دَي. کابل ته چه کومه نيغه لار ځي هغه دَ کرُّي نه ٨٠ ميلَ په کوشي بانډ خلاصيږي. دَ کرُّي علاقه دَ افغانستان يوه سر سبزه حصه دَه.

دَ کرُّي نه پس دَ گومل دَره دَ يادَولو لايقه دَه. دا دره له ډيره اسمٰعيلخان نه غزني او قندهار ته ځي له ډيرو نه تر ټانک پوري چه دَ هندوستان په سرحد کښې دننه دَي دَ ٤٢ ميلو مزل دَي. دَ گومل دَ دري خولهٔ له ټانک نه ٤٠ ميلَ نوَرپريوانهٔ ته دَه. دَ دري لار دَ گومل سيند په څوا کښې تر آرسوک پوري چه په دي سيند آباد دَي تلي دَه. له آرسوک نه تر غزني پوري کومه لار چه دَ محسودو او دَ وزيرو دَ علاقي په غاړه باندي تلي دَه په دي ١٦ پړاوَ دِي. له آرسوک نه قندهار ته ځ په سهيل نوَر پريوانهٔ لار تلي دَه په دي کښې ١٨ پړاوَ دِي. په دوارو لارو کښې دَ خوراک څښاک سامان ډير دَي ځو دَ غزوو له ددي نه زړهٔ ببغمَ نهٔ وِي.

دَ گومل او دَ بولان په منځ کښې چه نوري کومي لاري دِي. په دوئ کښې خالي دَ سخي سرور لار دَ بيان لايقه دَه.

سخي سرور له غازي خان ډيرو نه ٣٥ ميلَ سهيل نوَرپريوانهٔ ته دَي. له دي ځاي نه دَ دَري عن تر آخر ځاي ارکني پوري دَ ٦٧ ميلو مزل دَي. دا دَره تنګه او سخته دَه دَ ميک گريګر صاحب خبره چه په دي لار پوُره بارکړي اوښ

نهٔ شِي تلَیَ- او دَ نیم کړِي بارکړِي اوښ تیریدل هم څه قدر ګران دِي- که دوه سوارهٔ دا وُ وائيُ چه مونږ به برغد له دي دي دري نه ووزُو نو دا هیڅري نهٔ شِي کیدَي- خواه مخواه به آسونو نه کوزیږِي بوزِي به یُ- دَ دري له خولي سنه دَ کهیتران علاقي ارکِتي کلِي پوري دَ خوراک څښاک هیڅ سامان نهٔ بودیږِي

ما اوریدلِي دِي چه دَ غازِيَ خان ډیرو انګریزِي حاکمانو یو دَ تلو راتلو سړک دَ دي دري نه پاس ایستلَیَ دَي- دَ چرچر دَرِي دَ پاسَ هم دَ شام تر میدانَ پوري سړک جوړ شوَي دَي- له دي میدان نه دَ سَخِي سرور دَري پوري علاقه کوشاده دَه- او له راجنپور، متهن کوټ نه تر تل چتیالي او پیشینَ پوري دَ تلو راتلو ښهٔ سړک جوړیدَي شِي- اګر که انګریزان به دي لار نهٔ دِي تیر شوِي خو دَ وطن خلق یُ ډیر صفت کوِي-

دا خبره یاده لرل پکار دِي چه دَ دي پورته لارو نتوله دَ نوَرِپربوانهٔ حصه دَ کاکړو پښتنو په زمکه تیره شوي دَه- دَ نوَر خانهٔ حصه دَ لغارِي بلوچیانو او کهیترانانو په علاقه تیره شوي دَه- دا خلق نیم بلوچ او نیم پښتانهٔ دِي-

اوس دَ بولان دَ دري حال لیکم- دَ دَري په خولي کښ دادر نه نږدي دوه لاري دِي- یوه راجنپور نه په ډیره بګراک او سنګلولا بانډِ تلي دَه او بله له سکهر نه په جیکب آباد تیره

شوي دَه - دَ بولان دَري په باب دومره وينا ډيره دَه چه دَ هر قسم فوځ تلو راتلو دپاره له دې لورو درو نه اَرته او آسانه دَه. او په کوټته دَ قبضي کولو په وجه سره ځمونږ دَ لاس لاندې دَه.

اګر که دَ نورو وَړو دَړو دَرو په باب هم ډير څه ښکلي شي خو ځما په خيال دا به ډير وي چه دَ هغو لارو عام حال وُ ښودلیَ شي چه په کومو انګريزي فوځ ته تلل پيښيږي.

دَ کوټتي دَ قبضي په وجه دَ بولان دري نه هغه ځوا کوم چه افغانستان پلَو دَي انګريزي فوځ ته يو داسي ځاي په لاس ورغلیَ دَي چه هغه له هغه ځاي نه دَ اَمير په صوبو کښ دَ قندهار او غزني په ډير مضبوط ځاي باندې حمله کولیَ شي.

اوس زهٔ دَ افغانستان دَ اوسيدونکو او دَ هغه قامونو حال ليکم کوم چه په دې پورتنو درو باندې پرانهٔ دي - په دې باب کښ مونټسټوارټ الفنسټن فيرير رچه دَ هرات دَ عبد الله خان دَ خولي ډيري خبري کوي) او بيلو او نورو دَ کتابونو خاوندانو ډير څه ليکلي دي.

دَ عبد الله خان او دَ نورو مصنفانو په خولي دَ فيرير دا خيال دَي چه پښتانهٔ دَ لسو ورک شوو قامونو رچه بخت نصر سره يُ په بابل باندې جنګ بابيليَ وهٔ او تبتيدلي وُو) اولاد دَي. او دَ دوئ شجره نسب دَ بني اسرائيلو ساؤل نوم بادشاه سره لګي - په دې خبره سر وليم جونز هم اَمنا کړي دَه - ليکن خارکف ډوسن نوم پروفيسر بيس له تحقيق نه دا خبره رد کړي

دَه۔ مونستوارت انفستن دا راي داسي ښکاره کړي لکه روميان دَ ترَوجن دَ اولاد نه۔ دَ عبدالله خان په مسئله باندِ پروفيسر ډوسن په ټائمز اخبار کښ ډيره زورَوره شُبه کړي دَه۔ لکه چه هغه ليکي:۔

که چرې دي خبرې ته فکر وکړې شي نو سراسر به دروغ ښکاره شي۔ ولي چه سال له بنجمن نوم قام نه وه او دا قام په هغه لښو ورکو قامونو کښ نهٔ دي۔ هو، شکلونو او مُشادو باندِ يې بنده غُليږي۔ خو چه ژبي ته يې وکورِي نو دا شک يې لري شي۔ دَ پښتو په ژبه کښ دَ عبرانۍ ژبي هيڅ نښه نهٔ شي مونْدَي۔ او که دا فرض کړُو چه په دومره مُدَه کښ ټولو پښتنو خپله ژبه بدله کړي دَه نو دا دَ منلو خبره نهٔ دَه:

دَ اصل پښتنو قامونه بي شميره دِي۔ پټهانران چه ورسره کړي نو دَ دوئ ټوله آبادِي ۲۳۵۹۰۰۰ دَه۔ له دوئ نه علاوه هغه مسلمانان چه پښتانهٔ نهٔ دِي ۱۲۵۰۰۰۰ دِي۔ دَ بل دِين خلق ۵۰۰۰۰ دَي۔ دَ هندوکش قامونه چه کوم قلنک ورکوي ۸۰۰۰۰ دِي۔

پښتانهٔ پيرَئ وهونکِي خپل قامونه څلور څايه کوِي او وار په وار يې دَ عبدالرشيد څلورو زامنو سرآبن، غرغشت، بيټني او کارله سره لکوِي۔ خو دَ پښتنو خبرو باندِ اعتبار نِشته۔ دا خبره څرگنده دَه چه اگر که دا پورته نامي په قامونو کښ مشهورِي وِي خو دَ دوئ تقسيم هيڅوک نهٔ پيژنِي۔

د افغانستان لوي لوي قامونه دُرانِي، غلزِي، کاکړ، وردک، پاوَنده او بردُرانِي دِي - بيا د دي تولو وړي وړي شاخکي دِي په دوئ کښ دُراني او غلزِي تولو نه زيات زورور دِي - دُراني څو څکه مضبوط دِي چه هغوئ بادشاهئ کړي دِي او غلزِي څکه تکړه دِي چه د هغو شمير زيات دَي - او سرتيزه دِي.

دُرانِي د افغانستان په سهيل او سهيل لوړپريواته کښ دير دِي - الفنستن د دوئ علاقي پنځهٔ ځاي برخي کوِي - د دوئ په قطب کښ د پيروپامس لړ پروت دَي - په لوړپريواتهٔ کښني ئې يو رنګيستان له ايران نه جُدا کوِي - په سهيل نورپريواتهٔ کښ ئې سيستان پروت دَي - عَن په سهيل کښ ئې شوَرابک او خواجه عمران دَي - او لوَرخاتهٔ کښ د دوئ علاقه د غلزيو علاقي سره جنګيدلي دَه - داسي د فرات او د قندهار تر مينځ تولي علاقه او څه قدرِ قندهار هم د دُرانو په علاقه کښنني شامل دَي.

د دي قام اوَلني حالونه څو نهٔ دِي معلوم - د احمدشاه تر زماني پورِي چه هغهٔ د پاڼي پت دريم جنګ وکتهه دا خلق د ابدال په نوم بانْدِ رچه چا د دي خاندان بنا کړي دَه) ابدالِي ياديدل - وائي چه احمدشاه يو خوب وليد نو په هغه وجه ئې خپل لقب "شاهِ دُر دُران" کيښنود - او د قام نوم ئې له ابدالِي نه دُرانِي کړ - د دُرانو دوه زيلي دِي - زيرک او پنجپا - دا دواړه د ابدال د دوهٔ ځمسو نومونه دِي - د دي زيلو نه بيا نهه[۹]

ټبرَ جوړ شوي دي. څلور له زيرک نه او شپږ له پنجپا نه.

په دي ټبرو کښ پاپلزي له ټولو نه ډير سر تيز دي. هم دَ دي ټبر دَ لويي زيلي سادوزي نه دَ افغانستان حمتدار بادشاهان په اولسمه او اتلسمه صدۍ کښ پيدا شول. داسي ښکاري چه له اوله نه هم دي قام بادشاهۍ کړي دي. څکه چه دَ ايران دَ صفويه ټبر يو وړښي بادشاه دَ دهٔ دا حق منلي دي. پښتانهٔ دَ دي قام ډير لحاظ کوي. نهٔ دَ دوئ وژل روا ګڼړلي شي او نهٔ بغير دَ خپل ټبر نه دوئ ته څوک سزا ورکولي شي. دَ ابدالي قامونو سردار هم په ځا سادوزي بانډ دَ مرګ حکم نهٔ شي کولي. نوري ډيري خبري دي خو اوس وخت داسي راغي چه دا لحاظونه ئي کم او ډير کم کړل.

دَ سادوزو نه پس بيا دَ بارکزو دَ ټبر مرتبه ده. دوئ له سادوزو نه په شمير کښ زيات دي. دَ دي ټبر ډيره مشهوره زيله محمدزئ ده. او هم له دي زيلي نه دوست محمدخان وهٔ. چه هغهٔ سدوزي خاندان له تخت کوز کړ. او هم له دي خاندان نه شيرعلي خان دَ افغانستان امير وهٔ.

دي کتاب کښ ځاي نشته چه دَ دُرانو دَ ټولو زيلو حال په کښ بيان شي. تش دومره وينا ډيره ده چه په پښتنو کښ دوئ له ټولو نه ساهو، دَ هرځا خوښ او دَ لوي زړهٔ خاوندان دي. او دَ دي خاندان دَ هر يو سړي خبره منلي شي.

دَ دُرانو نه پس غلزي دَ يادولو لايق دي. بلکه په څنو

ځنو ځرو کښې هڅوئ دَ دُرّانو دپاسه دِي - غلزِي په ضد پُوره، او دَ بدل اخستو مرِّي، او دُرّانو ته په سپائِئ کوري - څو چپا بل چا سره چه جګړه پيښه شي نو ډير په وفادارئ سره دَ دوئ ملګري وِي - دَ افغانستان په تواريخ کښې غلزو لوي لوي کارونه کړي دِي او کوي به - دَ دوئ په علاقو کښې غزني او کابل شامل دِي - دَ دوئ علاقي دَ قندهار دَ قطب له ميدان سنه شروع کيږي او دَ سليمان دَ لړ نوږ پريواتهٔ پلو دَ کابل ستر سِپند پوري شوري شوي دِي - که چري دَ دوئ علاقي دَ څلورو برابرو ضلعو يو شکل ومنلئ شي نو دَ دې اوږدوالئ ۱۸۰ او پلنوالئ ۸۵ ميلَ دَي - ځني کندي چه په دوئ باندِ آبادي دِي تر هندوکش او سپين غر پوري تلي دِي.

غلزو په پخوانئ زمانه کښې لوي لوي کارونه کړِي دِي دَ تيري شوي صدئ په اول اول کښې هڅوئ ايران واخست او دَ اصفهان په تخت ئي خپل يو بادشاه کښينوهٔ - عثماني فوځونو ته ئي نقصان ورکړ - دَ دې تبر دريم بادشاه له ايران نه نادرشاه ووپست څو غلزِي په دې خبره نااميدَ نهٔ شول دَ دوئ يو سردار عبدالرحيم خان دَ ايران دَ تخت اخستو کوشش وکړ خو قسمت ئي نهٔ وهٔ - دَ دهٔ دې نامرادئ هغه سپک نظر هم دفع کړ چه غلزو به دُرّانو ته کاوهٔ -

کوم رقابت (ترکيني) چه ورښي پتول قام کښې بنور شوي وهٔ اوس دَ ځان ځان خپلو معاملو کښې ځرګنديږي - هغوئ

دَ خپل حریف قام دَ سردار پواڅي بادشاهي نهٔ مني بلکه دَ بادشاه دَ ټولو نه زیات خیرخواه او وفادار او ورسپي تلونکي دِي.

کاکړ دَ افغانستان سهیل نوَرحانهٔ کُټ ته دَ ښلو مِیلو په څلورګُټه علاقه کښ آباد دِي- دَ دوئ په صورتونو او خویونو کښ بالکل غرسه نوَب دي.- دَ دوئ په ځپل دَ تل ځیتالي لار چه هندوستان ته تلي دَه ډیر کلونه بنده پرته وَه.- دَ دوئ ډیري وري ټبري دِي چه دَ یو سردار دَ حکم لاندِ هم نهٔ دِي بلکه ابېر هم نهٔ مني.

وَاردک په هغه آبادو کندو کښ اوسیږِي چه له دریو غارو نه دَ غلزو اَطه کښ راګیري دِي- او نوَرپریواتهٔ ته ئې غوَر نوم غرونه دِي- هغوئ له دي نورو نه علجز مزاجَ حکم منونکي دِي- او زمینداري کوِي-

پاوندَه سوداګر پیشه سپاهیان دِي- په اندازه ۱۲۰۰۰ - هر کال دوه ځلي دَ دوئ کاروان غزني نه هندوستان ته راځي- او دَ سوداګرئ سامان واخلي نو لار دَ توري په زور صفا کوِي او واپس ځي- هغوئ په مینځني ایشیا کښ دننه دَ سوداګرئ ځایونو لکه هرات، قندهار، کابل او بخارا کښ هم سوداګري کوِي- هغوئ دَ ځپلي سوداګرئ هغه لار شرِي کومه چه له نن نه څلور سوَ کالَ ورښتي وَه-

باراکچي په شوَرابک کښ چه دَ خوجه عمران لر او پیشین په مینځ کښ دَ شپیتو مِیلو څلورګُټه علاقه کښ آباد دِي- هغوئ

ساده خلق دَي- او ډیر اوښان ساتِي چه دَ یوي کار تر نه اخلِي.

په پیښین توتارین آباد دِي. دَ دوئ لوي کسب زمینداري دَه - هغوئ په غوایانو کار کوِي اگر که اوښان هم دَ هغو په علاقه کښې ډیر دِي. دَ پیښین کنده شپیته میلَ اوږده او دیرش میلَ پلنه او شیرازه دَه. دَ تارین پښتنو بوه زیله سپین تارین نوم هم دَه چه دَ هغوئ علاقه له پیښین نه تر سلیمان غرَ پوري دَه په دي علاقه کښې دَ ژاږورا اوږده کنده او دَ تل چتیالي کوشاده میدانونه شامل دِي- اوسیدونکي يُ تورزن او بي آزار دِي-

هزاره او ایمک دَ افغانستان دَ قطب او نوَر پریوانه- علاقو کښې تر هرات پوري آباد دِي. نسل يُ تاتاري دَي. دَ هغو زړونه ساده او له پښتنو ډیربل شان دِي. دَ مخ په کاسو کښې دَ چینیانو په شان دِي. اگر که مسلمانان دِي خو له شیعه فرقي نه دِي. دَ امیر تابعداري هم کمه کوِي. له اصل نه مغل دِي - دَ دواړو قامونو ښځي ښایسته دِي او مخ پرېنډي گرزِي.

له دوئ نه علاوه په افغانستان کښې دَ ایراني نسل ټبر قزلباش نوم اوسیږي. قزلباش په ښهرونو کښې وِي او په میانه حالو خلقو کښې ډیر پوهیدونکي هُم دوئ دِي. له پښتنو نه دوئ په علم کښې ډیر زیات دِي. دَ دوئ دَ هوښیارتیا دا ثبوت دَي چه دَ افغانستان په توپخانه کښې دوئ ډیر بهرتي کیږي.

په لاندِ درجه کښې هندکي دِي چه له هندوستان نه راغلِي دِي او دلته آباد شوي دِي- له دوئ نه هم لاندِ درجه جاټ دِي

چه دَ پو مسلمان تبر جتانې شاخ معلومیږي. قزلباش اکثر حکیمان او سوداګر دي. هندکیان صرافان او جاټ زمیندار، بهنګیان، او ډمان دي.

اوس زهٔ دَ هغه قامونو خبره کوم چه دَ افغانستان په قطب نورخاتهٔ کښ آباد دي. او په هغه علاقو کښ اوسیږي چه دَ هندوکش، اباسین، سالټ رینج او دَ سلیمان غر په مینځ کښ پرته دَه. دَ قامونو عامه نامه بردُراني دَه خو دوئ ډیر په خپلو خاصیتونو مشهور دي.

زهٔ دَ دوئ بیان وار په وار دَ نورخاتهٔ دَ خلقو نه اخلم او دَ نورپریواتهٔ تر خلقو پورې به ئې رسوم.

دا خبره یاده لرل پکار دي چه څمونږ دَ قطب او دَ نور پریواتهٔ سرحد هغه کرښه وړه کړښه دَه او دَ هغه غرونو سره تلي دَه چه مینځنۍ کنډه له اباسین نه جُدا کوي. دَ دي غرونو په نورپریواتهٔ لمنه کښ چه کومې غونډۍ آبادي دي هغه دَ امیر رعیت دَي خو دَ نورخاتهٔ په لمنه اوسیدونکي خلق بالکل آزاد دَي.

دَ کاغان کنډه شل میلٔ پلنه ده او دَ کشمیر او دَ کوهستان دَ آزادو علاقو په مینځ کښ پرته دَه. هغه څمونږ دَ نورپریواتهٔ دَ سرحد آخره پوُله دَه. دلته چه کوم قامونه آباد دي هغوئ دَ سیند په نورپریواتهٔ کښ په نورَ غر بانډ اوسیږي دا خلق اکثر حسن زي او کوهستانیان دي او څه چغرزي او

سواتیان هم دِي- چه له ګیر چاپیر غونډو نه راغلي دِي دلته آباد شوي دِي. دوئ له دوه وُ نه تر دریو زرو پوري ملاتړ ویستې شي- خو دوه ځلي دا خبره ثابته شوي دَه. چه دوئ دَ جنګ داسي ډیر مړني نهٔ دِي.

دَ کاغان دَ لانډ دَ اباسیند نوَر پریواتهٔ ته دَ یوسفزو علاقو کښې نیغ دَ هزاري مخامخ او دَ پیښبور دَ کنډي ګټ باندِ دَ مهابن غر پروت دَي- له کومي ضلعي نه چه دا غر شروع شوَي دَي، هغه دَ تناول دَ علاقي په غاړه باندِ دَه- دَ ورسره علاقي رئیس سرکار ته قلنګ ورکوِي او دَ دهٔ دَ کډیُ ځاي امب دَ اباسیند په غاړه باندي دَي. دَ مهابن په نوَر پریواتهٔ اړخ باندِ امازي آباد دِي- دوئ په اندازه سره ۱۲۰۰ جنګیالي ځوانان تیارَولَي شِي- دَ دي غر قطب ډډي ته دَ اُتمانزیو ۱۲۰۰ جنګیالي اوسیږِي- دَ سهیل اړخ باندِ چه هغي ته ښکته دَ ګوسپزو میدان دَي جادون آباد دِي- چه په وخت باندِ ۲۵۰۰ ملاتړ تیارَولَي شِي-

دَ مهابن دَ لړ نه نیغ قطب ته چمله نوم کندَه دَه چه دَ ملکي تقسیم په لحاظ باندِ دَ بنیر یوه حصه دَه او دَ ګورو غر یوه ښیه دا دواړه یوځاي کوِي- دَ یوسفزو له میدان نه چملي ته ډیري لاري تللي دِي- دَ بتولو نه ډیري آساني لاري دَ امبیلي او دَ ملندري دِي- دَ دي ځاي خلق دَ یوسفزو تبر سره تعلق لرِي- دَ دوئ دَ غازیانو دَ شمیر ۶۰۰۰ اندازه شوي دَه-

هم په دي خلقو کښې دَ ستانې وهابیان آباد دِي. دوئ په ستانه کلي کښې اوسیږي او دَ انګریزانو لوي دښمنان دِي. په سنه ۱۸۶۳ کښې دَ امبیلې لام په دوئ یاسِنِ شوَي وهٔ. دوئ ټول هندوستانیان دِي او ۱۲۰۰ مجاهدِین دوئ څخه شته دَي.

دَ بُنیر په قطب کښې دَ سوات کنده دَه چه هلته دَ اکوزو دَ یوسفزو زیلي آبادي دِي. دَ سوات ارته کنده ۷۰ میلَ اوږده او دَ یوڅو سوؤ ګزو نه ئې چه واخلي تر لسو میلو پوري پلنه دَه. دَ دي دَ سهیل نورپریواته ټوټه دَ بُنیر له سرحد نه دَ سوات تر سِیند پوري تلي دَه. غرونه ئې دَ برش له علاقي نه جُدا کوي. دَ دي سِیند سره جُخته کنده له غرونو نه وتي دَه دَ یوسفزو میدان سره یوځاي شوي دَه. دلته ۱۱ دَري دِي دا دَري ئې له میدان سره یوځاي کوي چه له هغو نه مورا، ملکنډ او شاه کوټ آساني ګنړلَي شِي. ډاکټر بیلو په یوسفزیو کتاب کوټي کښې لیکي چه „له قطب او نورپریواته دِدي نه په هندوستان باندِ حمله کونکو دپاره سوات ډیره پکار علاقه دَه. په دي علاقه کښې دَ باجوړ دَري او دَ هندوراج دَري نه تر کونړ پوري دَ جلال آباد او دَ کابل لار تلي دَه. سلطان سکندر او بابر بادشاه دواړه هندوستان ته په دي لار راغلي وُو. دَ مغلو او دَ غزنوِي فوځونه هم اکثر په دي راغلي دِي.“ دَ سوات دَ کندي ابادِي یو لکه او باجوړ او دِیر چه ورسره

کړي نو دَ دي ځاي او سيدونکي ۱۸۰۰۰ غازيان جمع کولَي شِي.

دَ کابل او دَ سوات دَ سِيند په مينځ کښ دَ پيښور قطب او نورپرپوانهٔ ته دَ مهمندو علاقه دَه. ښيلو وائيِ چه دَ دي سِيندونو په مينځ کښ چه کوم ټيټ او برښد غرونه دِي، هغويُ دَ قطب ډډي ته چه شروع شوِي دِي دَ مور نوم غر يوري چه دَ مهمندو او دَ باجوړ دَ ترکيلانيانو سره پوله هم دَه تلي دِي. دا غونډئِ دَ کابل له طرف نه دَ جلال آباد په ميدان او دَ کونړ په کندي ختي شوي دِي. او دَ پيښور له ډډي نه دَ دُواوي ميدان سره رچه دَ سوات او دَ کابل دَ سِيندونو په کُنج کښ په يوه زاويه کښ راګير دَي) يوځاي کيږي. سهيل ډډي ته مهمند دَ غرونو په هغه لړ باندِ آباد دِي چه دَ کابل دَ سِيند په ښئيُ غاړه باندِ تلي دَي. دا سِيند چه دَ مهمندو په علاقه باندِ تيريږي نو څکه بالکل دَ دويُ په قبضه او په اختيار کښ دَي. دَ آبخاني او دَ قراپاچن لاري چه دَ هغو ذکر وړنبي شوَي دَي له پيښور نه جلال آباد ته هم دَ دي مهمندو په علاقه تلي دِي. په دي لارو کښ دَ عليِ مسجد قلا تهٔ راځي. دَ مهمندو دَ کډيُ ځاي لالپوره دَي. هغه دَ خيبر دَ دَري نورپرپوانهٔ پهاټک ته مخامخ او دَ کابل دَ سِيند په کسه غاړه آباد دَي. مهمند ډير زورور دِي. دَ دوي شپږ قام دِي. تارکزِي، هوتزِي، بايزِي، خوايزِي، عثمان زِي او داوُزِي. دَ دويُ دَ غازيانو دَ شمير ۱۰ نه تر ۱۲

زرو پوري اندازه لګیدلي دَه. دوئ دَ روپو په طمع پره دار کیدَي شي. میک کراکر صاحب لیکي چه دَ پښتانۀ په شان په خپل عزت باندِ ډیر غاوِرَ دِي خو دَ روپو حرص دَ دوئ له پښتانۀ نه څه کم نهُ دَي. او په دي کښ هیڅ شک نِشته چه دَ روپو په لالچ کښ دَ چا په مرګ، په حرځولو او په تیر ورکولو به هیڅ صرفه وُ نهُ کړي. یو وطنِي افسر چه دي خلقو سره ډیر بلد وهٔ رښتیا ویلي دِي چه "تهٔ په خپله سترګه کښ روپئ کیږده نو بیا دَ نر یا دَ ښځي کوم څ چه غواړي ګوره". مَهمند هسي په نوم دَ امیر رعیت دِي. مالیه نهٔ ورکوِي او په رِښتیا آزاد دِي.

دَ کابل دَ سِیند او دَ پیښوار دَري په منځ کښ چه کومه دَ غرۀ علاقه دَه چه دَ سپین غر دَ نورخانهٔ غونډو نه کیر چاپیر دَ کرُمي تر کندي تلي دَه په دي کښ آفریدِي، ارکزِي زومښت، پښتانهٔ، او توري آباد دِي. دَ افریدِو علاقه دَ کابل دَ سِیند ښئ غاړي نه شروع کیږي او څن سهیل ډډي ته ۱۵۰ میلَ پوري دَ انګریزانو علاقي سره جُخته تلي دَه. دَ افریدِو دَ علاقي یوه ښپه پیښور او کوهاټ شلوِي څي. په دي کښ یوه دره دَ کوهاټ پرته دَه چه دَ هغي اوږدوالئ ۱۵ میلَ دَي. او بلن والئ ۴ میلَ. مونږ افریدِو ته څه قدرِ ماجب دَ کال څکه ورکوُو چه په دي دَره څمونږ تلهٔ راتلهٔ آزاد وِي. خو انتظام سم نهٔ دَي آفریدِي دَ لاري

جوړولو اجازت نهٔ راکوي ـ لار اگر که نهٔ ښکنزنه دَه او نهٔ سخته خو ښاي په ښاي لويو گټانو بنده کړي دَه . دَ افریدیو کاروانو څو ځلي پيرنگيان جنګ ته راوُچت کړي دِي . او ډير ځلي په دوئ باندِ لامونه تړلي شوِي دِي . آخر لام ئي دغه وهٔ چه له نن نه يو کال وړښي دَ جواکي په افریدیو تړلي شوي وهٔ . دَ دي خلقو دَ کوهاټ دَ دري دَ غونډي توُرخانهٔ قلا باندِ قبضه دَه - له دي ښاي نه تر کوهاټ پوري دَ توپو وړلو ښه لار دَه .

آفریدي ۲۰۰۰۰ غازيان دَ جنګ ميدان ته راوستي شِي دوئ دَ سرحد په ټولو قامونو کښ وسله دار جنګيان پښتانهٔ دِي او دَ کابل له امير نه بالکل آزاد دِي .

دَ آفریدیو همسایه ارکزي هم کنړ قام دَي او لــه آفریدیانو نه سهيل ته پراتهٔ دِي - دَ دوئ علاقه له دي ښاي نه دَ سپين غر توُرخانهٔ او سهيل برانکو باندِ دَ کرُمي تـر کندي پوري تلي دَه - او دَ انګريزانو علاقي سره رُوړي راس سوداگري کوِي .

زوميښت ، افغان او توِري دَ پوار دري پوري دَ کرُمي په کنده کښ آباد دِي او دَ جنګ په وخت کښ ۸۰۰۰ ملاتړ ميدان ته راوستي شِي .

دَ دوئ نه پس دَ وزيرو حال دَ ليکلو لائق دَي . دوئ دَ اباسِيند په دي ډډه توُرپرِواتهٔ ته ټل نه رچه په ميرانزو

کښې پروت دَي) دَ ګومل تر دَرې پورې آباد دِي - دَ هغوئ دَ دَرې په دواړو ډډو باندِ قبضه دَه - دا دَره دَ افغانستان او دَ مینځنې ایشیا او دَ هندوستان دَ سوداګرئ لویه لار دَه - وزیر ۲۰۰۰۰ غازیان جمع کولَي شِي.

دَ وزیرو نه دي څوا شیراني او اشتراني آباد دِي. شیراني په تخت سلیمان یا قیصرګډه او دَ هغه غر دَ لمني په غونډو کښې اوسیږِي - دَ دوئ دَ غازیانو شمیر ۴۰۰۰ دَي. کسب ئې زمینداري او ماري داري دِي - هغوئ اکثر په خپلو همسایه وُ باندِ مت چلوِي - دَ دوئ په علاقه کښې زارکاني دِي چه له هغه ځاي نه لوئي لوئي قافلي راوانیږِي.

اشتاراني دَ تخت سلیمان دَ سهیل نه دَ ډیره اسمعیلخان دَ سرحد خوَرِي نوم دَرې پورې دَ سلیمان غر په لمن باندِ آباد دِي دَ دوئ دَ غازیانو شمیر ۱۰۰۰ دَي - دَ دوئ په سهیل کښې بلوڅي آباد دِي چه څه قدرِ آزاد دِي او دَ انګریزانو په سرحد کښې اوسیږِي.

ډاکټر بیلو چه څه مُدَه ئې دَ هندوستان په سرحد باندِ ډیر خدمتونه کړي دِي څکه په دي باب کښې دَ هغهٔ راي ډیره رښتیا ګڼلَي شِي - دَ سرحد دَ قامونو په باب کښې هغه لیکِي چه :-

"دَ سرحد عام اوسیدونکي بالکل غرسه دِي رځني په کښې له څنو نه کم دِي) او پُوره جاهلان دِي - په پیداوښت کښې

ځنګليان دِي. او په کسب کښې داړيمار. بغير له زميندارئ او له ګوارو څرولو نه په بل څه کار نهٔ پوهيږِي. په خپله علاقه کښې دَ حالم دَ حکم لانڈِ نهٔ دِي. او مدام يُ دَ يو بل سره جګړي وِي. او دَ خپلو همسايهوُ سره په دشمنيُ وِي. مړکونه او لوُټ دَ دويُ لوبي دِي. تالان او بدل اخستل دَ دويُ شغل دَي. دَ دويُ دي شان ژوند په دويُ کښې عجيبه خاصيتونه پيدا کړي دِي. دَ دويُ طبيعتونه دَ نيکو او دَ بدو يوه عجيبه ګُتاوَه دَه:

"لکه چه څومره دويُ خواړيکښې، توُرزن او ننګيالي دِي. دومره چلوَليان، بيوفا او نګکان هم دِي. ځينې ډير شوُمان دِي خو ميلمه دوست او دَ فقيرانو په باب سخيان دِي. که څوک ورشِي او دَ سورِي لانډِ يُ شِي، نو دويُ ي په سرلاس کيږدِي او دَ هغهٔ په ځاي خپل سرونه ورکوِي. ليکن غريب داروَي ډير په بيرحمئ سره لوُټِي او بيا يُ په ټوټو ټوټو کښې لا وژنِي هم. اګر که دويُ ډير په خپل ملک مَين او په خپل قام غاوِرَ دِي ليکن که دويُ ته دَ روپو طمعَ ورکړي شِي نو بيا په ډير خوږ او په نږدي خپل هم پرده نهٔ اچوِي. ځينې حنو خپلو ځانونو ته مسلمانان واِئِي خو دَ اسلام له دين نه ډير لرِ خبر دِي. او که چرِي دَ دي دين حکمونو کښې دَ دويُ څه فايده نهٔ وِي نو دويُ له هغو نه په مخ جاربيستو باندِ هم اَړ نهٔ دِي. مګر بيا هم ډير ځليان او دَ خپلو مُلايانو دَ لاس لانډِ

دِي - او دَ کافرانو سره که هغه تور وِي که سپین هر وخت دَ غزا دپاره تیار وِي - دَ غزونو په غاړونو کښې په امان ناست دِي خداي خبر کله راسي يُ هغه ټولو حالکانو سره جګړي کړي دِي چه له مونږ نه ورسَېږي يُ په سرحد باندِ حکم کولو او په خپلو ارمانونو رژيدو يُ زړونه غټ شوِي دِي - تر سوُونو کلونو پوري دَ سَمي ساهُو خلقو دپاره يو بوُرِي بلا جوړ شوِي دِي - او دَ دويُ فصلوُنه ، مالوُنه او بال بچ يُ لوټلِي دِي - هر کله چه دَ دويُ په خپلو کښې بغض او کینه پرته دَه او يو قام دَ بل قام سره هیش جنګیږِي نو ځکه دا خو دويُ هډو کولَي نهٔ شِي چه اتفاق وکړِي او له غرونو نه راوُوزِي او ملک واخلِي - هان! دا خبره شوي دَه چه له نوُرَ پریواتهٔ دِدِي نه کوم دښمن چه په هندوستان حملي کولو دپاره راغلِيَ دَي دَ هغهٔ فوځ سره یوځاي شوِي دِي او دَ لوُټ په طمعَ يُ په هندوستان ورچغـه کړِي دَه".

لنډه دا چه دا دَ دي قامونو کار دَي او دا يُ روزګار دَي - زهٔ به په هغه باب کښې دَ دي ټول حال وليکم چـه په کښې ما دَ هندوستان دَ حکومت دَ هغه ټولو کارونـو حال ليکلَيَ دَي چه په سرحد باندِ شوِي دِي -

# دویم باب (۲)

## تارِیخ

## دَ محمُودِ غزنوِي زمانه

هلینوِي نوم موَرِّخ چه هغهٔ په یورپ کښ له ټولو نه ورُمبَي دَ پښتنو په مضمون باندِ قلم اوچت کړَي دَي لیکي چه دَ نهمي صدَئِ په آخر کښ ابدالیانو چه دَ هرات په نورِ ېروانهٔ کښ اوسیدل اسلام راوړ. او بیا ئِي دا دِین په ټول افغانستان کښ خور کړ.

په دي زمانه کښ په خراسان او په ماوراءالنهر باندِ دَ سامانیانو بادشاهِي وَه. دَ دوئِ دَ گدَئِ ځاي بخارا وهٔ. دَ دوئِ بادشاهِي دَ وسط ایشیا په لویه ټوټه باندِ وَه او افغانستان هم دَ دوئِ په بادشاهَئِ کښ شامل وهٔ. سامانیانو ښیرِ ښلي کالَ بادشاهِي وکړه او دَ دوئِ له زماني نه افغانستان شُهرت بیاموند.

دَ سامانیه ټبر پنځم بادشاه عبدالملک نوم الپتکین نوم یو مریي ته ډیر عزت ورکړَي وهٔ. او رو رو ئِي هغه دَ خراسان حاکم کړ. عبدالملک په سنهٔ ۹۶۱ع کښ مړ شهٔ. وزیرانو امیرانو دَ دي خبري دپاره یوه جلسه وکړه چه په تخت څوک کښینوُو. بي له الپتکین نه هر سردار دَ منصور دپاره (چه دَ بادشاه له ټبره وهٔ) راي

ورکړه او هر کله چه هغه په اتفاق په تخت کښيناست نو الپتګين يې دَ خراسان له حاکمۍ نه وُويست او خپل بدل يې ترِ نه واخست.

دي نه پس منصور په دي هم صبر نهٔ شهٔ او په هغهٔ يې دَ مرګ هيبت جوړ کړ. په دي خبره آلپتګين ياغي شهٔ. او دَ ۳۰۰۰ قدرِ ترکو سره غزني ته لاړ او په جاري يې دَ سامانيانو دښمنۍ ته ملا وتړله. دَ هرات، سيستان او دَ بلخ خلق خو دَ سامانيانو په پړه باندِ ولاړ وُو خو دَ تورخانهٔ علاقي پښتانهٔ ډلي ډلي دَ الپتګين په تابعدارۍ کښ راغلل او دغسي هغهٔ تر ۱۴ کالَ پوري خپل قوت مضبوطاوهٔ او آزاد عمر يُې تيروهٔ.

په سنهٔ ۹۷۶ کښ الپتګين مړ شهٔ نو سبکتګين نوم يو تُرک غلام چه دَ هغهٔ زُوم وهٔ په ګدۍ کښيناست. دا وړښي بادشاه وهٔ چه دَ دهٔ په زمانه کښ دَ ټولو نه وړښي دَ هندوستان او دَ افغانستان سره سُوک ځپيړه وشول. دا خو معلومه نهٔ شوه چه دا جګړه ولي شوي وَه خو دي کښ شک نشته چه وړښي ورانيَ دَ هندوستان له طرف نه شوَي وهٔ.

په دي ورځو کښ په هغه علاقه چه اوس ورته پنجاب ويلي شي او وړښي ورته لاهور ويلي شهٔ جيپال نوم يو راجا بادشاهي کوله. دَ دهٔ علاقه له ملتان نه تر کشميرَ او له سرهند نه تر پيښورَ خوَره وَه. داسي ښکاريږي چه الپتګين په غزني کښ يوه مضبوطه بادشاهي جوړه کړي وَه. او دَ دي راجا په زړهٔ کښ ويَره

پیدا شوي وَه - او بیا چه دَ سرحد دَ پښتنو دارو دا ویره نوره هم زیاته کړه نو هغهٔ په زړهٔ کښ دا جوړه کړه چه پښتانهٔ دربانډې صبا حمله کوي نو راشه تهٔ پرې ورښکي شه - څکه هغهٔ خپل فوځ په اباسین راپوري ویست او هغه میدان ته ئې ورساوهٔ چه دَ پېښور او دَ جمرود تر مینځ دَي - دلته سبکتګین سره مخامخ شهٔ - خو له جنګ نه ورښکي یو داسي طوفان راغئ چه جیپال په کښ ناجوړه شهٔ - او سبکتګین ته ئې دَ روغي سوال وکړ - دهٔ خو ورښکي دا سوال نهٔ منلو خو آخر په دي خبره راضي شهٔ چه جیپال دِ اوس پنځوس هاتیان ورکړي او چه لاهور ته ورسي نو دَ جنګ تاوان دِ ورکړي - ورښکي شرط خو جیپال پوره کړ خو دویم قطغن ئې پوره نهٔ کړ.

سبکتګین غزني ته واپس راغلئ وهٔ - لیکن چه هغهٔ وکتل چه جیپال خپل لوظ پوره نهٔ کړ نو ډیر په غصه شهٔ او دَ توري په زور دَ دي لوظ پوره کولو دپاره پېښور ته رارووان شهٔ - جیپال هم دَ دښمن دَ مقابلي دپاره دَ ډیلي، قنوج، کالنجر، او دَ اجمیر دَ راجګانو نه مدد غوښتي وهٔ او هغوئ په ډیري خوشحالئ سره ورکړي وهٔ - جیپال ډیر لوي فوځ میدان ته راوویست او دَ لغمان سره ئې خپل فوځ ودراوهٔ - دَ دهٔ مخي ته سبکتګین دَ خیبر په دَره راووت - دیري ئې ولګولي - دَ دهٔ په فوځ کښ ډیر سوارهٔ وُو - غشو ویشتونکو ئې دَ دښمن اَرخونه رامسنځ کول او هغهٔ پخپله دَ دښمن عَن په زړهٔ بانډې دَي مار حملي

کولي۔ هرکله چه سبکتګین ولیدل چه هغهٔ دَ دښمن فوځ ښهٔ ګډوَډ کړ نو په یو ځل ئي خپل ټول فوځ پرِ راواچاوهٔ۔ دَ دي نتیجه دا وخته چه جیپال بالکل په ماتي ګډ شهٔ او دَ اباسیند تر غاړي پوري علاقه سبکتګین ته په لاس ورغله۔ او هغهٔ یو معتبر افسر دَ زرو سوَرو سره دَ پیښور حاکم مقرر کړ۔

دغسي سبکتګین دَ خپل نورپریواتهٔ سرحد مضبوط کړ او دَ خپل ملک په ارتولو ئي شروع وکړه۔ څه مده پس دَي دَ سامانیه خاندان نوح نوم بادشاه دَ دي دپاره بخارا ته وبالهٔ چه په هغه ورځو کښ چه کوم خلق له بادشاه نه یاغي شوَي وهٔ هغه وله سم کړي۔ سبکتګین په خپل لیاقت سره دا فساد دفع کړ او دَ دي په بدل کښ ساماني بادشاه دَي دَ افغانستان بادشاه ومانهٔ۔ او بل ئي دَ دهٔ زوي محمود دَ خراسان حاکم کړ سبکتګین چه له دي لام نه واپس راتهٔ نو په لاره کښ ئي له دنیا نه سفر وکړ۔

فیرِیرِ دَ هروِي عبدالله خان دَ خولي خبره کوي چه "دا خبره په ځای دَه که څوک وُوائي چه سبکتګین ورښتي بادشاه وهٔ چه هغهٔ په خاص افغانستان بانډِ حکومت کړَي وهٔ۔ لیکن دَ هغهٔ نسل تاتاري وهٔ څکه پښتنو هغهٔ ته ظالم او حرام خور وایهٔ۔ او هغه کارونه دوئ هیڅ نهٔ ګنړل کوم چه سبکتګین دَ دوئ دَ ملک دَ ښیګړي دپاره کړي وو" دَ دي خبري رښتنګي له دي نه کیږي چه له سبکتګین نه

پس دَ دهٔ دَ زوي په زمانه کښې غلزيان ياغي شوي وُو.

دَ سبکتګين په ګدَيَ دَ ناستې لايق دَ دهٔ مشر زوي محمود وهٔ. چه دغه وخت دَ ديرشو کالو تکړه ځلمَي وهٔ. ليکن چه څه وخت يې پلار مړ کيدهٔ نو دَي دَ خراسان دَ ګدَيَ ځاي يعني نيشاپور کښې وهٔ ځکه دَ دهٔ وړوکي ورور اسمٰعيل په تخت باندِ قبضه وکړه. دَ خزانې ګنجيانې هم ټولي دهٔ ځخه وي څکه اميرانو وزيرانو دهٔ ته غاړه کيښوه.

محمود ډير قابل، خواري کښې او چالاک شهزاده وهٔ دَ دهٔ طبيعت له وړوکوالي نه جنګيالي وهٔ. خلقو سره نيکي کول دَ دهٔ علوت وهٔ او مجچيله هم په ځيل قابليت ښهٔ پوهيدهٔ. اول اول دهٔ دَ ورور سره ورانَي وُ نهٔ کړ. ټش دومره خواب يې ورته وکړ چه دا غرسه قامونه چه څمونږ دَ پلار دَ حکم لاندِ وُو، دَ لاس لاندِ راوستل ستا دپاره ګران کار دَي. او دَ بلخ او دَ خراسان حکومت آسان دَي. که ستا خوښه وِي نو دا دواړه علاقې به تا ته درکړم. اسمٰعيل دَ ورور خبره په يو غوږ واوريدهٔ او په بل يې وويسته. په دې باندِ محمود له ناچاري ورځې عنشَي ليندهٔ واخستل او في الحال روان شهٔ او اسمٰعيل چه په دغه وخت غزني کښې وهٔ په ورښَيَ جګړه کښې يې قيد کړ. دَ اسمٰعيل تر آخرَ عمر ټول په قيد کښې تير شهٔ. ځکه چه دَ محمود وروروليَ هغه دَ دوهوُ خبرو حقدار کړَي وهٔ. قيدَ يا تخت. له تخت نه څنو هغهٔ انکار وکړ ځکه بي له قيدَ نور هيڅ دَ هغهٔ دپاره نهٔ وُو.

په نورو ټولو معاملو کښې به يې دَ هغهٔ عزت او مدار کاوهٔ.

دَ غزنې حاکم تر اوسه دَ بخارا هسې په نوم تابع وهٔ. چه سبکتگین مړ شهٔ نو دَ بخارا بادشاه ابوالمنصور چه دَ دې دواړو ورونړو دښمنې ولیدله نو له خپلو خاصه وُ نه يې امیر توزن بیک دَ غزنې حاکم کړ. محمود په دې خبره شبه وکړه. جواب ورکړې شهٔ چه تهٔ له ورښې نه دَ هرمز، بلخ او دَ هرات حاکم يې. دا ښه نهٔ دَه چه دَ بادشاهۍ مهربانۍ دِ ټولې ستا شي. دَ دې دپاره زهٔ دَ غزنې حکومت یو داسې وفادار افسر ته ورکوم چه هغهٔ ځمونږ لوې لوې خدمتونه کړې دِي. ابوالمنصور دا یو داسې حکم کړې وهٔ که چرې په دې باندې محمود ورته برند شوې وَې. نو دَ سامان خاندان به تمام شوې وهٔ. خو محمود له پیغور او بدنامۍ دَ نمکحرامۍ نه ویریدهٔ. څکه دوه ځلې يې دا کوشش وکړ چه په ښه شان دا حکم مات شي. مگر وُ نهٔ شوه. دَ خداې کارونه وو چه هم په دې ورځو کښې هغه توزن بیک چه په هغهٔ باندې بادشاه دومره مهربان وهٔ دَ خپل بادشاه سره يې په مصلحت دَ لوې وزیر ټکې وکړه. بادشاه يې ونیو او په سلائې يې په سترګو کښې دواړه ړوند يې کړ. او له تخت يې کُوز کړ او دَ هغهٔ وړوکې ورور چه عبدالملک نامه يې وَه په تخت يې کښیناوهٔ. دَ ابوالمنصور په ټوله علاقه باندې یاغیان ښوارهٔ شول. او داړې به يې کولې تر مرو راورسیدل. دلته نه محمود هم سره دَ نوح اوچت شهٔ او په یوه حمله يې یاغیان مات کړل. دَ سامانیه خاندان دپاره دَ یاغیانو فساد

څه پواڅي آفت نهُ وُ. بلکه دَ بخارا بادشاه چه ورته هلک بکاره شهٔ نو دَ کاشغر بادشاه هم په بخارا راوخوت. بادشاه يُ مړ کړ او دَ ماوراءالنهر ټوله علاقه يُ دَ خپل ملک سره شامله کړه. دَ دي هلک په مرګ بانډ دَ ساماني خاندان ډيوه دَ ټول عمر ډپاره مړه شوه. يعني دولت دَ خيلخاني دَ سامان چه اته دَ پاس شپږ شلي کالَ وهٔ آخر ته ورسيد.

محمود چه دَ مرو جنګ وګټهٔ نو دَ هغو ملکونو خود مختارُ بادشاه شهٔ. چه اوس ورته افغانستان، ترکستان او بدخشان ويلي شي. اول خو هغه دَ بادشاهيُ دننه انتظام وکړ او بيا چه وزګار شهٔ نو دَ خپل پلار ګټلي ملکونو ته يُ مخه کړه. هغهٔ دَ اباسين نه پوري ډيري قلاګاني جوړي کړي او اعتباري سپاهيان يُ په کښ واچول او بيا غزني ته راغيُ او دَ بخارا دَ خان لُور يُ وادهٔ کړه ورسره يُ دوستي زيانه کړه او دَ ټول ملک ديواني او فوځداري انتظام يُ وکړ.

محمود چه دَ خپل ګدُيُ ځاي کښ څه کول هغه يُ وکړل نو بيا يُ زړهٔ کښ دَ نورو ملکونو دَ اخستو شوق پيدا شهٔ. نلځايه يُ په زړهٔ کښ دَ هندوستان خيال راغيَ. هغه دَ جيپال په جنګ کښ پلار سره موجود وهٔ. دا خبره ورته ښه معلومه وَه چه دَ افغانستان دَ خوارِي کښو سپاهيانو په مخکښ دَ هندوستان بي زړهٔ سپاهيان هيڅري نهٔ شي ودريدَي. هغهٔ په خپلو سترګو ليدلي وُو چه دَ پښتنو وړُوکي عونډ ټولي هغه دري دنيا څنګه زغلولي وَه.

دا هم دَ هغهٔ ښهٔ یقین وهٔ چه دَ هندوستان نور اوسیدونکي چه ورتهٔ ډېر ښهٔ سلمان دَي له پښتنو نه زیات بهادران نهٔ دِي. دَ محمود په لاس کښې چه کوم ملک وهٔ هغه تش کانړي وُو لیکن په هندوستان کښې دولتمند ښهرونه وُو، ښیرازه میدانونه وُو او ډېر درمسالونه له سرو زرو نه سر تر پایه ډک وُو، پس دا څه دَ تعجب خبرهِ نهٔ دَه که دَ هغهٔ په څوان، همت ناک او بهادر طبیعت کښې او بیا په داسي زمانه کښې چه ګوُار دَ کوټټي دَ خاوند وَه" دا خیال پیدا شوَي وِي چه په دي دولتمند ملک بانِ قبضه پکار دَه او دَ خپل ملک دَ انتظام نه پس دَ هغه ملک دَ اخستو نیت يُ کړَي وِي.

په اګست سنه ۱۰۰۱ءَ کښې محمود ۱۰۰۰۰ خاصه لښکر څان سره واخست او دَ غزنِي نه رارواِن شهٔ. خو دَ دهٔ دَ پلار دښمن جیپال دَ دهٔ نه ورښَي دَ جنګ تیارِي کړي وَه -او له اباسیند نه راپورېوتَي وهٔ دَ پېښور په میدان کښې مخامخ شول. دَ فوځونو شمیر یو هرهِ نهٔ وهٔ-دَ جیپال سره ۳۰ زرَ پیاده، ۱۲ زرَ سوارهٔ او ۳۰۰ هاتیان وُو او محمود سرهِ تش لس زرَ سوارهٔ وُو-خو دا خبرهِ وَه چه دَ محمود ملګرِي ټول جنګیالِي وُو او دَ جیپال نیم فوځ بیکارِي وهٔ -دَ جنګ آخر انجام دَ جیپال په حق کښې ښهٔ نهٔ شهٔ. هغهٔ شکست وخوړ او سرهِ دَ پنځلسو لویو لویو سردارانو قید شهٔ (راغلي په کښې کښیوتي، ډنډ وهٔ په کښې پرېوتي) محمود پرِ بانِدِ کالیز قلنګ کیښو او پري يُ ښودل -

جیپال چه لاهور ته راغئ نو خپل تخت ئې خپل زوي انندپال ته پرېښو او ځپله په چته کښې کښېناست او له خپله لاسَ ئې ورته اور ورته کړ او ځان ئې سټې کړ.

محمود دلته ایسار نهٔ شهٔ هم هغه سې په مخ روان وهٔ او دَ اباسین دَ غاړې په یو ګُدر باندې چه هلته به دَ لاهور راجه اکثر ګجرئ کوله قبضه ئې وکړه او لُوټ ئې کړ او بیا غزني ته وګرزیدهٔ- سره دَ دي هغهٔ په سنه ۱۰۰۲ کښې دَ سیستان جنګ هم وکتهٔ-

انندپال به دي مُدهٔ کښې قلنګ ورکاوهٔ لیکن دَ هغهٔ یو تلنګي چه دَ بهیرې راجه وهٔ منکر شهٔ او قلنګ ئې ورنهٔ کړ- بهیره دَ جهلم په نورپریوانهٔ غاړه دَ مالکې دَ غزونو په لمنه کښې پرته دَه- دَ دې دیوالونه اوچت او خندقونه ئې ډېر ژور وُو- دَ راجه دا یقین وهٔ چه زهٔ چه په خپل مضبوط ښهر کښې کښینم نو ترکو سره به جنګ وکړې شم لیکن محمود ویرېدونکې سړې نهٔ وهٔ- هغه دَ خپل فوځ سره په سنه ۱۰۰۴ کښې دَ بنوں په خوړ او دَ کرُمې په دَره عیسي‌خېلو ته نږدې اباسین ته راکوز شهٔ- او دَ روهړې لیځوانې ښهر ته راغئ او بیا له هغه ځاې نه په دوآبه سنده ساګر باندې دَ متاتهوانه نه تېر شهٔ او دَ خوشاب او شاه‌پور په لار بهیرې ته ورسید-

دَ بهیرې راجه بجي‌سنګه ډېر بهادر او هوښیار او جنګیالئ راجه وهٔ- هغهٔ هغه ټول ځایونه چه له کومو نه بهیرې ته لارې

راغلي وي په قلاګانو بنهٔ مضبوط کړي وُو- او بهادر سپاهيان يې دَ هغو په څوکو کښې مقرر کړي وُو-

محمود چرې داسې جنګ نهٔ وهٔ کړی-دَ دهٔ سپاهيانو ته ډېر کړاو پېښ شهٔ- او دا ورښې څل وهٔ چه هغوئ ګِله مند شول- درې ورځو پورې دَ بجې‌سنګه قلاګانو دښمن منع کړې وهٔ- او دَ قلاګانو خواؤ ته دَ مړو ډېرې جوړشوې وُو- پښتنو په جنګ کولو او نهٔ کولو ډېر بحثونه وکړل مګر په څلورمه ورځ دَ خداي کارونه وُو چه دَ محمود همت کار وکړ- هغهٔ بجېپله نوخ واخست او په بهيره ورودوت او ښهر ته مخامخ شهٔ-

ليکن لا دَ خندق او دَ قلا کړاؤ په سر پروت وهٔ-محمود په ډېرهٔ خوارئ خندق په کاڼړو او په بوټو او په غنو او په لوټو ډک کړ- بجې‌سنګه چه دا وليدل نو زړهٔ يې پرېوت-نيت يې وکړ چه ډېر فوځ څان سره واخلي او له ښهر نه وتښتي- او لږ غونډِ سرې دلته پرېږدي-ليکن محمود پرې باندِ په وخت خبر شهٔ او رامنع يې کړ- دَ بجې‌سنګه سپاهيان دَ محمود ناګهانه حملې ته ټينګ نهٔ شول- وارخطا له ميدان نه وتښتېدل- راجا دَ قيديدو له شرم نه څان په دې ځ کړ چه په خپله سينه کښې يې تورَه ومنډله- او هم په دغه شپه بهيرهِ دَ محمود په لاس راغله- سره دَ ګير چاپېر علاقو يې دَ غزنې په بادشاهۍ کښې شامله کړه-

په ۴۰۰ھ کښې دَ ملتان حاکم ابوالفتح داؤد ولکېد خلق يې

له اسلام نه گمراه کول. په دي محمود خفه شهٔ او دَ هغهٔ خبر اختتو دپاره يُ په ملتان چغه ووبيته. داوُد دَ لاهور دَ راجا آنند پال نه مدد وغوښت. دَ پيښور په ميدان کښ محمود او انند پال مخامخ شول. محمود دَ انندپي دَ فوځ دَ وينو خوَرُونه وبهول. او ورانږ تهٔ وزيرآباد ته نزدي سودرا نوم يُ ځايه پوري لاړ او پس له هغه ځايه ملتان ته ورسيد. هغهٔ په داوُد بانږ يو څو شرطونه په زور ومنل او انندپال يُ هم په دي خبره پرينبو چه دَي به هرکال غزني ته قلنگ راليږي.

دغه روغه لا سر ته نهٔ وَه رسيدلي چه خبر راغيَ چه دَ کاشغر او دَ بخارا حاکم ايلک خان دَ محمود سخر په غزني بانږ حمله وکړه. محمود په خپلو هندوستاني ملکونو بانږ يو هندو سردار سکهپال چه په قيد کښ مسلمان شوَي وهٔ نايب مقرر کړ او سره دَ فوځ قطب توَرپريوانهٔ يلو ته نيغ روان شهٔ. دَ بلخ نه ۱۲ ميل لري خپل سخر سره يُ جنگ ونښلاوهٔ. دلته داسي شندي وشوي چه کله به يوه ډړه بانږ شوه کله بله مگر دَ محمود اقبال پرِ غالب شهٔ او دښمن يُ دير بد بد مات کړ. دَ ايلک خان څو داسي وارخطا شهٔ چه دَ محمود په ژوند بيا هغهٔ دَ حملي نيت وُ نهٔ کړ.

لا دَ دي کتهي نه پس محمود ساه نهٔ وَه اخستي چه خبر شهٔ چه دَ هغهٔ نايب سکهپال مرتد شهٔ بيا خپل دين ته داوريد او ياغي شهٔ. محمود په چغه هندوستان ته راغيَ او

هغه يې ونيو او ډېر غټ جرم يې پرې بانې ولګاوهٔ او عمري قيد يې کړ (په ۱۰۰۶ع کښې) غزني ته واپس لاړ.

محمود غزني ته راغئ خو دَ آرام کولو نيت يې نهٔ وهٔ ځکه چه انندپال ته يې په دې خبره په زړهٔ کښې خيرې وهٔ چه هغهٔ دَ ملتان حاکم ته دَ جنګېدو دپاره مدد ورکړې وهٔ. علاوه له دې نه دَ هندوستان دَ دولت زور يې اورېدلې وهٔ ځکه له غزنين نه يې اراده دَ هندوستان وکړه. په ۱۰۰۸ع کښې له قطب او ښور پرېواتهٔ ډېرې نه دَ دښمن دَ راتلو خبرې په هندوستان کښې بيا يو ځل ښورېږي شوې. انندپال يوځ نيت وکړ چه دَ غزني بادشاه ته دا خبره ښکاره کړي چه دَې دَ هندوستان بهادرانو سره جنګ نهٔ شي کولئ. هغهٔ دَ هندوستان ټولو راجګانو ته خبر ورکړ چه تاسو ټولو ته دَ محمود سره جنګ کول بکار دي. ځکه چه که چرې محمود په هندوستان کښې کټه وکړه نو دا مهٔ وايئ چه تاسو به تر پچ شئ. دَ پنجاب فتح دَ هندوستان دَ فتحې بسم الله ده. دې نه پس يې ورته دَ دهرم غيرت ورواړوه چه دَ هندوانو دَ دهرم يو داسې غټ دښمن سره جنګ کول په مونږ ټولو باندې فرض دي.

دَ انندپال درخواست عبث لاڼهٔ ړهٔ. راجګانو داسې فوځونه رادليږل چه دَ هغو هر يو سپاهي ته دَ مسلمانانو سره جنګ ثواب ښکاريدهٔ. انندپال دا فوځونه دَ اباسيند ډېرې ته بوتلل. او دَ

هغې په کسه غاړه یې ډېرې ولګولې. محمود هم په سینه پورېوت او دوئ سره یو تر بله مخامخ شول. لیکن محمود چه دَ هغو دا بې شمېره فوځ او اخلاص ولید نو هغهٔ له لښکر نه چاپېره خندق وکنودهٔ. بیا شپږ زرَ تنَ غښ لاسنې یې وراندِ ولېږل هغو په چلونو او په حیلو سره لښکر دَ هندوانو ګرم کړ او په ځان پسې یې روان کړ تر هسې حدَ پورې چه خپل لښکر ته یې لښکر دَ هندوانو رانزدې کړ. مسلمانان په ښهٔ اتفاق سره په دفع کولو دَ دښمن مشغول شول. خو بیا هم دېرش زرَ لښکر دَ ګهکړیانو په عینِ مقدمه کښې په خندقونو دَ دواړو طرفونو راواوړېدل او په مېنځ دَ سوَرو راننوتل. او شلګې او توُرې او خنجرونه یې وچلول او ډېر سرې او آسونه یې پرې بېسل. ستر هسې حدَ پورې چه په سترګه رپول کښې یې څلور زرَ تنَ شهیدان کړل. بلکه دې حد له خبره راغله چه محمود په خپل فوځ ووېرېد او دې کار ته جوړ شهٔ چه دَ لاسَ دَ ګهکړیانو له میدانَ په ډډه شي او جنګ موقوف کړي. خو خدای یې مل شهٔ. دَ اننَدپال هاتې دَ غشو او له بویونو دَ دارو نه ووېرېدهٔ، او لاړ وتښتېدهٔ. لښکرو ګمان وکړ چه ګنډِ راجګانو تېښته وکړه جوړ تولو ماتې ګډه کړه. دَ ګهکړیانو هم ملا ماته شوه او ښپې یې تر ووستې او ګټلې جنګ یې بایلهٔ. محمود دوه ورځې په دنبال دَ ماتې لاړ. اتهٔ زرَ هندوان یې قتل کړل او هاتیان او ډېر لوُټ په لاس ورغئ.

محمود دغه‌سي تر نګرکوټ پوري (چه اوس ورته کوټ کانګړه وايُ) ورسید. دا ځاي په یو قلا باندي مضبوط وَهٔ او یوه بتخانه په کښي آباده وَه چه دَ دولت په وجه تر لري پوري مشهوره وَه.

په دي ورځو کښي چه توپي او دارُو چا پیژندل هم نه که نګرکوټ کښي لږ غونډ فوځ هم وَي نو دَ دي نیول ډیر آسان وُو. لیکن محمود داسي په دَو هلته ورسید چه دښمن هیڅ وزګار نهٔ شهٔ چه قلا يُ په فوځ مضبوطه کړي وَي. دا وقت بي دَ بامبرانو نه نور هیڅوک دَ دي دَ ساتني دپاره نهٔ وُو. دوئ په رضا صلاح سره داسي شرطونه چه تش دَ هغو ځانونه په کښي بچ کیدل ومنل. دَ محمود دَ راتلو په دریمه ورځ دي خلقو بتخانه سره دَ ټول مال اسباب محمود ته حواله کړه.

دَ دي بتخاني په دولت به دَ محمود زړهٔ یخ شوي وِي. کُښت دي دَ هغهٔ شوق نور هم زیات شهٔ. دَ ایران او دَ عربو تاریخ لیکونکي لیکي چه له دي درِمسال نه اوهٔ سوَ سیرَ دَ سرو او دَ سپینو لوښي او دوه سوَ سیرَ دَ سرو او دوه زرَ سیرَ دَ سپینو زرو خښتي او شل سیرَ مرغلري، مرجان، الماس، او لعلونه او ۳۰۳۳۳ ۳ اشرفو نغد مال محمود ته په لاس راغيَ دا ټوله خزانه يُ راواخسته او په سلسله کښي غزني ته راوګرزید.

دَ محمود دَ ژوند دویمه واقعه خلکه دَ یادولو لایقه دَه چه په

دي کښې څمونږ دَ زماني دَ غلزو لوي قام سره سُوک څپېړه شوي وَه-

دَ ملېټوِي بيان دَي چه هر کله غلزيانو ته معلومه شوَه چه دَ سلطان محمود غزنوِي فوځ سره دَ لُوټ ډلي ډلي جُدا جُدا غزني ته روان دَي نو هغوئ په درو کښې ورته لار ونيوه او يو څو ټولي ئې ولوټل. دَ غلزو دا يقين وَه چه که محمود غزنوِي مونږ ته حشه واچِي هم نو اوس به په يخنئ کښې نهٔ واچِي. او که په سپرلِي کښې مونږ ته څه تاوُ دوغ راکوِي نو مونږ به دَ هرات قطب ته دَ غور غرونو ته وتښتو. ليکن هغوئ دَ محمود دَ مضبوطي ارادي او بوخ نيت هيڅ خيال وُ نهٔ کړ. هر کله چه محمود دَ دوئ په دي شوکه خبر شهٔ نو لږ غونډ فوځ ئې واخست او دَ قندهار نه پوري ئې ياغيان په محٔه کړل. دا دَ سنه ۱۰۱۰ع جنورِي مياشت وَه. دَ يخنئ دَ زورَ غلزيان په غرونو کښې ايسار نهٔ شول- او له بدي ورځي ميدان ته راکوز شول او هلته محمود په دوئ باندِ حمله وکړه او څومرهِ چه په لاس ورغلل نو ټول ئې قتل کړل. ايله يو څو ټبري دَ دي قام بچ شوي چه هغه دَ کوهستان آبادو حصو ته وتښتيدي- دَ دي غوږ تاوَولو دا نتيجه وَه چه غلزيانو تر ډيرو کالو بيا سر اوچت نهٔ کړ. کوم غلزيان چه له دي قتل نه بچ شوِي وُو هغوئ تر ډيري مُدي دَ محمود له ټبر نه دَ بدل اخستو په فکر کښې وو- او آخر هغو دا ټبر له تخت کُوز کړ-

دَ غلزيانو له جنگ نه چه وزګار شهٔ نو محمود هم هغه

کال ملتان ته لاړ ځکه دَ ملتان سردار ابوالفتح لودهي یاغي شوي وهٔ - محمود ته دا مناسبه ښکاره شوه چه هر رنګ چه وي په اول اول کښ دَ دي غور پکار دَي ځکه هغه في‌الحال ملتان ته ورسید - ابوالفتح يې ونیو او غزني ته يې راوست -

محمود چه له دي نه پس په هندوستان باندِ کومه حمله کړي دَه دَ هغي وجه بي له لوټ نه بل څه نهٔ ښکاري ځکه چه هندوان راجګان بالکل دَ حکم دَ لاندې وُو - او هر ځا خپل خپل قلنګ برابر ورکاوهٔ لیکن دَ نګرکوټ لوټ محمود ته داسي خوند ورکړي وهٔ چه دَ تهانسیر دولت ته يې هم خوله اوبه شوه -

تهانسیر دَ سرهند په صوبه کښ دَ ډیلي نه سل میلَ دَ کرنال او دَ انبالي تر مینځ دَ سرک په غاړه پروت دَي - محمود خپله اراده پټه نهٔ کړه بلکه انندپال ته يې صفا دا خبر ولیږهٔ چه په خپله علاقه کښ ځما دَ فوځ تلو راتلو دپاره بندوبست وکړه ځما په تهانسیر باندِ دَ حملي کولو نیت دَي - دي هندو راجه دا ځل دَ جنګ طاقت خو لرلو نه خوشامندي برامندي يې راواخستي او بادشاه ته يې خبر ولیږهٔ چه تهانسیر یو پاک ځاي دَي دَ هغهٔ نیت مه کوه - که ته دا اراده پریږدي نو زهٔ وعده کوم چه هرکال به ۵۰ هاتیان او څومره مرغلري چه په دي درسال کښ اوس دِي هغه هومره قلنګ به دَ دي په عوض کښ درکوم - لیکن دَ محمود به دي خبره غوږ وُ نهٔ کړیږ او روي راس په تهانسیر راوخوت - درسال

يُ لُوټ کړ او واپس شهٔ. په لُوټ کښې دَ "فرشته" کتاب خاوند وائِي چه دوه لکه مريونه او بې شميرَ دولت دَ محمود فوځ ته په لاس ورغئ. چه دا فوځ غزنِي ته وګرزيدهٔ نو وائِي چه دا ښهر يُ دَ هندوستان له ښهرونو ته شمارهٔ. ځکه چه دَ هر يو سپاهِي په برخه کښې ډير دولت او ډير مريونه راغلِي وُو.

محمود ښهٔ پوهيدهٔ چه ځما دَ تهانسير په حمله بانډِ انندپال او دَ هندوستان ټول راجګان خپل فوځونه تيارَوِي او دَ هغو مطلب دا دَي چه ځما برخلاف يوه لويه پرَه جنبه جوړه کړِي. ځکه هغهٔ نه دا مناسبه ښکاره شوه چه غزنِي ته ګرزيدو نه ورستِي ډيلِيَ واخلِي. خو دَ فوځ افسرانو ورته سوال وکړ چه په ملتان کښې ځمونږ حکومت لا ښهٔ مضبوط نهٔ دَي. او بل چه انندپال ټولو راجګانو سره جوړښت کړِي دَي نو دا جنګ يواځِي دَ هغهٔ سره نهٔ دَي بلکه دَ هندوستان ټولو راجګانو سره دَي. او په داسي مات ګډ حال کښې لکه چه نن ځمونږ دَي په ډيلِي حمله پکار نهٔ دَه. دغه مصلحت محمود هم خوښ کړ او نيت يُ وکړ چه اول غزنِي ته لاړ شِي دَ هغه ځاي انتظام وکړِي او بيا واپس راشِي دَ هندوستان نه رخصت شهٔ.

په سنه ۱۰۱۳ع او سنه ۱۰۱۵ع کښې دوه ځلِي محمود په کشمير لام وتاړهٔ. په ورستِي لام کښې دَ آنندپال زوي جيپال ثانِي دَ محمود مقابله وکړه. ليکن (آنندپال مړ شوَي وهٔ) راجا ماتې وکړه او کشمير محمود ته په لاس ورغئ. او ډير کشميريان يُ دَ مسلمانئ سره آشنا کړل.

په بل لام کښې محمود تاوان وکړ. کومي قلاګاني چه په ورتلو لام کښې سر شوي نهٔ وي دَ هغو دپاره دا دویم جنګ جوړ شوي وهٔ. په دي قلاګانو کښې دَ ټولو نه سخته قلا دَ لوهٔ کوټ وه دا قلا دَ ډیر مضبوطوالي او دَ سخت رو کودر په وجه مشهوره وه. دَ محمود ټولي خوارئ او کوششونه عبث شول. په دي کوشش کښې ډېر ټول اوږي تیر شهٔ او منيَ ورپسې راغئ خو لوهٔ کوټ هغهٔ لاندِ نهٔ کړ. آخر ژمئ شروع شهٔ او واورو محمود راورستو کړ. دَ محمود په ډیر ټول عمر کښې دا اول بد نظر وهٔ چه په سفرونو دَ هندوستان کښې دَ دهٔ لښکر ته ورسیدهٔ. په لاره کښې پرې ډیره سختي راغله. لار ښیونکو ورته تیر وړکړ او په دي وجه دَ محمود ډیر فوځ هلاک شهٔ. سره دَ دي نامرادئ دَ محمود زړهٔ مات نهٔ شهٔ او په سنه ۱۰۱۲ ع کښې دَ قصد واکي يُ بل خوا ته وګرځولي.

دَ محمود سخر دَ کاشغر او دَ بخارا حاکم ایلک خان په سنه ۱۰۱۲ ع کښې مړ شهٔ. دَ هغهٔ په ملک کښې دَ یو سخت جنګ او دَ فساد بازار ګرم شهٔ. یوي برخي په کښې دَ محمود نه مدد وغوښت. محمود په هغه سرحد چه بخارا او ثمرقند پرې پراتهٔ دي ورواوړید خوارزم يُ فتح کړ. څه مُدي پوري دَ دي نوؤ ملکونو انتظام يُ وکړ. التونتاس يُ دَ هغه ځاي حاکم مقرر کړ دَ خوارزم دَ بادشاهئ خطاب يُ ورکړ او غزني ته ترِ راغئ.

په سنه ۱۰۱۸ ع کښې محمود په هندوستان نهمه حمله وکړه په

دي کښې هغهٔ له ټولو حملو نه لوئ بندوبست وکړ - دَ ترکستان، خراسان او خوارزم نه يُ بي شميره سپاهيان جمع کړل - هغه يُ له ځان سره واخستل او غزني نه راووت - دَ دهٔ نيت دَ قنوج دَ فتح کولو وهٔ چه دَ غزني نه ورته دَ درېو مياشتو لار وه او په دولت او ښايست کښې يُ په ټول هندوستان کښې ثاني نهٔ وهٔ -

قنوج دَ فرخ آباد په ضلع کښې دَ ګنګا سيند په غاړه باندې پروت دَي چه هلته رسيدو دپاره محمود ته ځَن دَ هندوستان په مينځ باندې تلهٔ ضرور وُو - او په دي تلو کښې دَ غزني سره بيا دَ سوال ځواب او دَ کومک راغوښتو دپاره دَ لاري دَ بنديدو ويره وه - ليکن محمود لوي فکر وچلاوهٔ او دَ "فرشته" په قول يو لک جنګ کړي ځوانان او شل زرَ پياده يُ واخستل دَ هماليه دَ سهيل په لمنه باندې تير شهٔ - په جمنا پوريوت او برن نومي ښهر يُ (چه اوس ورته بلند شهر وائي) تابع کړ دَ متهرا په طرف لاړ او دَ مهابن قلا چه له متهرا نه اتهٔ ميلَ دَ جمنا په غاړه باندې آبادَه وه په ځپل تصرف کښې يُ راوړه - دلته هيچا ورسره مقابله وُ نهٔ کړه او ښهر يُ بي غمَ بي وسواسَ لُوټ کړ او بتخانې دَ ښهر او دَ اطرافو يُ وسيزلې - بي شميرَ سرهٔ او سپين زر سره دَ جواهراتو په لاس ورغلل -

محمود په جمنا بيا پوريوت او قنوج ته ورسيد - دَ "فرشته" مورخ وائي - چه دَ دي لوي ښهر بادشاه ځهٔ خو دَ محمود له

ډیري او څه دَ خیلي بي ساماني په وجه دَ محمود حکم قبول کړ او دوست يُ شهٔ. لیکن دَ یمني مورخ لیکي چه محمود قنوج او دَ هغي اډهٔ قلاکاني واخستي او دري ورځي يُ دلته تیري کړي نو بیا منج ته روان شهٔ. دا هغه ښهر دَي چه دَ دي کښ ربي دَ ښنګو سیند په غاړه له کانپور نه لس میلَ سهیل ته اوس هم شته دَي. دَ پروفیسر ډاسن خیال دَي چه دا ښهر په پخواني زمانه کښ په منجهاون نوم مشهور وهٔ. دَ دي ځاي بانبرانو ۲۵ ورځي دَ محمود سره جنګ وکړ او په ښهر باندِ دَ قبضي ورکولو نه ورښتي يو يو پر باندِ ځان مړ کړ.

دَ منجهاون نه چه روان شهٔ دَ ګنګا سیند په کوزَ اسني ته ورسید. او دلته هغهٔ دَ یو هندو سردار چند رراؤ په قلا باندِ قبضه وکړه. بیا له هغه ځاي نه په فتحپور باندِ بندیلکنډ ته لاړ او یو دوه ځایونه يُ واخستل. نو دَ لوټ ډیر مال او بي شمیرَ قیدیان يُ روان کړل غزني ته وکړزیدٔ.

محمود له خیرَ غزني ته ورسید. په دي حمله کښ له کالو او له جواهراتو او مرغلرو نه علاوه څلور لکَ دیرش زره اشرفيُ نغدي په لاس ورغلي. دا دولت محمود عبث نهٔ کړ. یو لوي جماعت يُ دَ سنګِ مرمرو پرِ جوړ کړ. او ډیري روپيُ يُ دَ خپلو افسرانو دَ اولاد په تعلیم باندِ ولګولي. دَ جماعت سره هغهٔ یو دارالعلوم هم آباد کړ. او په هغهٔ کښ يُ دَ ډیرو ژبو کتابونه او یوه ښه عجائب خانه تیاره کړه او ډیر کلي يُ په

هغهٔ بانډ وقف کړل. دَ دهٔ امیران هم په دهٔ پسې لاړل او په هر محلت کښې ئې محلونه، جماعتونه، چینې، حوضونه او ولې جوړې کړې.

محمود نه چه غزنۍ پاتې شوې وهٔ نو دَ کانړو وهٔ. او هغهٔ چه پرېښودهٔ نو دَ هندوستان په دولت دَ سنګ مرمرو شوې وهٔ.

دې نه پس دوه کالو پورې محمود له خپل پایه تخت نه وُ نهٔ خوځېد. په سنه ۱۰۲۱ء کښې خبر راغې چه دَ هندوستان راجګانو تش په دې خبره دَ قنوج په راجا بانډې بد ویلې دی او ملامت کړې ئې دې او حمله ئې پرِ کړې دَه. چه تا ولې دَ هندوانو دَ دهرم یو لوې دښمن سره ملګیرتیا کړې دَه او دوستي دِ ورسره پیدا کړې دَه. محمود فی الحال سره دَ فوځ قنوج ته راروان شهٔ. لیکن دَ دهٔ دَ رارسیدو نه وړاندې دَ کالنجر راجه دَ قنوج راجه وژلې وهٔ. محمود چه دا خبر واورېد نو ډېر په غضب شهٔ او دا ئې پوخ نیت وکړ چه هر رنګ چه کیږي دَ کالنجر له راجه نه دَ هغهٔ بدل واخلي او په قصاص ئې کړي.

دا خو معلومه نهٔ شوه چه دَې به کومه لار راغې. لیکن داسې ښکاریږي چه دَې به جمنا سیند ضرور پوریوتې دَې. دَ سیند پورې غاړې ته جیپال ثاني (دَ انندپال زوې) ورته مخکښې ولاړ وهٔ. دَ دښمن دَ وړاندې په سیند پوریوتل څه آسان

کار نهٔ وهٔ - لیکن دَ مسلمانانو دَ تاریخ لیکونکو بیان دَي چه دَ یو څو
بهادرو سپاهیانو په زړهٔورتیا سره دا ګرانه خبره آسانه شوه - اګر که
په دي خبره یقین کول ګران دي - لیکن دَ دي دَ رد دپاره دَ
هندوانو څه تاریخ هم موجود نشته نو خواه مخواه منلیَ شي چه
داسي به شوي وي -

دَ "فرشته" بیان دَي (او دَ نظام الدین هم ورسره اتفاق
دَي) چه دَ سلطاني کارد اتهٔ سپاهیان په لوي سحر کښي په
لامبو پوریوتل - او په اودهٔ دښمن يَ داسي چپاوٗ وکړ چه په
ټول فوځ غلبله ګډه شوه - او هندوانو ایله په تیښته ځانونه
خلاص کړل - لنډه دا چه په هر شان چه وُو محمود په جمنا
پوریوت -

له هغه ځایَ محمود خپل لښکر په طرف دَ کالنجر روان کړ -
او په یوه لوره وخوت او او لښکر دَ راجا يَ له نظرَ تیر کړ - او چه
ډیر ورته ښکاره شهٔ نو په زړهٔ يَ تیارهٔ راغله - او په راتلو خپلو
پښیمانه شهٔ - خو په دي موقعه کښي دَ محمود خپله نامه او دبدبه
دَ هغهٔ په ښه راغله او کټه يَ وکړه -

اوس څموږ په زمانه کښي هم ډیر داسي کیږي چه تش
دَ خپل شهرت او دَ نامي په وجه دَ سړي مطلب حاصل شي -
او بیا دَ محمود نوم خو ډیر لوي شهرت خوړلیَ وهٔ - لنډه دا دَه
چه دا رښتیا دَه چه دَ راجه په زړهٔ باندِ یو هیبت راغلیَ او دَ ډیري
نه دَ شپي وتښتید - ډیر مال ۵۸۰ هاتیان يَ دښمن ته

برېښول -

غزني ته چه بېرته راغئ نو محمود په سوات باجوړ او دَ کافرستان په یوه تو‌ټه باندِ څکه هله وکړه چه دا خلق چه دَ بُدْه په مذهب وُو مسلمانان کړي - خپل یو جرنیل یې دَ نورپور علاقي ته ولېږهٔ - دهٔ دړنبې دَ کابل دَ سیند غرڅه خلق وُویړول - او بیا یې کوچ وکړ کشمیر ته ورسید - دلته یې بیا دَ لوه‌کوټ دَ قلا لاندِ کولو کوشش وکړ لیکن دا قلا ډېره مضبوطه او محکمه وَه - لاس یې پرِ بر نهٔ شهٔ - له هغه ځایه په بېرته راوګرزېد لاهور ته لاړ شهٔ - هغه یې لُوټ کړ او په خپل تصرف کښ یې کړ - او یو مسلمان حاکم او یو څو مسلمانان افسران یې په کښ کېښول - دلته دَ دهٔ جرنیل په نورپور باندِ قبضه وکړه او هلته یې یوه بله قلا هم آباده کړه - دَ دي علاقي هغه خلق یې چه چا اسلام رانهٔ وړ په بند راوستل.

محمود آرام وُ نهٔ کړ - په سنه ۱۰۲۳ کښ بیا لاهور ته لاړ او دَ هغه ځای نه بنډیلکنډ ته ورسید - دپاره دَ دي چه دَ کالنجر راجه تابع کړي - په لاره کښ یې دَ ګوالیار دَ قلا په محکښ ډېري وتکولي لیکن دَ دي قلا سردار څه پېښکښونه ورکړل او راضي یې کړ - محمود له دي قلا نه نېغ کالنجر ته لاړ - لیکن دَ هغه ځای راجه هم جوړ دَ ګوالیار دَ راجا نه چل زده کړ - دَ محمود تابع شهٔ - او ډېر پېښکښونه یې ورته پېش کړل - محمود په دي داسي خوشحال شهٔ چه نَش دَ هغه ځای راجا یې ورته وُ نهٔ وِ بلکه یو څو سوري

قلاکاني ئې هم ورته ورکړي.

دَ محمود په ژوند کښې چه کوم جنګ ډېر سخت او ګران وُهٔ هغه دَ سومنات جنګ وُهٔ. له دې نه څه ۸۰۰ کالَ پس یو ګورنر جنرل دَ خپلې ګټې په سندره کښې هغه راجګانو ته چه دَ هغو درسالونه محمود لوټلي وُو دا واقعه یاده کړه. دا دَ سومنات جګړه وَه. سومنات دَ کاټهیاوار په جزیره نما کښې یو بندر وُهٔ. چه دَ دولت او دَ زیرکۍ او دَ بامبرانو دَ زور په وجه ډېر زیات مشهور وُهٔ.

دَ محمود غونډ شوم او دیندارَ سړي په زړهٔ دا داسې عیبونه وُو چه دَ دې لرې کول ضروري وُو. په ستمبر سنه ۱۰۲۴ء کښې هغه له غزني نه رهوان شه دَ پیاده فوځ نه علاوه دېرش زرَ سوارهٔ ورسره وُو. اول ئې ملتان واخست بیا دَ ستلج او دَ راجپوتانې په مینځنې رګیستان باندې تېر شهٔ اجمیر ته ورسید. دَ دې شکې دَ سفر دپاره هغهٔ ډېر اوښان او دَ خوراک ډېر سامان ځان سره اخستې وُهٔ. محمود چه اجمیر ته ورسید نو دَ دې ځای راجا ښهر پرېښو وتښتېد. محمود ښهر لوټ کړ او دَ قلا وهلو ته معطل نهٔ شهٔ. وړاندې لار ئې ونیوله. او په هغه مینځ کښې ډېرې قلا ډکې ډکې له توُرزنو سړو به وله په خراغلي مګر دار به ئې خطا شهٔ. بې هیڅ به ئې حکم قبول کړ. داسې کوچ په کوچ ئې منزل قطع کاوهٔ روان وهٔ. آخر دَ زیارت په ورځ سحر وختې سومنات ته ورسید.

دَ "فرشته" خاوند لیکي چه محمود دلته راورسید نو په یوه تنګه جزیره نما بانډې یوه لویه قلا ئې ولیدله چه سړي به ګمان کاوهٔ چه ګنډِ سر ئې آسمان ته رسیږي- او دَ دریاب اوبه ئې له دیوال سره جنګیدلې- ډېر هندوان ئې په سر بانډې ناست وُو- تماشه ئې دَ مسلمانانو کوله- او په اوچت اواز به ئې وېل چه تاسو دلته سومنات راوستلي یئ چه په یو وار ټول قتل کانډې- او څومره بُتان چه تاسو په هندوستان کښې مات کړي دي دَ هغو بدل درنه واخلي- محمود چه دا واورېدل نو مسکَی شهٔ او بیا صبا ته په لوي سحر دَ غشو په باران ئې مورچې صفا کړې او په قلا ئې حمله وکړه- ترکیانو سپاهیانو کمندونه وغورزول او دَ قلا سر ته وختل- خو هندوانو ته دَ بامبرانو په وینا جوش ورغئ او دوئ ئې په شا کړل- او چه ماښام شهٔ نو معلومه شوه چه دَ محمود فوځ یوه ذره هم مخکښې نهٔ وهٔ تلی- بل صبا ته هم دغه حال وهٔ- دښمن په پرونئ تُوره بانډې ډېر زړهٔ ور شوی وهٔ ښهٔ جنګ ئې وکړ-

په دریمه ورځ محمود کته وکړه- ځني خو وائي چه دَ ګجرات راجا په مدد رارسیدلی وهٔ- ولې غالب ګمان دا دی چه بعض هندوان سپاهیان په خپله کته بانډې دومره غاورَ شوي وُو- چه سم میدان ته راووتل- مګر هلته هغوئ ماتې وکړه- په دې ماتې دَ قلاکانو دَ جنګیانو هم زړونه پرېوتل- او سومنات محمود ته په لاس ورغئ-

دَ هندوانو سپاهیان قدم په قدم درمسال ته په ورستو تلل۔ دي نه پس قتلِ عام شروع شهٔ۔ ابن اثیر وائي چه ډلي ډلي هندوان دَ سومنات درمسال ته ننوتل او په ډیري عاجزئ زارئ او سرو سترګو ئ دَ خپل دیوتا ته دعا وغوښته او بیا له درمسال نه راووتل په داسي شان جنګ ئ وکړ چه اکثر پرِ هلاک شول۔ چه څه لږ غوندِ پاتي شول هغوئ په کشتو کښي کښیناستل دَ وتو نیت ئ وکړ۔ خو څني ئ له توري تیر کړل او څني په دریاب کښي ډوب شول۔

له درمسال نه چه کومي خزاني راووتي هغه بي حسابه وي۔ "فرشته" لیکي چه دَ غزنِي بادشاه کوم جواهرات او سرهٔ زر دلته ولیدل هغه دَ یو ډیر لوي بادشاه دَ خزاني نه هم ډیر وُو۔

دَ ګجرات اوبهٔ دَ محمود دومرهِ خوښي شوي چه تر یو کالَ پورِي هغه هلته پاتي شهٔ۔ بیا ئ هلته یو تلنګي هندو حاکم مقرر کړ او واپس راغیٔ۔ په لارهِ کښي هغهٔ واوریدل چه دَ اجمیر راجا یو پي شمیر لښکر راجمع کړئ دي او لار ئ نیولي دَه۔ دَ محمود فوځ ډیر ستړي ستومانه وهٔ څکه ئ دَ جنګ مصلحت وُ نهٔ لید او دَ سند دَ نورپریواتهٔ رګیستان په لار باندِ روان شهٔ۔ لښکر ته څاي په څاي دَ حرخ دَ اوبو دَ ګیاه ډیرهِ سختي ورسیده او دَ سختي ګرمٔي او دَ لاري ښیونکو دَ ناقابلتوب په وجه یا په تکئ دَ هغهٔ دَ فوځ ډیر سپاهیان هلاک شول۔ دَ ګرمیٔ

او تندي له دَ هغهٔ په لښکر هسې سختۍ راغله چه هر چا ويل
چه هسې وَ دَ قيامت نښه ظاهره شوه - او لکه چه دَ ملتان رسيدو نه
وروسته سومنات له محمود نه ډېر بدل اخستي وي - له ملتان نه
وړاندې تر غزني پورې لار آسانه وَه - محمود دَ سنه ۱۰۲۶ء په اولو
ورځو کښې غزني ته ورسيد -

په غزني کښې يې چه لږه غونډې دمه وخوړه نو محمود دَ جټانو
غوښې تاوولو دپاره غزني نه راووت - دي خلقو دَ دهٔ فوځ چه له
سومنات نه راتهٔ تزنولي وهٔ - دا جاټ قام دَ تاتاريانو دَ سيوي
جيتاني فرقې له نسل نه وهٔ او په هغه ځاي آباد وهٔ چه اوس
کوم ځاي بهاولپور دي - چه محمود يې وليد نو هغه خلق دَ
اباسيند په ټاپوانو کښې پټ شول - ليکن محمود مخکښې فکر کړي
وهٔ - کشتۍ يې ځان سره اخستي وي او په هغو کښې يې فوځ
کښېنوهٔ هغه خلقو ته يې ښه سزا ورکړه - او بيا غزني ته واپس
راوګرزيد -

محمود له دې نه پس بيا په هندوستان حمله وُنهٔ کړه -
ټول عمر يې په بل حملي کړي وي اوس په دهٔ حملي شروع
شوي - دَ غزني بادشاه دَ خپل قوم کمزورتيا په خپل ژوند کښې
دَ يو بل قوم له لاسه وليده -

دا قوم سلجوق وهٔ - معلوميږي چه سلجوق ترک له خپل
تاتاري حاکم نه جُدا شوي وُو او دَ خپل سلجوق سردار سره دَ
سيحون سيند کس اړخ ته جاوند نوم ځاي ته تښتيدلي وُو

دَ سلجوق زامنو دَ سلطان محمود بادشاهي منلي وَه او دَ سلجوق
څني خپلوان دَ محمود په فوځ کښې نوکران وُو۔ او امیر ابنِ قادر
سلجوقي څو دَ محمود په طبیعت دومره ننوتيَ وُه چه په سنه ۱۰۲۱ء
کښې دَ هندوستان یوه قلا ورته محمود بخښلي وَه۔ په اصل کښې
سلجوقیان محمود پخپله بهادران او غازیان کړي وُو۔

اوس هغو دا بهادرِي او غازِي توب په محمود بانـدِ وچلاوُه
سلجوقیان دَ جیحون سِیند نه راپورېوتل او دَ محمود دَ قطب
دړدي علاقه باند يُ حمله وکړه او دَ دهُ جرنیلان يُ مات کړل
علاقه يُ لوُټ کړه۔ دَ ناکامُ محمود ورسره جنګ وکړ او ذديُ
يُ په شا کړل او چه دَ طاعت منلو لوظ قول يُ ترِ واخست
نو پري يُ ښول۔ بیا چه تر کومه محمود ژوندَي وهُ سلجوقیانو
دَ جنګ خیال په زړهُ کښې رانهُ وړ۔

دَ دي نه پس فتحَ دَ محمود آخره فتحَ وَه او له دي لوړو
ستولو فتحو نه څه کمه نهُ وَه۔ ایران په اصل کښې ورنـیيَ دَ
سامانیه بادشاهانو په قبضه کښې وهُ۔ لیکن بني بویهه چـه
دیلمه هم ورته وائِي په سنه ۹۳۲ء کښې دا دَ سامانیانو نـه
جُدا کړ او هلته يُ یوه آزاده بادشاهي قایمه کړه۔ دَ محمود په
زمانه کښې ایران دَ یوي ښځي په لاس کښې وهُ چه دَ خپـل
مړ خاوند نه پس دَ خپل ماشوم زوي دپاره يُ دَ ایران
انتظام کاوهُ۔ دَ دي کُنډي په زمانه کښې محمود تش په دي
وجه چه هغي ترِ نه په عاجزيُ امان غوښتيَ وهُ حمله نهُ وَه

کړي. لیکن چه دَ هغې زوي بادشاه شهٔ. نو یو داسي شاکاره انتظام یې راواخست چه محمود خواه مخواه حملې ته تیار شهٔ. او فی الحال په سنه ۱۰۲۷ء کښې له غزنۍ نه ووت او هغه خلمې بادشاه یې په قابو کښې راوست ایران یې خپل ملک سره شامل کړ.

له دې نه څه دوه کالَ پس په ۲۹، اپریل سنه ۱۰۳۰ء کښې محمود مړ شهٔ. او په دنیا کښې یې خپل نوم پرېښود. چه دَ دهٔ دَ نوم تر اوسَ پورې دَ ایشیا مسلمانان عزت کوي. په دې خبره چه هر څرنګه به یې بړې کاوهٔ محمود هم په هر شان سره دَ نامتُووالي حقدار وهٔ. هغهٔ هیڅرې باثلات نهٔ وهٔ کړي. څکه چه دَ علم او دَ هنر یې ډیر قدر کاوهٔ. هغه ریښتیا دَ عزت لایق وهٔ څکه چه هغهٔ په لوټلو خزانو باندې په خپلو امیرانو کښې تش دَ هنرونو شوق نهٔ وهٔ پیدا کړي. بلکه یو دارالعلوم یې جوړ کړ. وظیفې یې مقرر کړې. دَ عالمانو تنخواه دپاره یې جُلا خزانې جوړې کړې. له لرې لرې نه دَ کمال خاوندان یې په غزنۍ کښې راجمع کړل. او په خپل قومي تعلیم کښې یې تر څپله طاقتَ دَ ترقۍ کوشش وکړ. مګر افسوس دَی چه دَ یو خاندان جوړونکي په حیثیت هغهٔ هیڅ وُ نهٔ کړل. دَ هغهٔ دَ نامرادۍ وجهې هم هغه وې کومې چه دَ نپولین وې. هغهٔ دا ډیره خطائې وکړه چه دَ خپل تخت دَ ځاي دَ محکم کولو نه وړاندې یې دَ نورو ملکونو دَ لاندې کولو کرښه ارته کړه. نتیجه یې دا شوه چه هم دَ

هغهٔ د زوې په زمانه کښې په بادشاهۍ کښې کمزورتیا راغله.

محمود دوه زامن پرېښې وُو محمّد او مسعود. د محمّد طبیعت نرم وهٔ. هغه د جماعت سړي وهٔ. لیکن مسعود ډېر بهادر او د بادشاهۍ لایق وهٔ. د محمود په وصیت بانډ محمّد د خپل پلار په ځاي کېښنانست. لیکن د هغهٔ ډېري ورځي بادشاهۍ نصیب نهٔ شوه. په تخت کښېناست. په پنځوسمه ورځ د هغهٔ خپل فوځ د مسعود په لسُون یاغي شهٔ او د مسعود په پره شهٔ. محمّد هغه وخت د ایران نه خراسان ته راتهٔ. محمّد په خپل یاغي فوځ پسي د هندوانو سوُرو یو ټولي واستاوهٔ چه هغهٔ سره نوکران وُو. دا هندوان داسي په اخلاص وجنګېدل چه یاغیانو ته ئي ډېر نقصان ورساوهٔ. لیکن آخر هندوانو ماتي وکړه. او د هغو سردار ووژلې شهٔ. د یاغیانو کومک چه مسعود ته ورسېد نو هغهٔ محمّد ته د صلحې دپاره یو څو شرطونه ورولېږل. لیکن د هغو په منلو کښې د محمّد په اختیار کښې څه قدرِ فرق راتهٔ. ځکه ئي تر نه بالکل انکار وکړ او جنګ ته تیار شهٔ.

محمّد د جنګ په کار ډېر نهٔ پوهېدهٔ. ځکه ورته دا معلومه نهٔ وَه چه د یاغیانو سمولو دپاره دا بکار دي چه سړي تکړه وېنې او تړیخ وي. د هغهٔ انو بهانو د هغهٔ نه خپل سپاهیان واړول. او یو ځاي کښې داسي وشول چه د هغهٔ د سر نه تاج پرېوت. نو د فوځ سردارانو دا په ناکاره فال ونیوهٔ. او کومه بد نیتي چه د هغو په زړونو کښې وَه هغه ئي پوره کړه. یعني د ۲۶ اکتوبر سنه ۱۰۳۰ع

په شپه مصلحتيان دَ محمد له خيمي نه چاپيره شول- هغه يې قيد کړ- دَ والي په قلا کښې يې بند کړ- او بچېله هرات ته لاړل دَ مسعود نوخ سره يوځاي شول- او هغه يې بادشاه کړ- مسعود په تخت بانډِ دَ کښيناستو سره ورښتې حکم دا وکړ چه ځما دَ ورور سترګي وباسئي-

مسعود اګر که پلار ته نهٔ شهٔ رسيدَي خو بيا هم په کښې ډير صفتونه دَ پلار په شان وُو- مسعود بانډِ داسي آفتونه راغلل چه چري په محمود نهٔ وُو راغلي- محمود خو دَ يوي بادشاهۍ تشه رده اېښي وَه- ليکن دَ مسعود په ذمه دَ هغې سنبالې شهٔ- او دَ غزسهٔ جنکيالي قامونو نه يې ملک ساتل په سر شو- دا غزسه سلجوقيان وُو-

مونږ اول ليکلي دي چه دا خلق محمود بنهٔ وهلي وُو- خو چه محمود مړ شهٔ نو دَ دوئي بيا سترګي وغړيدي- مسعود لا دَ خپل کور بندوبست نهٔ وهٔ کړي او اوس له غزني نه هرات ته راغلي وهٔ- چه دَ قطب ډېري دَ سرحد خلقو دَ سلجوقيانو له لاسه ژړا وکړه- دي ورځو کښې مسعود دَ قاچي او دَ کمران دَ حاکمانو تر منځ شوي وهٔ او دَ هغو روغه يې کړي وَه- ليکن دَ دي دَ مضبوطيا دپاره لا هم هلته وهٔ- ځکه دَ سلجوقيانو دَ جنګ دپاره بچېله لاړ نهٔ شهٔ- خپل يو جرنيل عبدالرئيس نوم يې وليږهٔ- خو هغهٔ کته وُ نهٔ کړه او سلجوقيانو په بخارا او ثمرقند غونډِ لويو ښهرونو بانډِ قبضه وکړه-

مسعود د قاچي او د کمران په معاملو کښې داسې ښتي وه چه اوس يې هم د سلجوقيانو مقابلې ته رسد وُ نهٔ شهٔ- او د خوارزم لوي جرنېل التونتاش يې ولېږهٔ او ښځوس زرَ سرېي يې د هغهٔ کومک دپاره غزنۍ نه واستول- التونتاش په جيحون سيند پورېوت- بخارا يې واخسته او بيا په سمرقند وروخوت- د سلجوقيانو سردار الپتګين د دښمن رسيدو سره نوځونه له ښهرَ ووېستل او په يو داسې ځاي لاړ ودرېد چه ورښې يې صحيح کړي وهٔ- دا ځاي ډېر محکم وهٔ- د دې په مېنځ کښې يو کلي وهٔ- ښې طرف ته يې يو سيند او کيڼ ځنګل وهٔ- او کسي ډډي ته يې يو اوچت غر وهٔ او لا تماشه دا وه چه له دې غر نه هغه خوا د جنګ له مېدان ډېر لرې الپتګين يوه لويه رساله کښېنولې وَه-

دا جنګ د غزنۍ د بهادر د مړانې او د هغهٔ د سپاهيانو د ټکره والي په وجه ډېر مشهور دَي- التونتاش د خپل حريف د طاقت څه پروا وُ نهٔ کړه او توکل يې وکړ- د هغهٔ په پيادهٔ وُ بانډ ورپرېوت او د دښمن په فوځ يې خپل سرهٔ غالب کړل- ناڅاپه پټو سوَرو له ورستو نه د هغهٔ په فوځ حمله وکړه- ليکن د التونتاش وار خطا نهٔ شهٔ- هغهٔ مخامخ هم جنګ کاوهٔ او د څٹهٔ فوځ مخ يې دي ورستَنو خلقو ته هم راوګرځاوهٔ- ډېر زوروَر جنګ وشهٔ- التونتاش په ځان يې کښې ډېر بد ولګېد ليکن سلجوقيان يې جر کړل- په خپل وس يې په نود جنګ کښې

خپل زخم پټاوهٔ ځکه برش ئي څه کم نهٔ شهٔ او دَ سپاهيانو زړونه ئي ټکره وُو. ليکن چه کته وشوه نو هغهٔ دَ خپل فوځ افسران راټول کړل - او ورته ئي وُوِ چه ماکوم زخم خوړلې دَي له هغي نه زهٔ رغيدَي نهٔ شم - اوس تاسو ته دا پکار دِي، چه دَ سلجوقيانو سره روغه وکړي. هغوئي هغه وخت روغه وکړه خو دَ روغې په شرطونو کښې ئي ثمرقند له لاس ووت.

مخي کال ته په ۱۰۲۳ه کښې مسعود دَ هندوستان په نيت کشمير ته لاړ. دَ دي مهم مجمل عونډِ حال نه دومره معلوميږي چه دهٔ دَ کشمير دَ غرونو بس يوه سرسټي نوم قلا واخسته ځکه چه په دي کال يو زورَور قحط په ټول ايشيا بيا خاص په ايران او هندوستان بانډِ راغلي وهٔ. دَ هغه قحط په وجه دهٔ نوره څه کته وُ نهٔ کړه.

په ۱۰۲۴ه کښې سلجوقيانو سره بيا جنګ وشهٔ دا ځل هم مسعود لاړ نهٔ شهٔ. او خپل دوه جرنيلان بغتګِي او حسين ئي وليږل - چه دواړه فوځونه مخامخ شول نو سلجوقيانو دَ غزني جرنيلانو ته وليګل چه که چري تاسو ځمونږ کال په کال قلنګ په ځان منئي نو مونږ جنګ نهٔ کوُو. دَ دي ډير سپک جواب هغوئي ورکړ. نو سلجوقيانو دَ غزني په کيمپ سمدستي حمله وکړه ليکن ډير سخت شکست ئي وخوړ او دَ هغو بال بچ او ډير اسباب برباد شهٔ. دَ دي کتي په خوشحالئي دَ غزني فوځ تار په تار شهٔ او لوټ ته ئي لاس واچاوهٔ - په دي کښې دَ سلجوقيانو

یو دمه‌ګیر ټولی چه په جنګ کښې ته وه شریک شوی ناڅاپه پر راپریوت - د غزنیانو کټه په بایلات بدله شوه او څه مُده سلجوقیانو بیغمه لوټونه کول -

مسعود اوس هم د دوی څه پروا و نه کړه او په سنه ۱۰۳۲ع کښې ئې ورښتي لام په هندوستان وتاړه - په ستلج باندې ستیر شهٔ هانسئ ته لاړ - دا ځای ګران ښکاریده خو مسعود نر سنه شیر ورځي چاپیره پریوت او وائې خست - دلته ورته ډیره خزانه په لاس ورغله -

دي ځای نه سونی‌پت ته لاړ چه له ډیلي نه ۱۵ میل دی د دي ځای د قلاګانو او د درمسالونو ټولي خزانی ئې تر لاسه کړي - بیا ئې په لاهور کښې خپل زوی مودود نائب مقرر کړ او غزني ته لاړ -

په دي مُده کښې د سلجوقیانو داړي ورځ په ورځ زیاتیدي او دا ویره ئې لا بیله تیرَوله چه نن صبا په بلخ او بخارا باندې قبضه کوو - آخر په سنه ۱۰۳۷ع کښې مسعود بیجَنله په هغو حمله وکړه - ځکه چه ټول رعیت په ده باندې دا زور اچولی وه - د خراسان یو رئیس خو ورته لس بېټونه راالیږلي وو - چه په کښې ئې داسي لیکلي وو چه سلجوقیان ورښتي میږي وو - اوس داړه واړه ځناور شول - که دوی چا تباه نهٔ کړل نو لږه مُده کښې به ورته اژدها جوړ شي -

مسعود چه کومه ورښتئ الا په سلجوقیانو باندې ودیسته

هغه له بد نصيبي ورځې خوشي لاړه - دَي دَ کال په آخر کښې له بلخ نه ووَت او په جيحون سيند پورېوت په "ماوراء النهر" صوبه باندې يُې قبضه وکړه - ليکن دَ ژمي موسم او داورو بيا غزنيَ ته راواپس کړ - او په بيرته راتلو کښې ډير کړاو ورپيښ شهٔ -

په دي مُده کښې دَ سلجوق يو سردار چاکربيګ دَ بلخ احښتو اوازه وکړزوله - او مسعود لا غزنيِ ته نهٔ وهٔ رسيدلي چه دَ بلخ دَ حاکم يوه عرضي ورته راغله چه هغهٔ په کښې کومک ډير ضرور غوښتَي وهٔ -

بادشاه سره دَ فوځَ بلخ ته روان شهٔ - ليکن دَ سلجوقيانو بل سردار طغرل بيګ چه دَ بادشاه دَ بلخ ته تلو نه خبر شهٔ نو به دَو غزنيِ ته راغيَ او دَ ښهر خواوُشا علاقې يُې ښې لتاړ کړي - او دَ بادشاه اصطبل يُې خالي کړ - او هله لاړ چه ښهر ته يُې ډير ضررونه ورسول - دلته بادشاه لا بلخ ته نهٔ وهٔ رسيدلَی چه چاکربيګ مرو ته راغيَ - دَ دي دوارو ځايونو په مينځ کښې ۱۸۰ ميلَ مزل دَي - مسعود هم دلته نه ورسيي ببړي ووُهلي ليکن په لاره کښې ورته سلجوقيانو دَ روغې منت وکړ - چه مونږ ته که دَ روزَيُ دپاره يوه علاقه راکړي نو مونږ به بيا څه سنهُ وايُو - مسعود دا ومنله او يوه ټوټه زمکه يُې له خپلي بادشاهَيُ نه ورته بيله کړه -

دا صُلحه داسي وَه لکه چه څوک اوبهٔ په ډانګ بيلوِي - ځکه چه سلجوقيان يوه جُمعه هم په خپل لوظ وُ نهٔ دريدل - چه

هرات ته واپس شهٔ نو هغو دَ دهٔ په بدرګه بانډِ حمله وکړه او
په څان دَ بادشاه او دَ هغهٔ دَ سپاهیانو اسباب يُ لوټ کړ-
مسعود راوګرزید او دَ سلجوقیانو نه يُ بدل واخست - هغه
چه له هرات او نیشاپور نه تیر شهٔ طوس ته راغئَ نو دلته
پرِ سلجوقیانو بیا حمله وکړه - مګر بیا هم دَ هغهٔ له لاسَ جبر
شول - لیکن دي بي شرمو به یوځاي وهل خوړل او سبل
ځاي به يُ سر ایستهٔ -

مسعود زئَ په نیشاپور کښ تیر کړ - بیا يُ فوځونه
واخستل په دي نیت مرو ته لاړ چه دَ خپلو دښمنانو سره
آخره فیصله وکړي - سلجوقیانو هم دا خبره غوښتله - هغوئِ په
مرو کښ دَ خپل مشهور سردار طغرل بیک دَ لانډِ یو لوي
فوځ جمع کړ - دي خلقو څو اول خپل واړهٔ واړهٔ سرداران په
بادشاه وُوهل - تیر يُ ورکړ - او دَ دي کتهي په تیر کښ يُ تر
دننه ناکن راوست - دَ دي ځاي دواړه غاړه لاري يُ په
فوځونو مضبوطي کړي وي - دَ بادشاه دلته رارسید و سره
هغو دَ غزني په فوځ حمله وکړه - دَ دوئ شور او غوغا او دَ
بي شمیرَ سوَرو ریکي يُ چه ولیدي نو دَ غزني یو حشو
سرداران وارخطا غونډ شول او ډیر اوتر شول له میدان
نه وتښتیدل - څو بادشاه وُنهٔ تښتید او ترڅو يُ چه دَ اردل
سپاهیان نهٔ وُو تښتیدلي په جنګ کښ مونډک ولاړ وهٔ --
لیکن په دي یو څو سوَرو به هغهٔ دَ کتهي څه طمعَ کوله؟ آخر

د دښمن د صفونو په منځ مرو ته وتښتېد. اوس ګویا کښې هغهٔ ته خپلې بادشاهۍ جواب ورکړې وهٔ. له مرو نه غور ته او له غور نه غزني ته راغئ. په لاره ورته دا ښه معلومه شوه چه ما ته دا یو داسې درد راورسېد چه د دې علاج د اباسین د نوَرِ بریوانهٔ په مدد باندِ ګران دَي. لیکن د هغهٔ په لاس کښې هندوستان وهٔ د هندوستان ښېرازَ او د خزانو نه ډک ملک د ستلج تر سیندَ د هغهٔ د حکم لاندِ وهٔ. چه غزنِي ته راورسېد نو مسعود یوخ نیت وکړ چه په خپل قسمت باندِ لَډِي خېژولو دپارهِ د هغهٔ هندوستان ته تلل او له هغه ځاي نه فوځ راجمع کول خواه مخواه بکار دِي.

د هغهٔ چه څومرهِ وس وهٔ ډېر مال اسباب یُ په اوښانو بار کړ او خپل ړوند ورور محمد یُ ځان سرهِ کړ له غزنِي نه روان شهٔ. په بلخ کښې یُ خپل مودود زوي پرېښود چه څهٔ خو د دښمنانو مقابله کوِي. او بل مادود زوي یُ ملتان ته راولېږهٔ. دریم زوئُ یزید یُ په غزنِي کښې پرېښود چه د خټکو ابدالیانو او غلزیو ترِ نه سترګه سوزِي.

مسعود لاهور ته روان شهٔ خو په لارهِ د دي خبرِي آزمېښت وشهٔ. چه وطنِي فوځ د بایلات او د کمزورتیا په وخت نهٔ بکارېږِي. چه د جهلم د سیند غاړِي ته ورسید

نو دَ هغهٔ ځیل فوځ دَ ساروانانو سره صلاح وکړه او په ځیلو کښې ئې دَ خزانې ویشلو خبره وغښتله. مسعود به دې خبره ډیر په قهر شهٔ. او دَ فوځ ځنې خلقو ته ئې کِله وکړه. لیکن دَ هغوئ ټولو یوَ مصلحت وهٔ. او دَ یاغې کیدو ئې سنه بهانه صحیح کړې وَه. هغوئ دَ بادشاه رونډ ورور له قیدَ راووبیست او په زور ئې ورته مبارکې ورکړه مسعود ونیوَې شهٔ او نوِي بادشاه ته دَ فیصلې دپاره پیش شهٔ. لیکن محمد ډیر زړهٔ سواندَې وهٔ. هغهٔ مسعود ته اجازت ورکړ چه دَ ځان دپاره یوه قلا خوښه کړه او دَ ځیل آل عیال سره هلته وسیږه.

محمد په دې خیال چه له ړندې ورځې هغه دَ بادشاهئ بندوبست نهٔ شي کولیَ ځیل زوې احمد ته ئې ځیل ټول واک اختیار ورکړ. ټش دَ "بادشاه" نوم ئې ځان دپاره پریښود. څه مودې پورې پلار زوې دوارو په پنجاب کښې دَ ځیل فوځ بندوبست کاوهٔ. چه دَ مسعود هغه زوئ چه دَ بلخ حاکم وهٔ دَ پلار له حالَ خبر شهٔ نو غزنې ته راغئ او هلته ټولو دَي بادشاه کړ. بیا مودود په چغه دَ ځیل ترهٔ او تربوُر مقابلې دپاره راورسید. محمد او دَ هغهٔ درې واړه زامن احمد عبدالرحمان او عبدالرحیم ونیوَې شول. بې له عبدالرحیم نه چه هغهٔ به دَ مسعود په قید کښې ډیر مدار کاوهٔ. نور ئې ټول مړه کړل دې نه پس دَ محمد یو بل زوې چه هغه پلار دَ ملتان حاکم کړې وهٔ. هغه هم مودود وُوهلو او مړ ئې کړ.

دَ مسعود يو ماذود نوم بل زوي هم وَهٔ چه په لاهور او دَ لاهور گير چاپير علاقه باندِ حاكم وَهٔ. هغهٔ دَ خپل ورور بادشاهي وَهٔ نهٔ منله. او دواړه ورونړه لاهور ته نږدي دَ خپلو قسمتونو فيصلي كولو دپاره سره مخامخ شول. دَ ماذود قسمت په اول ډير زورَور ښكاريدهٔ ځكه چه په كومه ورځ جنگ كيدونكي وَهٔ دَ هغي نه يوه ورځ وړنبي ناښام دَ هغهٔ دَ ورور ټول نوځ راغئ او هغهٔ سره شهٔ. ليكن بله ورځ سحر خلقو هغه غريب په خپل كټ كښ مړ بياموند. له ناچارئ ټول نوځ دَ هغهٔ دَ ورور تابع شهٔ. او دعسي هغه دَ غزني دَ ټولي بادشاهئ بادشاه ومنلئ شهٔ.

موَدود چه له دي نه وزگار شهٔ نو دَ سلجوقيانو جنگ ورته پيښ شهٔ. دي خلقو چه مسعود مات كړي وَهٔ نو سپه هرات، غور او سيستان باندِ يُ قبضه كړي وَه. اَو اوس دَ دي قوم يو ټولي بلخ هم لاندِ كړي وَهٔ او هغه تركستان يُ چه اوس ورته "افغان تركستان" وائي واخست. او دَ غزني جرنيل يُ دَ كابل په لاره غزني ته راوزغلولو. مخي كال ته په سنه ۱۰۴۴ كښ سلجوقيان ځن په غزني راوختل. ليكن دَ غزني جرنيل طغرل بيگ هغوئ مات كړل او له ملك يُ باهر وُويستل. طغرل سلجوقيان په زغلولو زغلولو تر قندهار پوري كوم ځاي چه قزلباش آباد وُو وُرسول. دي نه پس طغرل بچيله هم بادشاه سره وران شهٔ ليكن موَدود په وخت خپل افسران

وُلسول او هغوئ ډير په ښهٔ شان سره دَ طغرل فتنه دفع کړه.

دي ورځو کښ په هندوستان کښ هم عجيبه اړي ګړي پيدا شوي وهٔ. دَ غزني دَ خاندان دا کورنئ جګړي ئ چه وليدي نو راجپوتو ته دا فکر ورغئ چه اوس خو مونږ هم هغه ځيله آزادي چه دَ محمود قوت او لايقت رانه اخستي وَه بيا حاصلولئ شُو. دَ ټولو نه ورمبي دي کار ته دَ ډيلي راجه لاس واچاوهٔ. هغهٔ دَ ځيل فوځ په زور دَ غزني حاکمان له هانسئ، تهانسير او دَ دغي ګير چاپير علاقو نه وُويستل. بيا هغه کانګړي ته لاړ او هغه ئ هم واخسته. دَ دي راجه مراد چه حاصل شهٔ نو دَ نورو راجګانو ئ هم زړونه راوچت کړل او هغو ځيل فوځونه راجمع کړل په لاهور راوختل اوهٔ مياشتو پوري ئ لاهور قلا بند کړ. او دا قلابنديان چه ډير تنګ شول نو هغوئ له ډيري بدي ورځي ځان په مړو وشميرود او يوه سخته حمله ئ په باهر خلقو باندِ وکړه. له دي حملي نه هغوئ ته بي طمي فايده ورسيده او دَ هندوانو فوځونه وارخطا تار په تار وتښتيدل.

په داسي حال کښ چه دَ غزني خاندان دَ ځلورو وارو ګوټو نه دښمنانو کښ ګير وهٔ. سلجوقيانو په ايران او سيستان باندِ قبضه کړي وَه او دَ قندهار نور پريوانهٔ نه چه کومي صوبي دِي هغه ئ هم لاندِ کړي وي. دَ هندوستان ډير ښهرونه

او پنجاب له لاسه وتلی وهٔ. ناڅاپه دا خبر راغئ چه مودود چه د سلجوقیانو ترکو غوږ تاوولو دپاره تللئ وهٔ په لاره کښې مړ شهٔ.

د مودود په مرګ ملک کښې نوي جګړې پیدا شوې. د غزني سردارانو د مودود د څلورو کالو یو ماشوم زوی په تخت کښینولو او لقب ئې مسعودِ ثاني کیښود لیکن د بادشاه یو ورور ابوالحسن دی په دوه کړ او پخپله ئې ځان بادشاه کړ. او د مودود په کُنډه ښځه ئې نکاح وتړله خپله دعویٰ ئې مضبوطه کړه. د ابوالحسن د تخت ناستې ډېر اړې کړې پیدا کړ. د محمود غزنوي یو زوی عبدالرشید لا ژوندی وهٔ. هغه په سنه ۱۰۵۲ء کښې یاغي شهٔ او له ابوالحسن نه ئې تخت واخست. عبدالرشید چه په تخت کښیناست نو دوه لامونه ئې وتړل. یو د پنجاب یاغي ښهرونو تابع کولو دپاره او بل د طغرل حاجب په کمان کښې د سیستان واپس اخستو دپاره. او دا دواړه لامونه ئې وګټل. لیکن طغرل په دې خبره عمل وکړ چه "مېښې د کونټې د خاوند وي". چه لام نه بیرته راغئ نو هغهٔ په خپل بادشاه بانډې توره وچلوله بلکه د سبکتګین ټوله زیله ئې ختمه کړه. د سبکتګین په اولاد کښې تش درې تنه د دهٔ له توري نه خلاص شول چه وتښتېدل.

طغرل حاجب ته د دې قتلونو سزا په څلویښت ورځې

کښې دننه ورکړې شوه. یوه ورځ په عام دربار کښې چه راغئ او په تخت ې کښېنه اېښوه نو چا وواژه - او سر ې په نېزه کښې اوچت کړ ټول ښهر کښې ې وګرزاوه - دې نه پس د سبکتګین په اولاد کښې چه درې شهزادګان پاتې شوې وو - له هغو نه یو شهزاده فرخ زاد بادشاه شه.

فرخ زاد ډېر قابل بادشاه وه هغه ته خپل ځان هلک ښکاره شه نو نوشتګین نوم ې جرنیل ې خپل وزیر کړ چه هغه د عبدالرشید په زمانه کښې پنجاب اخستی وه - بیا ې د سلجوقیانو د جنګ دپاره چه د دې شور شر په وجه په غزنې راختل ولېږه د غزنې نه لرې لرې دواړه پرې مخامخ شوې - داسې توري توري جوړې شوې چه داسې زوروور جنګ چرې نه وه شوې - له صبا نوَرخاته نه تر نوَرپرېواته پورې جګړه عَن په کنده ولاړه وه چه تیاره شوه نو د غزنیانو د قسمت ستورې وځلید او بری ې نصیب شه.

په دې لویه کته د فرخ زاد دومره زړه غټ شه چه د خراسان د راخلاصولو ې هم سعي وکړه - د ده جرنیلانو سلجوقیانو ته یوه بله لویه ډیکه هم ورکړه - څو څه لږه موده پس د سلجوقیانو الپ آرسلان بادشاه بیا خراسان د دوې له لاس واخست - او دا صوبه بس همېشه دپاره د دې بادشاهۍ نه جلا شوه.

شپږ کاله پس فرخ زاد هم مړ شه - له ده نه پس د ده ورور ابراهیم په آرام سره په تخت کښېناست - د منهاج السراج

نوم کتاب خاوند لیکي چه دا یو لوی بادشاه وهٔ. عقلمند، انصاف دار، نیکوکار، خدا ترس، مهربان، مجلس دوست، دَ مذهب او دَ خلقو دَ سر سوَري .. او بالکل دَ خپل عزنیکهٔ محمود غونډ وهٔ. یوه خبره وَه چه په خوشحالو او آرام او دَ کور په عیش عشرت ډیر مین وهٔ. ځني وائي چه هغهٔ یو دیرش کالَ بادشاهي کړي وَه. ځني وائي چه دوه څلویښت کالَ. هغهٔ دَ سلجوقیانو سره روغه وکړه او دَ هغو دَ لاسه چه څومره ملکونه وُو په هغو ئ دَ هغو ملکیت ومنلو او خپل زویٔ مسعود ته ئ یوه سلجوقه شهزادګیٔ وادهٔ کړه. دَ دي بادشاه په زمانه کښ دَ دهٔ سپه سالار په هندوستان باند حمله وکړه. لیکن بیا پر بادشاه پخپله راوخوت. دَ دي حملي پوره پوره حال احوال نهٔ ښي موندَي. تش دومره معلومیږي چه دي په حمله کښ حمله کونکو ګټه کړي وه. ابراهیم په ۱۰۹۸ع کښ مړ شهٔ. او دري زامن او څلویښت لونړه تر پاتي شوي.

دَ دهٔ زویٔ مسعود په تخت کښیناست. دَ دهٔ نوم مسعود ثالث مشهور دَي او دَ غزني په تېر کښ دَ ټولو نه لایق بادشاه تیر شوَي دَي. دَي انصاف دار وهٔ. دهٔ قانونو نه سم کړل مالیي او ټکسونه ئ کم کړل. دَ هغهٔ ډیر خیال دَ دي خبري وهٔ چه په خپل رعیت کښ عدل او انصاف ښور کړي. دَ خپل تېر ټولو قابلو بادشاهانو په شان مسعود ثالث پوخ نیت وکړ چه په هندوستان باند خپله قبضه مضبوطه کړي.

هغهٔ دَ دي مراد په يوه ښه لار پوره کولو دپاره په لاهور کښې دربار کول راواخستل. دا ښهر دَ سلجوقيانو دَ يرغاي کيدو په وجه دَ دهٔ دَ بادشاهۍ يو صدر مقام شهٔ. وايي چه دَ دهٔ جرنيلان په هندوستان کښې دومره ترلري پوري په کټه لاړل چه محمود هم ترهغې نهٔ وهٔ تلې. او بيا يې دَ لوټ ډير مال راواخست واپس راغلل. ليکن پوره پوره حالونه دَ دي لام نهٔ شي موندي. مسعود ثالث ۱۷ کالَ بادشاهي وکړه او په ۵۱۱ھ کښې مر شهٔ.

دَ مسعود په مرګ بيا کورني جنګونه شروع شول دَ هغهٔ زوي ارسلان (دَ منهاج السراج خبره چه په خپل تکړه والي او بهادرۍ او همت کښې مشهور وهٔ) دا خيال وکړ چه دَ تخت کښيناستو کښې لويه جګړه پيښه نهٔ شي خپل ټول ورونړه يې قيد کړل او بچپله دَ تخت مالک شهٔ خو بدبختيي يې دغلته وه چه يو ورور بهرام دَ دهٔ له قيدَ بچ شوَي وهٔ بهرام يو خپل خوښنې سلطان سعيد دَ سنجر ته لاړ چه هغه په خراسان باندې دَ سلجوقيانو حاکم وهٔ. دي نه پس دَ بهرام او دَ ارسلان جنګ وشهٔ. څه مُدې پوري خو به کله يو زورور شهٔ کله بل. آخر ميدان دَ بهرام لاس ته راغئ او هغهٔ ارسلان مر کړ خپل طاقت يې مضبوط کړ. دا کورني جنګونه دوه کالَ پوري وُو.

بهرام دَ عالمانو او دَ هنروندو ډير قدردان او دَ سر

سورَي وَهٔ - هغهٔ شعر شاعرِي زياته کړه . دَ ايران مشهور شاعر نظامِي دَ هغهٔ دلبارِي وَهٔ او دَ دهٔ په نوم يې يو کتاب هم ليکلَي وَهٔ - په فرښته کتاب کښې دَ بهرام دَ سخِي توب ډير مثالونه راوړِي دِي -

بهرام په هندوستان دوه حملي وکړي او دواړه يې دي دپاره کړي وي چه دَ خپل سر تيرَ نايب شور شر دفع کړي - په دي کار کښې دَ هغهٔ مراد تر سره شهٔ چه هغه غزنِي ته واپس راغَي نو لږه مُده پس هغهٔ يو داسي کار وکړ چه دَ غزنِي دَ بادشاهَي دَ تباه کيدو او دَ هلاکت سبب شهٔ -

دا حال دَ فرښتي خاوند په دي شان ليکلَي دَي چه غزنِي ته راغَي نو لږه مُده پس بهرام خپل دَ خور خاوند قطب الدين افغان په جار مړ کړ - دا پښتون دَ هغه پښتون قام دَ سردار ورور وَهٔ چه هغهٔ په غور کښې حکومت کړَي وَهٔ او دَ سلطان محمود او بيا دَ سلجوقيانو دَ تابعدارَي نه پس اوس اوس يې ځان آزاد کړَي وَهٔ - داسي دَ نامِي جامِي او دَ عزت سړِي چه دَ دهٔ دومره نژدي خپل او دَ زورَور قام دَ سردار ورور وَهٔ بهرام به لِي له يوي غټي وجهي نه نهٔ وِي وژلَي خو دا صفا معلومه نهٔ شوه چه دا څه وجه وَه -

دَ غورِي پښتون ورور سيف الدين سُور دَ غور بادشاه في الحال فوځ راکښهٔ په غزنِي راوخوت - بهرام چه دَي وليد نو پنجاب ته تړِ وتښتيد دَ غور بادشاه په ښهر قبضه وکړه -

او هم دلته يې آستوږنه خوښه کړه- خپل ورور علاؤالدين يې غَور ته په حاکمۍ وليږهٔ -دَ غزنې خلق دَ غورې پادشاه نه خوشحال نهٔ وُو- هغهٔ ډير چلونه دَ خپل خان دَ قدر زياتولو وکړل خو يو هم بکار نهٔ شهٔ دي خلقو پټ بهرام ته سوال جواب وکړ چه په فلانې ورځ به نهٔ بيا خپل تخت واخستې شي- بهرام له دي مصلحت نه فايده واخسته او په داسي وخت غزنې ته راغئ چه ژَمي شروع شوي وهٔ او هغهٔ ته معلومه وه چه په غزنې کښې به دَ ښينتو فوځ نهٔ وي- دلته دي خلقو دَ غور پادشاه نه وُدِ چه موږ درسره کيږو او بهرام سره جنګ وکړو- هغهٔ چه په دي موسم کښې دَ خپل فوځ نه کار نهٔ شهٔ اخستې نو دَ دي تکانو درخواست يې منظور کړ او دَ غزنيانو سپاهيانو فوځ يې راواخست دَ بهرام مقابلې دپاره راووت- فوځونه لا مخامخ شوي نهٔ وُو چه دي تکانو دَ غور پادشاه ونيو او بهرام ته يې لاس ترلې ورکړ- بهرام دَ ګټمنډويو په شان غزنې ته ننوت- ليکن دهٔ چه دَ سيف الدين سره کوم عمل وکړ په هغه وجه تش دَ دهٔ په کټه باندې داغ وُ نهٔ لګيد بلکه ټول تمير دپاره يې مخکښې چه څه دَ ښي ورځي اميدونه وُو خاوري ايرې شول- دَ فرښتي خاوند ليکي چه دَ بدنصيب قيدې يې مخ تور کړ او په يو غوايې باندې يې مخ په ورستو سور کړ او په ټول ښهر کښې يې وګرزاوهٔ او بيا يې په شکنجه کښې مړکوبې کړ او سر يې ستړ پريکړ سلطان سنجر سلجوکي ته يې وليږهٔ- دَ قيدې پادشاه وزير

سید مجدالدین يې په پهانسۍ کړ.

په دې عمل علاءالدین ډیر په قهر شهٔ او پوخ نیت يې وکړ چه له غزني نه به پوره پوره بدل دَ دې خبرې اخلي. هغهٔ خپل فوځ راواخست غزني ته راروان شهٔ. بهرام وربانډې ډیر دې شپې وکړې خو په هغهٔ څه اثر ونهٔ شهٔ. علاءالدین ورته ځواب وکړ، ستا دا دَرَکې داسې نابوده دې لکه چه ستا وسله نابوده دَه. علاءالدین ډیر په تخو سترګو غزني ته راغئ چه ښهر ته راورسید نو بهرام جنګ ته راووَت. اګر که دَ بهرام فوځ دَ علاءالدین له فوځ نه ډیر زیات وهٔ خو "حق" دَ زړه‌ورو حمله کونکو په طرف وهٔ. آخر جنګ وشهٔ. دَ غزنیانو بې شمیرَ فوځ غوریان ډیر ځلې په شا کړل. لیکن هر ځلې پښتانهٔ بېرِ بیا بیا راوګرځیدل او په آخر کښې يې داسې زوروَره حمله وکړه چه دَ غزني فوځ يې ډیر بد بد مات کړ. علاءالدین خپله نیزه دَ بهرام په زوئ ورننغه کړه دَ هغهٔ هاتي مړ شهٔ. بهرام ته هم چرته آس په ګوتو ورغئ او ځان يې بچ کړ وتښتید.

علاءالدین ښهر ته ننوت کوم ښهر چه محمود او دَ هغهٔ ورستنې ټبر ښایسته کړي وهٔ. هغهٔ ته يې اور ورته کړ او دَ قتل او دَ لوټ بازار يې په کښې ګرم کړ. بې دَ محمود، مسعود اول او ابراهیم له قبرونو نه دَ غزني دَ ټولو بادشاهانو قبرونه او ښښې ښنانې يې وراني کړې. او ادهٔ ورځې قتلونه، اورونه او لوټونه وُو.

په فرښته کتاب کښې راوړي دي چه علاوالدين له غزني نه تهٔ. نو خپل زړهٔ يې په دې سوړ کړ چه د غزني ډېر د عزت او معتبر خلق يې ځان سره زنځيرونو کښې بوتلل او هلته يې حلال کړل. د هغو د وينو په خټه يې د خپل غور ښهر ديوالونه بيو کړل. علاوالدين غزني له غور سره شامل کړ. بهرام لا لاهور ته تهٔ وهٔ رسيدلې چه په لاره کښې مړ شهٔ. له دهٔ نه پس د هغهٔ زوئ خسرو په لاهور کښې په تخت کښيناست. (سنه ۵۵۲)

خسرو اوهٔ کاله بادشاهي کړې وه. د دهٔ د زماني ډېره حصه د خپل پلار نيکهٔ د ګدئ اخستو په فکر کښې تيره شوه. تر کومه چه علاوالدين په غزني کښې وهٔ نو دې په لاهور کښې وهٔ. ليکن چه علاوالدين غور ته لاړ نو دې راروان شهٔ. د دهٔ دا خيال وهٔ چه سنجر سلجوق بادشاه به د دهٔ مدد وکړي. ليکن د سلجوقيانو بادشاهي چه ټول عمر ئې د غزني د بادشاهئ مقابله کړي ده نن پرون پرې سر درونده وه. د سنجر د بادشاه نايب چه په خوارزم کښې د دهٔ له طرف حاکم وهٔ ياغي شهٔ. او د غيزه ترکمانيانو سلطان سنجر مات کړ تخت ئې تر واخست او بيا ئې في الحال په غزني قبضه وکړه. دا خبري چه خسرو واوريدي نو ناعلاجه لاهور ته بيرته لاړ.

غالب ګمان دا دې چه هغهٔ بيا د غزني څه نيت وُ نهٔ کړ. اګرکه په فرښته کښې څو داسي نهٔ دي راوړي او د منهاج خاوند هم په دي امنا کړي ده. او دا ريښتيا دي چه د غيزه

ترکمانیانو په غزني دوه کاله حکم وکړ نو سیتی غیاث الدین محمد غوري هغوی له هغه ځای وویستل.

خسرو په سنه ۱۱۵۵ع کښې مړ شه. له ده نه پس د ده زوی خسرو ملک بادشاه شه. دی د غزني د ټبر ورستنی بادشاه وه. خسرو ملک صابر، عیاش، او سخي ځوان وه. د ده طبیعت د بادشاهۍ لایق نه وه. د ده په زمانه کښې غیاث الدین غوري بیرله بیسي د ده په نورو علاقو حملې کولې. پېښور د هغه لاس ته راغی او بیا د اباسین او د پنجاب د سیند ترمنځ علاقه ئې هم واخسته او په سنه ۱۱۸۱ع کښې ئې پنجیله په لاهور ورورځوت. لاهور هغه علاقې ورکړې چه ورسبې د غوري لاس ته راغلي وي او د خپل بادشاه زوی ئې په یرغمال کښې ورکړ او ځان ئې تر خلاص کړ. دا معلومیږي چه غیاث الدین غوري په دې بهانه چه خسرو ملک خپل لوظ پوره نه کړ بیا لاهور ته راغی. لیکن دا پېره ئې ملتې وکړه واپس شه. ده پسې خسرو ملک د ګهکړیانو د غورونو قام سره جوړښت وکړ په سیالکوټ ئې حمله وکړه. لیکن کټه ئې و نه کړه دې زورورتوب د غور بادشاه دې ته تیار کړ چه ژر د خسرو ملک د ملک فیصله وکړي. نو د روغې په بهانه ئې سره د فوځ له لاهور نه راوغوښت. او چه هغه له ښهر راجل شه نو د غور بادشاه ناڅاپه د ښهر او د ده ترمنځ راپرېوت. خسرو ملک او د هغه زوی خو ئې اول قید کړل او بیا ورستو ئې ووژل. په خسرو باندې د غزني ټبر خلاص شه. (سنه ۱۱۸۶ع)

# دریم باب (۳)

## دَ غور ټبر

دَ غور دَ ټبر شجره نسب بانې مونټسټوارټ الفسټن، ډې جنکس، پروفیسر ډارټ او نورو قابلو تاریخ لیکونکو بحث کړي دي - غلبه راي په دي ده چه دَ دي ټبر اصل نسل له پښتنو نه دَي - او زهٔ دا غالب ګمان کوم چه دوئ دَ هغه قوم اولاد دِي چه هغه په سنه ۱۰۱۰ کښې چه دَ محمود سپاهیانو له هندوستان نه دَ لوټ بې اندازي مال اسباب راوړ نو دَ داړي کولو نیت ئ پرِ کړي وهٔ - او په دي خبرهِ محمود غزنوِي دَ هغو دَ غور مضبوطي علاقي بانې حمله کړي وه او بالکل تباه کولو ته ئ نزدي کړِي وُو -

چه دَ غزني آخرِي بادشاه ووژلي شهٔ نو غوریانو هندوستان ته مخه کړهِ - غیاث الدین غورِي خپل ورور محمد شهاب هم په بادشاهئ کښې شریک کړي وهٔ - هم دا ورور دَ خسرو ملک دَ مقابلي دپارهِ راغلئ وهٔ او هم دا ورور دَ هندوستان فتح کوِنکئ شهٔ - هرکله چه شهاب الدین وروستو په تخت کښیناست نو دَ "محمد غورِي" لقب ئ په ځان کیښود - ځکه به دَي مخکښ زهٔ هم په دي نوم یادَوم -

پنجاب ئ دَ غور په بادشاهئ کښې شامل کړ - محمد غورِي

دَ دي پوره انتظام وکړ- او بیا غزني ته واپس لاړ په سنه ۱۱۸۹ کښ هغه په ستلج پوریوَت او په خپل ورښي مهم هندوستان ته لاړ- هغه پوهیدهٔ چه دَ ده حریف پرتهي راج مهاراجه اودړي راج دَ راجپوتاني او دَ ډیلي دَ فوځونو مالک دَي- علاوه له دي نه دَ قنوج راجه خپله پخوانَۍ دبدبه او قوت بیا حاصل کړي دَي هغه په دي هم پوهیدهٔ چه کومو راجپوتو سره چه به زهٔ جنګیږم هغوئ دَ اننډپال او دَ جیپال دَ سپاهیانو نه زیات قواعد دان او تجربه کار دِي- هغوئ دَ مسلمانانو له وراني نه دا فایده اخستي دَه چه مضبوط شوي دِي او وچ په موچه مقابلي ته تیار شوي دِي- لیکن دَ دهٔ زړهٔ په کټه بانډ شاهدِي کوله- او دَ دي دپاره تیار وهٔ-

چه په ستلج پوریوَت نو بټهنډي (واقع پټیاله) سته ورسید- دا ځاي په دي ورځو کښ څه قدر مشهور وهٔ- چه په دي ځاي ئي قبضه وکړه نو تهانسیر ته روان شهٔ- او چه هغه ئي هم لاندِ کړ نو په کرنال بانډ ډیلي ته راغئ- دَ تهانسیر او دَ کرنال ترمنځ ۲۳ میل لار دَه- دا مینځنَئ علاقه یو ارت میدان دَي- دَ دوارو ښهرونو په مینځ کښ تراوړي نوم یو ځاي دَي- دلته دَ راجستان دَ پرتهي راج راجه دَ ډیلي دَ وسیرائي چاند رائ او دَ نورو راجګانو دوه لکه فوځ چه هغي سره ۳۰۰ هاتیان هم وُو، دَ محمد غوري مقابله وکړه- دَ محمد غوري فوځ په شمیر کښ ډیر کم وهٔ- لیکن دَ هغهٔ دَ فوځ

سپاهیان ډېر پوه وُو. او هغوئ هیڅرې په میدان کښې بایلات
نهٔ وهٔ کړې. دَ محمّد غوري دا یقین وهٔ چه په دې فوځ به
زهٔ دَ مخوانو غزنیانو حمله کونکو په شان وار په وار حملې وکړم
دَ دښمن دَ فوځ زړهٔ به مات کړم او بیا به په یوځل پرِ چغه
وباسم او تار په تار به ئې کړم. هغهٔ دا ځل دَ غزني دَ بادشاه
چل باندِ عمل وکړ او زر زر ئې پله پسې دَ خپل فوځ ټولي
دَ هندوانو دَ فوځ مېنځ ته ولېږل. محمّد غوري دا خیال وکړ
چه مېنځنې صفونه دَ ډېر اوږدوالي په وجه به کمزوري وي
ولي دا خبره نهٔ وَه هندوانو خپل بهادر سپاهیان دَ
وړنبي صف نه ورستو مېنځ کښې ودرولي وُو. له دې بنه دَ
هغو دا مطلب وُهٔ چه مېنځنۍ حصه خو به مسلمانان رامنځ کړي
او باقي دواړه بازوګان به وراندِ شي دښمن به له دوارو ډډو نه
راګیر کړي. لکه هم داسې وشوه. دَ هندوانو میمنې او میسرې
غوریان له څلورو وارو ډډو نه ګیر کړل. دَ محمّد غوري سپاهیان
چه پوه شول چه اوس خو خواه مخواه څمونږ بایلات دي نو
په تښتېدو ئې کوټې پورې کړې. محمّد غوري ته هم دا معلومه
شوه خو هغه وُنهٔ تښتېد او په دې طمع قطع کېدو لوړ هم تاوُ
ورغئ او دَ دښمن صفونه ئې څیري کړل عَن هغه ځوا ستړِ
وَوَت او دَ ډهلي راجه ته دومره نژدې شهٔ چه په خپله نیزه
ئې دَ هغهٔ مخ زخمي کړ. محمّد غوري به دَ راجه کار خلاص
کړي وَه. خو هغه په هاتي سور وهٔ او دَي په آس. هغه

يو بهادر راجه وهٔ هغهٔ هم دَ حملي جواب ورکړ او محمّد غورِي يې ورسټو کړ له آس يې کُوز وغورزاوهٔ- هغه وخت يو څو ياران ورسره وُو ورمخکښ شول او بادشاه يې په آس سور کړ له ميدان يې بهر ته وويست- دښمن غورياسنو پسي ۸۰ ميلَ لاړ- چه څوک تښتيدَي شول وتښتيدل- چه څوک پاتي شول هغوئ په بټهنډه کښ ديارلس مياشتو پوري قلابند وُو او بيا په څه شرطونو باندِ يې پريښول.

محمّد غورِي چه ماتي وکړه نو دَ ورور ملاقات دپاره غور ته لاړ. او له هغه ځاي نه غزنِي ته راغيَ. دَ خپل بابلات تاوُ پرِ تيريدهٔ- اګرکه هغهٔ دَ دي غم لري کولو دپاره ځنو ورځي دَ عيش عشرت سامان جوړ کړ خو چه کوم داغ يې په تمر لګيدلي وهٔ هغه چرته لري کيدلهٔ- دَ هغهٔ دَ لري کولو بس يو علاج وهٔ، يعني "بدل":

لنډه دا ده چه محمّد غورِي يو بل فوځ جمع کړ او له دي واقعي نه دوه کال پس په سنهٔ ۱۱۹۱ کښ هندوستان ته روان شهٔ دا حمله دَ هغهٔ دَ دلبار شاعر نظامِي په بيتونو کښ ستايلي دَه-

په فرښته کښ راوړِي دِي چه محمّد غورِي په پېښور، ملتان، او لاهور باندِ سرسوتِي ته ورسيد- دَ دي درياب په کسه غاړه باندِ دَ هندوانو دَ فوځ کيمپ پروت وهٔ، سرسوتي په سرهند کښ يو وړوکيَ غونډِ سيند دَي- او دَ همالِيئ غر

له لمني نه راوتې دَي په ریګستان کښې غیب شوي دَي. او بې له برشکال نه نور ټول کال پایاب وي او هندوان ئې ډېر عزت کوي. په دې وخت کښې چه دَ کوم رهٔ ذکر کوم دا سیند له پخواني حال نه ډېر زيات ختلی وهٔ.

دَ راجپوتو سردارانو په خپلې مرادمندئي دومره یقین لارهٔ چه هغوئ محمد غوري ته جواب وکړ چه که ته څمونږ شرطونه منې نو مونږ به تا سره صلح وکړو. محمد غوري ورته داسې جواب ورکړ چه له هغې نه داسې معلومیده چه دَي خو اصل کښې په رښتیا کمزوري دَي. خو څهٔ وکړي دَ مشر ورور په حکم جنګ ته راغلی دَی. دَ دې جواب اثر دا وشهٔ چه دَ هندوانو سپه سالاران بېغمه شول او دَ دښمن څه بند وبست ئې وُ نهٔ کړ. محمد غوري هم پرِ پوه شهٔ څکه دَ شپې چاودونه هم وړمبي په سیند پورېوت. هندوان دومره ډېر وُو چه څو پورې هغوئ دَ فوځ صفونه نهٔ وُو جوړ کړي نو غوریان ئې منع کړي وُو.

محمد غوري هم په دومره ساعت کښې دَ دښمن نو وُ صفونو دپاره خپل فوځ تیار کړ. هغهٔ دا فکر وکړ چه دَ دښمن سوارهٔ به پله پسې حملو باندې ستړي کړي. لیکن په دې خیال چه دښمن ئې ګیر نهٔ کړي په هره حمله کښې ئې خپلو سوَرو ته دَ راورستو کېدو تینګتیا وکړه. یعني دا حکم ئې ورکړی وهٔ چه دَ فوځ وړمبي صف دِ په دښمن حمله وکړي او چپه دَ

غشو باران جوړ کړي نو ورستو ډِ شي او دَ هغهٔ په ځاي ډِ يو دَم ورستني صف وډريږي۔ دغسي وار په وار ډِ هر صف په دي شان کار کوي۔ په دي چل سره هغهٔ تر ماښامَ پوري جنګ وکړ۔ دَ هري حملي په آخر کښ به دَ دښمن فوځ وړاندِ ځکښ کيدهٔ او بيا دَ نوي صف له لاسَ به يُ داسي ځپيږي وخوري چه هندوان به ستړِي شول او بيا دَ وړاندِ کيدو طاقت به پکښ پاتي نهٔ شهٔ۔ چه نورَ پړيوت نو دَ محمّد غوري يقين راغيَ چه اوس به هندوان ښهٔ ستړِي شوي وِي نو هم هغه ساعت يُ دولس زرَ خاصه لښکر واخست او دَ دښمن دَ فوځ په مينځ ومان يُ ځپاوُ وَروړ او په داسي بهادرَيُ او مړانه وجنګيد چه دَ دښمن زړهٔ مات شهٔ او ميدان دَ دهٔ شهٔ او په يو څو منټ کښ هندوان وارخطا تار په تار شولِ۔

دَ ډيلي نايب راجه په ميدان کښ مړ شهٔ۔ پرتهي راج قيد شهٔ۔ او وُوژلَي شهٔ۔ دَ هغهٔ ډيري خيمي او مال اسباب ولوټلَي شهٔ۔ محمّد غوري دي ځاي نه في الحال اجمير ته روان شهٔ او په لاره کښ يُ هانسي او نور ډير مشهور ځايونه فتح کړل، هلته ورسيد۔ دلته هغهٔ څو زرَ خلق له توُري تير کړل۔ او ډير يُ چاکران کړل او بيا يُ وربانډِ ډيره لويه جزيه ولګوله غزني ته راغيَ۔ او خپل وفادار دوست قطب الدين ايبک مريَيُ يُ ورستو پريښود۔ هغهٔ دَ محمّد غوري نه پس ميرټه، عليګړه او ډيلي بانډِ قبضه وکړه۔

لیکن دَ قنوج راجه لا نهٔ وهٔ تابع شوی. هغه په هندوستان کښې له ټولو نه معتبر او لوی بادشاه وهٔ. مسلمان تاریخ لیکونکی ابن اثیر وائی چه دَ هغهٔ عملداری دَ چین له سرحد نه تر مالوا پوری په اوږدوالی او له سمندر نه تر لاهور پوری دَ لسو ورځو په مزل کښې خوره شوی وَه. اګر که دا بیان دَ شاعرئ مبالغې نه خالی نهٔ دَی. لیکن دا رښتیا دی چه دَ دې راجه ملک ډیر ارت وهٔ. له علیګړه نه ئې واخله دَ بنارس دَ علاقې تر ګوز سرَ پوری سره دَ هغه لوی ټوټې چه دَ جمنا نور پر یوانهٔ سته پرته دَه. دَ دهٔ په قبضه کښې وَه. غالب ګمان دا دَی چه دَ ډیلی او دَ علیګړه په فتح کیدو باندې چې چند په خپل ځان ویریدلی وهٔ. ځکه چه په اصل کښې هغهٔ فوځ جمع کړی وهٔ او ورښې انګته ئې اچولی وَه. او دَ دې سکوندراری سزا ورکولو دپاره محمد غوری بیا سره دَ فوځ له غزنې نه راوتی وهٔ.

دواړه په اټاوه کښې سره مخامخ شول. دَ غوری فوځ په پیاده ؤ باندې قطب الدین ایبک وهٔ او هم دَ دې فوځ حملې دَ هندوانو فوځ په ماتې ګډ کړ. دا ماتې دَ هندوانو په باب کښې ډیره ناکاره ثابته شوه ځکه چه په ورپښو کښې ورته څه خفت نهٔ وهٔ پیښ شوی. بې اندازې ډیرې ټوپې شوی. ۹۰ هاتیان ونیوی شول. او دَ قنوج راجه په میدان کښې مړ شهٔ. دَ دې فتحې نتیجه دا شوه چه دَ بنارس ښهر دَ ګټې خاوندانو ته په لاس ورغئ. او دَ هغهٔ دَ درمسالونو ئې غزلې وشوه. خزانې لوټ شوی

او مسلمانانو هغه ټول مال اسباب په ۱۴۰۰ اوښانو باندې بار کړ. او يُو يُ وړ. دَ قنوج بادشاهۍ دي ګذار نه پس بیا سر وُنهٔ نیو. او دَ مسلمانانو بادشاهي دَ هغې له حدونو نه هم هغه خوا تر لرې پورې ښوره شوَه.

محمدَ غوري خپل سالار قطب الدین په علیګډه کښې څکه نایب مقرر کړ چه دَ هغهٔ فتحې پُوره کړي. هم په دې ورځو کښې له اجمیر نه دَ شر فساد خبر راغئَ. محمد غوري چه دا دفع کړ نو تر ګجراتَ پورې چه هلته محمود هم جنګونه کړي وُو لاړ. لیکن له غزنِي نه ورته حکم راغئَ چه په کښې يُ دَې زا ضرور واپس غوښتې وهٔ.

محمد غوري اصل کښې هندوستان ته تلو او هغه ته دَ خپل ټول فوځ ضرورت وهٔ. او دَ هغهٔ په هندوستان کښې دَ خپلې بادشاهۍ مضبوطولو ډیر خیال وهٔ. څکه هغهٔ له اګرې نه ۵۰ میلَ لرې یو مشهور مقام بیانه ته ورسید او دلته يُ دَ پښتنو یو ټولې آباد کړ. بهاوالدین يُ پرې ګورنر مقرر کړ او بیا يُ دَ ګوالیار په قلا باندې چه تر اوسه په یو غرهٔ برته دَه حمله کوله خو ناڅاپه دَ خراسان شر فساد بیا غزنِي ته وغوښت او دَ هغهٔ نایبانو ګوالیار فتح کړ. لیکن قطب الدین اجمیرَ پورې لاړ چه دَ هغه ځای راجه ته چه دَ دهٔ قلنګي وهٔ او هم دهٔ په ګډَيُ کښېنولې وهٔ مدد ورکړي. لیکن دَ ګجرات، ناګور او دَ مهر نوځونو دَي په شا کړ. ځنې کال ته بیا قطب الدین له دښمنانو نه

تش بدل وانهٔ خست بلکه دَ کالنجر او دَ کالپيَ قلاکاني يُ هم
واخستي او لا روهيلکنډ هـ يُ هم تر لاسه کړ.

په دي مُده کښي محمد غوري تش دَ خراسان بادشاهي
مضبوطه نهٔ کړه. بلکه هرات او دَ هغي کمر چاپېر علاقه يُ هم
غزني سره يوځاي کړه. په دي کلو کښي هغه دَ خپل ورور
دَ مرګ په وجه خوداختيار بادشاه شوي وهٔ. دَ تخت له ناستي
نه پس هغهٔ ورښي دا کار وکړ چه خوارزم يُ دَ خپلي بادشاهۍ
سره شامل کړ. دا صوبه ډيري مُدي راسي سلجوقيانو دَ غزني
له بادشاهۍ نه جلا کړي وَه.

محمد غوري په مخکښي لار خوارزم يُ فتح کړ او دَ بادشاه
دَ کدَي تر ځاي پوري چه هلته هغه تښتيدلي وهٔ ورسيد. دلته
هغهٔ دَ بادشاه قلابندي وکړه. ليکن دَ خوارزم بادشاه دَ دي په
جواب کښي لويه بهادري ښکاره کړه او داسي په استقامت سره
وجنګيد چه دَ محمد غوري ډير سپاهيان مړهٔ شول. او دَ هغهٔ
هيڅ نقصان وُ نهٔ شهٔ.

په دي کښي هغه کومک چه دَ خوارزم بادشاه له تاتاريانو نه
غوښتي وهٔ (چه هغو په يوه زمانه کښي دَ خراسان سلجوقيان تباه
کړي وُو او څه مُده يُ غزني په قابو کښي کړي وهٔ) راورسيد
دا دومره ډير لښکر وهٔ او دومره زر راغي چه محمد غوري دَ
خپل لښکر دَ فنا کيدو له ويري نه بيا ډير په پام پام جګړه
کوله. دهٔ هيڅري په جنګ کښي داسي ځوانمردي او کمال نهٔ وهٔ

ښکاره کړې ليکن څه يې کړي وې دَ لږو او دَ ډيرو سره نه کيږي آخر يې سخت شکست وخوړ.

دې خو غزني ته راوتښتيد ليکن دښمن پر يې تيښته کښې هم صرفه ونه کړه. په ټول فوځ کښې بس ۱۰۰ کسه سپاهيان ورسره پاتې شوي ؤو. هم دَ دې سپاهيانو په سر چه دَ زړه له اخلاصه محمد غوري حمله وکړه دا په هيڅ شان له هغه حملې نه کمه نه وه چه هغه په تراوړي کښې دَ هندوانو بې شميره فوځ باندې کړې وه. دلته هم په هغه شان دَ ده مراد تر سره شه. په دې لږ فوځ هغه دَ دښمن فوځونه څيرې کړل ووت او دَ انډکهو په قلا باندې يې قبضه وکړه.

ليکن په انډکهو کښې دې دښمن راګير کړ. دلته يې دَ تيښتې زور نه وه. جنګ کول هم عبث ؤو او خيل پايه تخت ته تلل هم ضرور ؤو. له ناچارې ورځې هغه په رضا سره ډير لوي دولت ورکړ او ځان يې خلاص کړ.

دَ محمد غوري غزني ته تلل ضرور ؤو ځکه چه دَ هغه دَ فوځ نقصانيدو په وجه ملک (کښې) ډير اړې کړې وه. دَ ماتې له خبر نه پس خلقو دَ ده دَ مرګ هم ګڼه کړې وه. او په دې باندې هلهګله نوره هم زياته شوه. دَ ده يو افسر ځان دَ ملتان حاکم کړ. يو مريې چه په ده ډير ګران وه دَ غزني په تخت کښيناست.

چه بادشاه راخلاص شه غزني ته راغې نو دَ ښهر خلقو

ورته دروازه لري نهٔ کړې - ناعلاجَ ملتان ته لاړ او هغه يُ تابع کړ - دَ سرحدیانو یو فوځ يُ بهرتي کړ او غزني ته واپس راغئ - دَ غزني خلق چه ورننبي يُ ورته په بي پرواهئ دروازه نهٔ وه لري کړي اوس ډیر په عاجزيُ دَ محمد غوري مخي ته ورغلل او بي عذرَ يُ ورته ورنري کړ - محمد غوري چه په تخت کښیناست نو اول يُ دَ خوارزم بادشاه سره صُلح وکړه - بیا گهکړیانو ته چه هغو په پنجاب لوټلو سزا ورکولو دپاره هندوستان ته روان شهٔ - له دي ډدي خو محمد غوري په دوئ حمله وکړه او له هغه مخي قطب الدین راواخستل - نتیجه يُ دا شوه چه هغوئ تابع شول او محمد غوري لاهور ته لاړ کښیناست -

دلته چه راورسید نو دَ خوارزم لاندِ کولو دپاره ي دَ یو آخري لام تیاري راواخست او دا يُ نیت وکړ چه دا پیره دَ خوارزم دَ قسمت بالکل فیصله وکړم لیکن افسوس چه غزني ته تهٔ او په لاره کښ يُ دَ اباسیند په غاړه خیمي لګي کړي - دمه يُ خوړله - نو یو څو گهکړ په سیند پوریوتل او په بیغمَ زړهٔ خیمو ته ننوتل بادشاه يُ مړ کړ -

دَ محمد غوري خوریي محمود هسي په نوم دَ دهٔ په ځاي دَ ناستي وهٔ - خو دَ قطب الدین زور او عزت دَ وینيي په تعلق هم غالب شهٔ - محمود ته هم دا معلومه شوه چه دَ قطب الدین غوندِ قابل سړي سره جګړه کول عبث دي - نو دَ لاهور بادشاهي يُ ورته پرینبوه او بچیله دَ پلار نیکهٔ

پخواني وطن يعني د غور کوهستان ته لاړو (سنه ۱۲۰۶ع) په دي
شان د محمد غوري په ځاي قطب الدين کښيناست.

د قطب الدين په ناستې د افغانستان تاريخ د يو جدا
ملک په حيثيت څه مُدي پوري بس شهٔ. مريي بادشاه: د
هندوستان بادشاه کيدل خوښ کړل او ډيلۍ يې خپل د ځاي
ځاي کړ. د غور د ټبر په خلاصي غزنۍ وران شهٔ.

# څلورم باب [۴]

## مغل

چه د قطب الدين ځاي په هندوستان شوه نو لږه
مُده پس محمود غوري ولکيد د هغهٔ سخر تاج الدين ايلدوز
يې د غزنۍ بادشاه ومانهٔ او ځنيله يې د غور په پخوانۍ ځاي
او د افغانستان په بادشاهۍ صبر وکړ. دا تاج الدين هغه سړي
دي چه کوم وخت محمد غوري له خوارزم نه په ماتې راتهٔ نو
دهٔ ورته د غزنۍ دروازي پوري کړي وي. خو بيا محمد
غوري د دهٔ خطا معاف کړي وه. د تاج الدين او د محمود برغړو
نوځونو هرات، سيستان، او د افغانستان دا اوسني سرحد فتح
کړ. خو د دوی قدم نور مخکښ نهٔ شهٔ. بيا نوځونو هغه علاقو
ته مخه کړه کومو ته چه اوس افغانستان ترکستان وائي. خو د

خوارزم بادشاه محمدخان دوئ مات کړل. او غزني ئ هم تر واخست. چه سختي پر ډيره شوه نو تاج الدين په ورستو کړتي ته راغئ. دلته ئ د کتندوي سره روغه وکړه او څه مُده پس ئ په لاهور او هندوستان باندِ د غورزنګ کولو تیاري راواخست او هندوستان ئ تر تهانسير پوري لاندِ کړ. شمس الدين التمش ورته شکست ورکړ او وُ ئ نيو ډيلي ته ئ بوت. التمش د قطب الدين زُوم وُه چه نن پرون (۱۲۱۵) د ډيلي د تخت خاوند وُه. تاج الدين په قيد کښ مړ شهٔ.

په دي مُده کښ د خوارزم بادشاه محمدخان د افغانستان مالک وُه. خو د دهٔ او د دهٔ د روستنو حالونه د چنګيزخان د کارونو په محکښ داسي وارهٔ ښکاري چه زهٔ ئ خواه مخواه پريږدم. او لو بيي خبري ليکم.

له ډيرو پيرو راسي د قطب ارخ ايشيا تاتاري قامونه چه د خوارزم قطب او نوَر پرېوانهٔ قطب ګڼ ته په غرونو او دامانو کښ آباد وُو. په کوَرلو جنګونو کښ اخته وُو. د دغي ډيري د قامونو حال بي د چينيانو او ترکيانو نه بل هيچا ته معلوم نهٔ وهٔ. په دي قامونو کښ د مغلو يو قام هم وهٔ. مغل اګرکه بدشکلي، زيږرنګي، اوږدمخي، تنګ سترګي او لوي خولي وُو. ليکن دوئ د زُوت ډير تکړه وُو تش يو مشر ورته پکار وهٔ چه هغه هم پيدا شهٔ. ليکن چه په مغلو کښ هغه زمانه کښ ليکل لوستل نهٔ وُو نو د چنګيزخان د پيدا کيدو تاريخ معلوم نهٔ دي. خو تاريخي

کارونو نه پخه پته لګي - چه دَي په ۱۲۲۵ کښې پيدا شوَي دَي
چه دَ چنګيز پلار مړ شهٔ نو دَي دَ ديارلسو کالو وهٔ - دَ پلار
له مرګ پس دَي دنيا وپيژاند - په دنيا کښې دَ دهٔ ډير دښمنان
وُو - په اولنو جنګونو کښې چنګيز ته ډيري سختيَ پيښي شوي
کله به دَي جرَ کيدهٔ غليَ به کښيناستهٔ او کله به په دښمن باندِ
زورَور شهٔ کټمټ ويَ به شهٔ - آخر دوه کارونو دَي هميشه دپاره
زورَور کړ - وړومبي کار خو دا وهٔ چه دهٔ دَ دښمنانو فوځ ته
چه هغه دَ دهٔ دَ فوځ نه يو په څلور زيات وهٔ شکست ورکړ -
بل دا کار وهٔ چه څوک به لاس ورغيَ نو ډير دَ بيرحمَيَ سلوک
يُ ورسره وکړ - وايُ چه څهٔ وخت دهٔ کټه وکړه او ډير
قيديان يُ زنځيرونو کښې رادستل نو حکم يُ وکړ چه په
اتيا لويو کړهو کښې اوبهٔ توَدي کړيَ او په يشتيلو ادبو کښې
يُ ورواچوَيُ - په دي کار دَ تاتاريانو غرځه قامونه دَ دهٔ ډير
بنهٔ تابع شول - او دَي يُ خپل بادشاه ومانهٔ -

چه دَ چنګيز بيرحميُ دَ دهٔ قوت پيدا کړ نو دهٔ په خپل
قابلتوب هغه لا زيات کړ او په دي معامله کښې يُ داسي مراد
تر سره شهٔ چه دَ هيچا هم داسي نهٔ وهٔ نصيب شوَي - په
يو څو کالو کښې چنګيز په دغه ارت ملک باندِ چه دَ دي
توَرخاتهٔ ته چين او قطب او توَرپريوَاتهٔ ته والګا او خضر
دريابونه وُو بادشاهي قايمه کړه -

چه دَي دَ تاتاريانو لوي خان شهٔ او دَ توَرپريوَاتهٔ چين

يُ تر پيکَنَ پوري واخست. نو وُ يُ ليدل چه سهيل د دي
ته دَ خوارزم بادشاهيُ دَ دهٔ شورېدل رامنعَ کړي وُو.

په دي ورځو کښ (۱۲۱۹ سنه) محمد خان دَ خوارزم بادشاه
وهٔ. دَ دهٔ په بادشاهيُ کښ بخارا، سمرقند، قوقند، کاشغر،
ايران، افغانستان او بلوچستان دَ سند ه تر ګودر پوري شامل
وُو.

چنګيز ناڅاپه له دريو غاړو نه پرِ نوځونه راواچول. دَ
يوې غاړي فوځ دَ سيحون په ګودر تېر شهٔ خيوا ته راکوز
شهٔ. دويم دَ دي سيند په بره مخ ختهٔ خوجند ته ورسيد
او په دغه علاقه يُ قبضه وکړه چه اوس ورته فرغانه وائي.
دريم فوځ چه دَ دي سردار بخپله چنګيز وهٔ په دي سيند
راپورېوت، بخارا او سمرقند کښ راننوت او په يو څو ورځو
کښ دَ جيحون سيند قطب ته علاقه ورته په لاس ورغله.

په دي وخت کښ محمد خان دَ مغلو طاقت وُ نهٔ شهٔ
لرلي. په خراسان کښ نيشاپور ته راغيُ. چنګيز چه سمرقند
واخست نو دَ ۲۰۰۰ سپاهيانو يو ټوليُ يُ دَ دوه وُ سردارانو
دَ لاندِ محمد خان پسي راوليږهٔ. محمد خان له هغه ځاي نه
وتښتيد. دَ مغلو جرنيلان چه نيشاپور ته ورسيدل او دښمن
يُ وُ نهٔ موند نو يو داسي عجيبه دَ بهادريُ چل يُ وکړ چه
دَ چا مغل په مغزو کښ به هيچېري نهٔ وِي راغلي. هغو
نوَر پر يواڅهٔ ته ټول ايران واخست او ترانس کاکيشيا يُ لاندِ

کړه له کوه قاف راګوز شول او په دربند باندې ئې قبضه وکړه. دلته دوئ د ګیرچاپیر راجمع شوي فوځ مات کړ او د نیپر سیند نه ئې پورې پیست. ځني فراریان خو له ډینوب سیند نه هم پورې لاړل. د مغلو دبدبه دومره ښوره شوه چه د روس کیف سمولینه او چرنیګو صوبو له دې ویرې نه چه دا بلا په مونږ پرېږ نه وزي. ورته اتفاق وکړ او د دفع کولو کوشش ئې وکړ. د نیپر سیند په غاړه د دوئ فوځونه د مغلو فوځ سره وجنګېدل خو ماتې ئې وکړه. مغل په نیپر تیر شول بلګیریا ته ورسیدل او بیا له هغه ځاي نه خپل فوځ سره یوځاي شول.

په دې مده کښې محمد خان له خپل ژوند نه ناامید د خضر دریاب په یو ټاپو کښې پټ شوي وه. دلته په سنه ۱۲۲۰ء کښې مړ شه. د ده د زوئ جلال الدین طبیعت ده نه بالکل په عکس وه. په خوارزم کښې چه ده د پلار د مرګ خبر واورېد نو فی الحال ئې خپله ډله راجمع کړه او دښمن ته ئې ګذار ورکړ تار په تار ئې کړ. د دې ځاي ساتنه هغه د ورونړو په حواله کړه او ډیر فوځ ئې ورکړ نیشاپور ته لاړ او د نوي فوځ په بهرتئ ئې شروع وکړه. چنګیزخان چه د جلال الدین په خوارزم کښې د سر ایستو خبر واورېد نو فی الحال هلته درروان شه او د جلال الدین دواړه ورونړه ئې مړه کړل سهیل ته کوز شه او پله پسې ئې په بلخ، مرو، هرات،

نیشاپور او طوس (چه دَ مشهد ښهر سره دَي) بانږ يُ قبضه وکړه - ليکن دَ هغهٔ ديرش زر فوځ چه دَ جلال الدين مقابلي ته يُ ليږلي وهٔ شکست وخوړ - په دي بانږ چنګيز ډير په غصه شهٔ او ناڅاپه دَ برېناک دښمن مقابلي ته راروان شهٔ له جلال الدين نه ځني خپل جرنيلان اوړيدلي دُو حکه دَي ډير تُند هندوستان ته تهٔ - چنګيز دَ اباسيند په غاړه لاندِ کړ او دَ هٔ فوځ يُ په ماتي ګلهٔ کړ ليکن جلال الدين په لاس ورنهٔ رغي - هغه په لويي بهادرَي دَ دښمن له صفونو نه ووَت او په اباسيند په لامبو پوريوَت - دي نه پس مغلو پنجاب تالاترغه کړ او تاتار ته واپس شول - (سنهٔ ۱۲۲۴)

دي نه پس چنګيز دَ چين فتح پوره کړه او هم هلته مړ شهٔ (سنهٔ ۱۲۲۷)

جلال الدين په دي مُده کښ ډير لاسونه وکړل په ايران کښ يُ خپل حکومت قايم کړ ليکن افغانستان تر سنهٔ ۱۲۵۱ پوري دَ چنګيزخان او دَ هغهٔ دَ ميراث خورو په قبضه کښ وهٔ او په دي دومره مده کښ په دي ملک کښ څه تاريخي واقعه پيښه نهٔ شوَه -

په دي کال کښ شيرخان چه دَ ډيلي ناصرالدين محمود بادشاه له طرف نه دَ پنجاب حاکم وهٔ په افغانستان بانږ حمله وکړه - او غزني او کابل يُ واخستل - دَ ډيلي بادشاهي سره يُ شامل کړل - ليکن دا معلوميږي چه څه لږه مُده پس دا ملک

مغلو واپس واخست - ولې چه له تاريخ نه پته لګي چه په
څلورمې پېړۍ (XIV) کښې کلونو کښې مغلو په هندوستان باندې پله پسې حملې
وکړې. بلکه په سنه ۱۳۳۶ع کښې د پښتنو يوه نوې بادشاهي په
غزني کښې قايمه شوه - چه د وسطي ايشيا مغل يې خپل
بادشاهان منل -

د دې بادشاهۍ حاکمان هم غوريان وو - غالب ګمان دا
دی چه د مغلو بادشاه به د غور يو پښتون سردار ته د
افغانستان اختيار ورکړی وي - دا بادشاهي له سنه ۱۳۳۲ع نه تر
سنه ۱۳۸۳ع پورې وه د دې ورومبي بادشاه شمس الدين غوري
او د هغه نه پس دوه وو کسو رکن الدين او فخرالدين خو هغه
کارونه چه مغلو ورته حواله کړي وو ټول پوره کول ليکن د دې
ټبر څلورم بادشاه غياث الدين غوري خودمختياره بادشاه شه
او څکه هغه پسې بيا ټول بادشاهان شمس الدين - ملک حافظ
معزالدين حسن او غياث الدين هم آزاد وو - ليکن د دې
ورستني بادشاه په زمانه کښې د افغانستان آزادي او بادشاهي
دواړه بېوخته خلاصې شوې -

تيمور چه په تمرلنګ مشهور دی په سنه ۱۳۳۶ع کښې قندهار
ته نژدې کش نوم کلي کښې پيدا شه - د ده ټبر دوه سوه کاله
راسې دلته آباد وه او په لويو لويو عهدو باندې مشران يې تېر
شوي وو - تيمور هم د چنګيزخان په شان انتظامي سړی وه -
او د مور له طرف نه دی د چنګيز څه خپل هم وه - په

خونړو کولو کښې دَي له چنګیز نه څه کم نهٔ وهٔ او په ټکيُ کښې هغهٔ نه دوه ګُټي زیات وهٔ -دَ لوي زړهٔ خاوند او تکړه سړي وهٔ- په وړوکوالي کښې يُ دَ وسطي ایشیا تاتاریان لاس لاندِ راوستل او چه هغويُ يُ ښهٔ په قابُو کښې کړل. نو په چار چاپیر ملکونو کښې يُ لوټونه شروع کړل- افغانستان او ایران خو يُ في الحال تابع شول-دي نه پس هغه سرکیشیا جارجیا او میسوپوټامیا (عراق عرب) فتح کړل او جنوبي روس ته لاړ- دا ملکونه يُ چه تباه کړل نو هندوکش، کابل، بنو، او ډېره‌کوټ باندِ تیر شهٔ په هندوستان باندِ دَ حملي کولو دپاره اباسین ته ورسید-دَ دي لام چه دَ افغانستان سره يُ څه تعلق نهٔ وهٔ ځکه څه حال نهٔ لیکم دومره وینا ډیره دَه چه دَ تیمور له وړنبيُ حملي نه چه په ۱۳۸۳ کښې شوي وَه دَ بابر دَ تخت کښیناستو پوري دَ افغانستان څه بیل تاریخ نشته دَي.-دَ ځني ځني ځایونو حال په څه وجه تاریخ لیکونکو لیکليَ دَي.لکه دَ هرات حال يُ لیکليَ دَي چه دَ بابر په تخت کښیناستو نه ۵۰ کالَ وړنبيَ دا دَ مشرق یو لوي ښهر وهٔ.تش دَ خپل درباري شان و شوکت په وجه او دَ جماعتونو زیارتونو، مدرسو او محلونو دَ ښایست په وجه مشهور نهٔ وهٔ بلکه دَ دنیا لوي لوي ولیان، فلاسفران، شاعران او مورخان به دلته راټلل.-په دي زمانه کښې هرات دَ خراسان دَ ګدَيُ ځاي وهٔ.-او حسن مرزا چه دَ تیمور په ټبر کښې یو زورَور

بادشاه تېر شوَي دَي دلته بادشاهي کوله - په کابل او غزني باندِ هم دَ دي تېر يو شهزاده سلطان الغ مرزا حکومت کاوهٔ - ليکن دلته دَ ملک انتظام او دَ خلقو دَ ګذاري حال په تاريخونو کښې نشته - دَ الغ مرزا دَ وفات نه پس دَ افغانستان مرهٔ تاريخ بيا ژوندَي کيږي -

دَ تيمور لويه بادشاهي چه دَ هغهٔ له مرګ پس ټوټې ټوټې شوي وَه - دَ دهٔ کړوسي ابوسعيد بيا يوځاي کړه ليکن دهٔ نه پس بيا ډکري ډکري شوَه دَ ابوسعيد دوه زامنو دَ جيحون سيند قطب ته علاقه وُ ويشله کشرِي ورور الغ مرزا کابل او غزني واخستل او دَ خراسان علاقه چه دَ هغهٔ دَ ګدَي ځاي هرات وهٔ حسن مرزا ته په لاس ورغله -

الغ مرزا په سنه ١٥٠٢ع کښې مړ شهٔ دَ دهٔ مرګ دَ دهٔ په علاقه کښې شرفساد پورته کړ - تر سنه ١٥٠٤ع پوري پله پسي څو دعوي ګير پيدا شول او جنګونه کيدل - په دي کال کښې بابر شهزاده چه درې مياشتې ورپښې له خپلې ګدَي (فرغانه) نه کډه په سر او له وطنَ راورک شوَي وهٔ کابل ته راغيَ - او په دې ښهر يُ قبضه وکړه -

دَ دي معتبر بادشاه دَ ورپښې زماني ټول حال دپاره په دي وړوکي کتاب کښې ځاي نشته - کوتاه حال يُ دا دَي چه دَي په سنه ١٤٨٢ع کښې دَ تيمور په پنځمه پيړَيُ کښې پيدا شوَي وهٔ - دَ دولسو کالو وهٔ چه پلار يُ مړ شهٔ او دَ فرغانه تخت

دهٔ ته ورکړي شهٔ - دَي لا له پنځلسو کالو نه اوښتيَ نهٔ وهٔ - چه دَ سمرقند شر فساد دَي دَ دي صوبي فتح کولو دپاره دپارَ ولو - دهٔ واخسته په خپله قبضه کښ يُ کړه - خو دَ دي صوبي انتظام دَ دهٔ دَ وَس خبره نهٔ وَه - لکه چه څه دَ پاسَ دوه مياشتي دلته وهٔ او بيا يُ له بدي ورځي پرېښوله - دي ځاي نه تلل هغهٔ دپاره ښهٔ نهٔ شول - دَ هغهٔ برخلاف مصلحتونه کيدل چه آخر يوه ورځ يُ سمر صبايِ له تخت کُوز کړ.

ليکن باير په ځني اسَرو بانډ دومره فوځ جمع کړ چه دَ فرغاني اخستو دپاره ډير وهٔ - هغهٔ فرغانه بيا واخسته په سمرقند بانډ دَ ورختو په فکر کښ وهٔ چه په دي کښ اُزبکو تاتاريانو په منځني ايشيا بانډ چغه ووبيته او بابر له ناچاري ورځي په عزونو کښ ترِ ځان پناه کړ - دلته هغهٔ مُدام سر په تلي کښ کرزاوهٔ او عمر يُ په ميړتون وهٔ - کله خو به لکه دَ فزاريانو په ميرو کښ کرزيدهٔ او کله به دَ بادشاهانو په شان په تخت ناست وهٔ - سمرقند يُ بيا واخست - ليکن بيا يُ له لاسَ ووت - دَ فرغاني له طرف نه پرِ ډيري سختي راتلي خو تل به خوشحال وهٔ په قضا يُ رضا وَه او هيڅ وخت دِ خپل ځاي له نااميدَ نهٔ وهٔ.

آخر تقدير ورته داسي شا کړه چه دَ ۲۳ کالو په عمر کښ بابر له ناکامُ په جيحون سيند پورېوت او دَ بلخ او دَ بدخشان ترِ منځ کندو ته وتښتيد - دَ دغه ځاي صوبيدار خسروشاه وهٔ - دلته يُ دَ مغلو يو فوځ جمعَ کړ او دا سپاهيانَ يُ ځان سره

واخستل په کابل يې حمله وکړه او هغه يې واخست.

په کومه زمانه کښې چه بابر کابل واخست هغه اوږده ميدانونه چه د غزني او د کابل په مينځ کښې د سهيل نه مخ په قطب پراته دي او هغه د غرونو علاقه هم د کابل سره شامله وه چه له بابا غر او هندوکش نه يې واخلي د هندوستان تر قطب نورپرپرواته سرحد پورې ښوره وه يعني د کرښې قلا پورې - د دې علاقې د غرونو قامونه له نن پرون نه ډير آزاد دو ، او مدام به يې شوکې داړې کولې -

بابر د يو بې تنخواه فوځ افسر وه - هغه ته دا خبره معلومه وه - چه له زړه دوې چرته په جګړه اخته نه کړم نو خما د ځان سپه کښې خير نشته نو ورښې ځل هغه خپل زړه ور سپاهيان په قندهار ورواچول او هغه يې واخست - له هرات نه ۲۸۰ ميل لرې ازبک ترک حاکمان وو - په هرات کښې د بابر يو نزدې خپل هم حاکم وه او ازبک د دې دواړو وينو ته تږي ناست وو - بابر ته دا مناسبه ښکاره شوه چه هرات ته لاړ شم او خپل عزيز سره صلاح مصلحت وکړم او بيا به ازبکو باندې لاړ شو وترو - دې مصلحت دپاره هرات ته روان شه - د ده په غيرموجودګۍ کښې د ده ورور جهانګير باغي شه او غزني يې ونيوله - د دې نه پس د بابر مغلو سپاهيانو نمکحرامي وکړه تر ته واوښتل - بابر چه دا واوريدل نو نور يې محکښې وو نه کتل او په ورستو کابل ته راغې - دا شر يې لا نه وه دفع کړې چه د ده د مغلو ملګرو په لسون او مل

یو بل شر جوړ شهٔ. بابر په خوارو تش خپل ځان له کابل نه
وویست وتښتید او یو څو خاصان او صادق یاران یې راټول
کړل او یاغي پښتنو ته دَ جنګ دپاره ورغیٔ. په خپل لیاقت او
بهادرۍ باندې یې دَ دي څو کسو سپاهیانو هر یو کمۍ پوره کړ
چرته به چه دَ مدد ضرورت وهٔ نو ویستلي توره به دَ سترګو په
رپ کښ هلته وَرورسید او هر ځاي ته به یې ځان رساوهٔ.
آخر دا دَ شر اور یې دَ خپل زړهٔورتوب او تندۍ په اوبو مړ
کړ. او دَ یاغیانو تپ وخوت. په دي کښ اُزبک دَ جمجکړ په
شان له ازبکستان نه راپورته شول. او دَ ملک اخستو په هوس
کښ دَ کبین دَ مچو په شان یې خراسان ګیر کړ په هرات یې
قبضه وکړه او بیا له قندهار ته چاپیرَ شول چه آخر یې هغه
هم فتح کړ نو هله یې ساه واخسته. اوس دَ کابل او دَ غزني
اخستو په فکر کښ وُو. د ایران بادشاه چه دَ خراسان حال
واوریدَ نو وبګنید او یو زورَور لښکر یې راواخست اُزبکیانو ته
اُزبکي ښیلو دپاره رَاروان شهٔ. او دغلته دَ بابر قسمت ښهٔ وهٔ
او په دي کښ یې خیر وهٔ څکه چه هغهٔ سره دَ کابل او دَ
غزني دېر فکر وهٔ. اُزبکیان او ایرانیان مخامخ شول. اُزبکیان
آخر اُزبکیان وُو دَ نهٔ وباو ماتي یې وکړه په زرګونو سرې یې
مړهٔ شول. دَ ایران بادشاه ورپسي بهې پورته کړي او په
وهلو وهلو یې له سیحون سیندَ په تیښته پورې کړل.

عیش عشرت او دَ آرام ژوند دَ بابر مدعا نهٔ وَه خو

دا ئې هوس وهٔ چه نوي نوي فتحې ئې کولې او نور نور ملکونه ئې اخستې. ايرانيانو ازبکيان مات کړل اُزبکستان سته ئې وزغلول نو په دي کار د بابر زړهٔ کښې د سمرقند د اخستو مينه پيدا شوه. دا سمرقند دهٔ وړنبي هم اخستې وهٔ او په دي کښې ئې څو څو ځلې د ناکامۍ مخ ليدلې وهٔ. بابر د دي د دوباره اخستو ډير ارمان لرلو. حمله ئې پر وکړه په ۱۵۱۱ء کښې هغهٔ بيا واخست. مګر د سمرقند زړهٔ بابر سره نهٔ وهٔ. هغهٔ د دهٔ پخوانو دښمنانو اُزبکيانو ته سترګه ووهله. د جنګونو جګړو بازار بيا تود شهٔ.

دوه کاله پورې جنګونه کيدل. آخر بابر يواځي سمرقند باي نهٔ لود ورسره ئې د آمو درياب نه دي طرف ته نتولې علاقې نه هم لاس ووينځل بيا افغانستان ته راغې قندهار ئې واخست. د بابر زړهٔ د غزنو او د کانړو د ملکونو اخستو نه موړ وهٔ. هم په دي ورځو کښې دولت خان چه د ډيلي د بادشاه ابراهيم لودهي له طرف نه د پنجاب په صوبه دارۍ مقرر وهٔ له بابر نه مدد وغوښت. د چتور رانا چه خبر شهٔ نو هغهٔ هم سړي ورولېږهٔ لوظ ئې ورسره وکړ چه که بابر په هندوستان حمله وکړي نو راجا به د هغهٔ مدد وکړي. بابر د فتح په طمع د دولت خان درخواست منظور کړ او په ۲۶-۱۵۲۵ء کښې ئې بهادر لښکر راواخست له کابل نه راروان شهٔ د اټک په سيند پورې وت. بيغم زړهٔ

په لاهور وَروخت. دَ لاهور صوبه دار زر ئړ او یو وران ویجاړ او نابلدَ پوځ بهرِتي کړ. میدان کښې يُ ودراوهٔ. بابر هغه جر کړ او تِتربتر يُ کړ او لاهور ته يُ اور ورته کړ بيا يُ ډيلي ته مخه کړه. په دي کښې دَ دولت خان دَ ياغي توب او دَ اُزبکیانو دَ حملي او دَ فتحي خبر راغئَ. بابر په شا بیرته وګرزید دَ دهٔ په غیرموجودګئَ کښې دَ دهٔ سپه سالار خو دولتخان وهلئَ وهٔ خو چه ډيلي ته ورغئَ نو عمن دَ ښهر دَ قلا په خوا کښې دَ ډيلي بادشاه دَ دهٔ پوځ ته شکست ورکړ. بابر چه اُزبکیان سنبال کړل نو بيا يُ په تلوار هندوستان ته راډو کړل. دَ ماتي ملامتيا يُ له خانَ غورزوله نو دولس زرَ زړهٔور ځوانان يُ ډيلي ته راوراندِ کړل.

دلته ابراهیم لودهِي هم يو لکه سپاهيان واخستل مخي ته ورغئَ. دَ پاني پت په میدان کښې دواړه لښکري مخامخ شوي. بابَر يو هوښيار او زړهٔور، دَ جنګ په هنرونو بلد او خبردار سپاهِي وهٔ. ابراهیم لودهِي دَ جنګ الف بي هم نهٔ وُو زدَه کړي. په نيت کښې پړسمن او دَ وزيرانو او دلباريانو دَ لاس طوطِي وهٔ چه به يُ څه خوښ وُو هغه به يُ پرِ کول.

دَ قتل او دَ خون او دَ جنګ میدان تود شهٔ. دَ دواړو ډډو بهادرانو ښيله ښيله بهادرِي ښکاره کړه. په خاورو وِينو کښې ولوغړيدل. تر ډيرهِ پوري آخرانجام نهٔ وهٔ معلوم مګر آخر ابراهیم ته قسمت مخ واړوهٔ. دَ هغهٔ لښکر ماتي وکړه په زرګونو

سپاهيان مړۀ شول. ابراهيم لودهي هم په جنګ کښ مړ شۀ باتي شوۀ سپاهيانو چه چرته د سر سوري ليدۀ وتښتيدل. بابر فتحمند د ډيلي ښهر ته ننوت.

لږه دمه ئي وخوړه نو آګري ته وروړاندې شۀ هغلته ئي په ۱۰، مئي ۱۵۲۶ئ خپل ځان د هندوستان ورښتي شهنشاه کړ او د يوي داسي لويي بادشاهۍ رده ئي کيښوه چه دا د هغۀ په اولاد کښ د ۱۸۵۷ئ نازک وخت يعني غدر پوري ــ په څه نه څه شان وَه.

# پنځم باب (۵)

## همايون او كامران

(تاريخي حالونه)

بابر ځلورنيم کالۀ په هندوستان بادشاهي وکړه. د دۀ دا زمانه د هندوستان تاريخ سره تعلق لري. په دي مُده کښ د دۀ دويم زوي کامران په افغانستان باندې بادشاه وۀ چه د پلار په حکم چليدۀ. په ۲۶، دسمبر ۱۵۳۰ئ بابر له دنيا نه سفر وکړ. د هغۀ مشر زوي همايون د آګري په تخت کښيناست. د غزني قندهار او د کابل بادشاهي د کامران د حکم د لاندې وَه. همايون هسي په نوم د افغانستان بادشاه وۀ. اصل کښ د دۀ خبره

هیڅ نهٔ اوریده.- دَ همایون دَ کښیناستو نه پس دوه کاله کښې دننه دَ کابل نوي بادشاه کامران دَ خپل ورور له کمزورتیا او ناورکارتیا دا فایده واخسته چه ورننبي ي پنجاب خپلي بادشاهۍ سره وګنډهٔ دَ سهیل نورپریوانهٔ علاقه ي تر هاسنۍ او حصاره پوري واخسته.

دَ کامران طبیعت ضدّي او دومره حرصي وهٔ چه دَ خپل مطلب حاصلولو دپاره به ي هره یوه لار شرله دَ پنجاب دَ اخستو نه تر درّي کاله پوري دَ هغهٔ حرص چا ته ښکاره نهٔ وهٔ.- ځکه چه لا دَ ملک په دننه انتظام او دَ فوځ سپه بندوبست کښې لګیا وهٔ.- په ۱۵۳۵ع کښې دَ ایران طهماسپ بادشاه چه اُزبک ترکیان له خراسان نه وویستل نو دَ دي صوبي حکومت هغهٔ خپل ورور نه ورکړ چه دَ بو کمزوري زړهٔ خاوند وهٔ.- دَي اول به ځان له بادشاه نه یاغي شهٔ.- بیا دَ بادشاهۍ دَ مضبوطولو دپاره قندهار نه چاپېر شهٔ.- دا ښهر دَ کامران صوبه دار خواجه کلان په یو لږ شان فوځ سره ساتهٔ.- اتهٔ میاشتو پوري دي امیر دَ باهر دَ خلقو مقابله وکړه.- په دي کښې کامران سره دَ شل زر فوځ راورسید.- دَ کامران دَ رارسیدو سره هرآتیانو قلابندي ماته کړه او سل میله ي لري دیره واچوله.- کامران خواجه کلان سره په شریکه دَ دښمن په فوځ حمله وکړه او هم دَ خواجه کلان په قابلتوب ي دښمن مات کړ هرکله چه په دي فتح کامران خپل دَ نورپریوانهٔ سرحد مضبوط

کړ نو لاهور ته واپس لاړ.

لیکن دې د خپل دښمن د زړه نه خبر نهٔ وهٔ. اُزبکیانو بیا په هرات حمله وکړه او لُوټ ئې کړ. طهماسپ بادشاه بیا د دوئ جنګ ته وپاریدهٔ. بادشاه ته د دوئ په زغلولو کښ څه ډیره خوارِي پیښه نهٔ شوه. چه هرات ئې له دښمنانو نه پاک کړ نو د نورو ځایونو د اخستو خیال ورته پیدا شهٔ. هغه خپل یاغِي وررور ځان سره کړ او په قندهار وروخوت. هغه وخت قندهار کښ د جنګ طاقت نهٔ وهٔ. نهٔ په کښې د جنګ سامان وهٔ او نهٔ فوځ. ځکه د قندهار ګورنر امیر خواجه خان دا فیصله وکړه چه ښهر بادشاه ته بریږدم. ځکه چه که څه نیمکړِي نیمه خوا جنګ وکړم نو هغه به ښهر تباه کړِي. خواجه خپل محل ښهٔ جوړ کړ او د میلمستیا سامان ئې تیار کړ نو بادشاه ته ئې ځواب وکړ چه زهٔ ستا د جنګ طاقت نهٔ لرم ځکه دا کار راته ښهٔ ښکارهِ شوَي دَي. چه زهٔ ټجپله د میلمه عزت نهٔ شم کولیَ نو ښهر ورته جوړ کړم او زهٔ ترِ وُزم. دا سوال جواب ئې وکړ نو خواجه کلان لاهور ته لاړ او بادشاه قندهار ته ننوت.

کامران د خپل قابل سپه سالار دا خبره خوښه نهٔ کړه. هغهٔ وُوِ چه د مقابلې کوشش بکار وهٔ. بیا د قندهار د اخستو دپاره کامران ډیر زر سره د فوځ راورسید. د ایران بادشاه په دې ورځو کښ د خپلې کډې ځاي ته واپس تلیَ وهٔ لیکن د قندهار د حفاظت دپاره ئې مضبوط فوځ پرېښیَي وهٔ. د څه

مَدي پوري دي سپاهیانو دَ کامران مقابله وکړه لیکن چه تنګ شول نو هغوئ تش په دي شرط ورته قلا پرېښوه چه په امن امان کښې مونږ تر ایرانه ورشو. کامران دي نه پس دَ قندهار مورچې مضبوطي کړي او لاهور ته بیا واپس لاړ.

تر دي وخته خو کامران دَ عقل کاروته وکړل لیکن دَ دي وجه دا وه چه دَ ده لا څه طمع نه وه پیدا شوي لکه چه دَ ورستنو کارونو نه ئې دا خبره معلومه شوه چه دَ ده تیر شوي کارونه دَ هغه وخته سره وُو. په ۹۴۷ ه ۱۵۳۸ء کښې دَ کامران دَ ورور همایون بادشاهي وُرکیده. همایون دا وخت په ځوسه کښې چه دَ کرمان او ګنګا په غاړه آباده ده، پروت وه. څه خو ئې دَ فوځ زړه مات وه او څه موسمي مرضونو تباه کړي وه. دلته په قطب او نورپرېواته ډېره کښې دَ شیرخان زورور فوځ دَ هغه لار بنده کړي وه. دَ قطب پلو په ضلعو کښې دَ همایون ورور هندال مخالف شوي وه او په آګره کښې ناست وه په دیلي باندې ئې دَ حملي کولو ویري تیرولي. په دي سخته ورځ کښې همایون دَ کابل دَ بادشاه کامران نه مدد وغوښت.

دَ کامران وَس کیده چه دَ همایون بادشاهي ئې ځچ کړي وي. دي دیلي ته راروان شه. چه دا ئې ولیدل چه همایون نه دَ ترهٔ زوي ډیلي تینګ کړي دي او آخستل ئې ګران دي نو نیغ آګري ته لاړ. هندال چه دَ ده دَ راتلو نه خبر شه نو وتښتید آګره ئې پرېښوه او خپلي صوبي میوات ته لاړ. دي

نه پس کامران شیرخان پسي لاړ. چه همایون ته پروت وه
دا وخت دَ هندوستان قِسمت دَ کامران په لاس کښ وه هغه
دَ دي جنګ په نتیجه پوه وه او آخر يې پرِ بجنیله بُدرِي بیامونډه
که چرِي شیرخان ته يې شکست ورکړِي وَي او ښهٔ پوهیدهٔ
چه دا څما دَ کجي کُتي کار دَي نو دَ دهٔ په خیال کښ بـه
له دي نه همایون ته فایده رسیدلي وَه. څله ورته بدنیتيَ
دا خبره وښودله چه دواړه ددي پریږده چه وجنګیږي. په
دويَ کښ چه څوک زورور شهٔ. هغهٔ سره به وکتَي شي.
دا خبره يې زړهٔ کښ واچوله او آکري ته واپس راغيَ. دوه
میاشتي پس همایون هم ورپسي راورسید خو کمه يې نهٔ وَه
کړي دَ یو تښتیدونکي په حاله کښ راغيَ. دَي په چوسه کښ
شیرخان په ۲۷ جون ۱۵۳۹ء وهلي وهٔ.

همایون سره دَ دیلي او دَ آکري او دَ دي دواړو دَ مینځ
دَ علاقي نه نور هیڅ څه پاتي شوي نهٔ وُو ولي څه مُده پس
يې دَ دي نه هم کُتي وختي.

دَ کومي ورځي نه چه دَ کامران به سترګو باندِ دَ حرص
پردي راښوري شوي وي دواړه ورونړه چرِي به اتفاق
شوي نهٔ وُو. اوس هم ورته ښه معلومه وَه چه که چرِي دَ
همایون سره کلک مدد وکړم نو دَ همایون بادشاهي او دَ بیلاد
نبه به م پاتي شي. لیکن طمع ورته دا لار وښودله چه دَ
مدد ورکولو په ځاي ورور ته دِیکه ورکړه. دَ دي مطلب

دپاره کامران هڅه وکړل ولې یو څو وفادارو نوکرانو د ده لښون
وانه وړیل او په تکړه زړه سره په دې وخت کښې هم د خپل
بادشاه سره ولاړ وو. کامران اوه میاشتې په آګره کښې بربادې
کړې. د ګرمۍ موسم آخر په تبه وغورزاوه چه تبې نه خلاص
شه نو ورور ئې یواځې پرېښود او لاهور ته راغې. شیرخان
چه همایون یواځې ولید نو د هغه ټول ملک ئې فتح کړ.
او چه دې نه وزګار شه نو لاهور ته ئې مخه وکړه. د کامران
بې فکرۍ او حرص آخر رنګ راوړ چه همایون شکست وخوړ
د یو څو یارانو سره لاهور ته راغې. د هغه په راتلو کامران ته
د فایدې نه نقصان شه. وړښې خو شیرخان د یوې صوبې
حاکم وه او د بادشاهۍ یو دروکې غوندې مدعي وه لیکن اوس
کامران ته هغه شیرخان جوړ شه چه د یوې پوره بادشاهۍ
مالک وه. او د هندوستان بادشاه منلې شه. اوس هم لا د
کامران دا خیال وه چه که زه وجنګیدم نو فتح یا شکست هرڅه
چه وي همایون به په کښې څما د پاسه وي ځکه چه دې مشر
ورور دې. د کامران له شیرخان نه همایون ډیر بد شه او په
دې فکر کښې ئې دا فیصله وکړه چه د پنجاب صوبه شیرخان ته
پرېږدم او ځپله په هغه غرونو کانړو باندې صبر وکړم. ځکه ده
شیرخان ته چه اوس شیرشاه شوې وه په دې شرط د صلح
سوال جواب ولیږه چه د پنجاب علاقه دې دې منظوره کړې.
او د دې په عوض کښې دې ما پرېږدې چه له اباسینه ــــه